# کيسې روايتونه

# پندونه عبرتونه

Ketabton.com

ليکوال: هاني السراج
ژباړن: محمد اسماعيل عندليب نبي خيل

کال: ۲۰۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خبرې

د مصري ليکوال هاني الحاج کتاب چې د الف قصة و قصة په نوم دی، د نيکانو او زاهدانو يو زر او يو کيسې او روايتونه پکې راټول شوي، ما د انټرنيټ له لارې په پي ډي ايف بڼه تر لاسه کړ، کيسې يې په زړه پورې او له پنده ډکې وې، له همدې امله مې په ژباړه پيل وکړ.
نوموړی د کتاب په سريزه کې وايي چې دا کيسې او روايتونه يې د بيلا بېلو کتابونو څخه غوره او راټول کړي، د خلاقو، غوره موخو، زړه نرمونکو پېښو، شرف، قربانۍ، ځوانمردۍ او ډول ډول موضوعاتو کيسې پکې شته، چې لوستونکو ته ګټه رسوي.
ما چې کتاب مې له سره تر پايه لوست، د خپل طبيعت او لنډې کيسې غوره کولې او ژباړلې، چې بالاخره يو سل او اوه کيسو او روايتونو ته ورسېدې.
بايد ووايم چې د روانۍ لپاره مې د ځينو کيسو عنوانونه بدل کړي، ځينې برخې مې پکې په توپير سره ليکلي، تر څو پښتنو لوستونکو ته روان او معنا لرونکي وي، همدا راز د ځينو اشخاصو په اړه مې لنډ معلومات راټول کړي، ځينې الفاظ مې تشريح کړي، او په لمنليک کې ځای ورکړی، د کتاب نوم ته مې هم بدلون ورکړی.
حتمي ده چې تېروتنې به لري، له وړاندې يې بښنه غواړم.

محمد اسماعيل عندليب "نبي خيل"

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شتمني نه لرم چې وصيت يې وکړم

د وفات پر مهال د حضرت عمر بن عبد العزيز رحمه الله يوولس زامن و، هر يو ته له خپله پلاره په ميراث کې نيم دينار او د دينار څلورمه برخه ورسيده، د وفات پر مهال يې خپلو زامنو ته وويل: ای زامنو! زه هيڅ ډول شتمني نه لرم چې په هکله يې وصيت وکړم.
د هشام بن عبد الملک څخه هم يوولس زامن پاتې شول چې هر يو ته د پلار له ميراثه زر زر ديناره ورسيدل.
خو د عمر بن عبد العزيز پر اولاد کله هم بې وزلي رانه غله، يو زوی يې داسې هم و چې د الله په لار کې يې د خپل شخصي مال څخه د الله د لارې سل زره جنګيال سنبال او هغوی ته يې سل زره اسونه ورکړل.
له بلې خوا د هشام بن عبد الملک په زامنو کې يو هم شتمن ونه ليدل شو، بلکه ټول فقيران وو.[1]

## حسن بصري او نصراني ګاونډی

د حسن بصري[2] يو نصراني ګاونډی و، د بام په سر يې تشناب درلود او هغه سوری شوی و، مرداري اوبه به څنې د حسن بصري کور ته څڅيدلې، حسن بصري به د څاڅکو لاندې لوښی کېښود، او سهار به يې ډک لوښی سهار تش کړ.
دا چاره له شلو کلونو راهيسې روانه وه.
يوه ورځ حسن بصري ناروغ شو او نصراني ګاونډی يې پوښتنې ته راغی، او دا حالت يې وليد.
نصراني وپوښتل: څومره موده کيږي چې تاسې زما له اړخه دا زيان ګالئ؟
حسن بصري ځواب ورکړ: له شلو کالو راهيسې.
په دې سره نصراني خپل زنار[3] وشکولو او مسلمان شو.

## پر مخ د بدلون د ننبو لامل

په داسې حال کې چې حضرت علي ناست و، د دويم خليفه حضرت عمر بن الخطاب په مجلس کې يو سړي په حضرت علي دعوه وکړه؛ حضرت عمر حضرت علي ته وکتل او ورته يې وويل:

---

[1] - عمر بن عبد العزيز او هشام بن عبد الملک سره دتره زامن و، او دواړه د اموي سلسلې خلفاء و، عبد العزيز او عبد الملک سره ورونه او د مروان زامن وو.

[2] - حسن بصري مشهور عالم دی، د نبوي هجرت په ۲۱ کال په مدينه منوره کې زيږيدلی، او په ۱۱۰ هجري کې وفات شوی، قبر يې د بصرې په ښار کې دی، مور يې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ميرمن بي بي ام سلمة په کور کې خدمت کاوه، هغه مهال چې حسن البصري ماشوم و، ام سلمة رضی الله عنها تی ورکړی دی. د خپل وخت محدث او قاضي و.

[3] -زنار هغه ننبه وه چې غير مسلمانو (يهودو نصاراوو) به په اسلامي هېواد کې په غاړه کې اچوله، څو وپيژندل شي، چې مسلمانان نه دي، دا حکم د عضرت عمر د خلافت پر مهال پلی شوی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای ابو الحسنه! پاڅه او د خپل خصم (مدعي) په څنګ کې کېنه.
علي پاڅېد ، د هغه سره کېناست او خبرې پېل شوې، له پرېکړې وروسته مدعي په خپله مخه ولاړ او حضرت علي خپل پخواني ځای ته راوګرځېد.
حضرت عمر د حضرت علي په مخ کې بدلون ولید؛ نو د بدلون پوښتنه یې وکړه چې ایا د هغه په رویه خفه شوی؟
حضرت علي وویل، هو.
نو عمر وویل چې د خفګان لامل څه دی؟
علي ځواب ورکړ:
د مدعي په مخ کې دې ماته زما په کنیه[۴] نوم (ابو الحسن) اواز وکړ، کاشکې چې ویلي دې وای پاڅه علي او د خپل خصم په څنګ کې کېنه.
حضرت عمر علي په غېږ کې ونیو، په مخ یې ښکل کړ او ورته وېې فرمایل: زما پلار دې ستاسې څخه ځار شي، ستاسې په سبب الله موږ ته لارښوونه وکړه او ستاسې په وجهه یې موږ له تیارو څخه رڼا ته راوویستو.

# اوربدل یې اړین دي

یوه ورځ حضرت عمر رضی الله عنه له جارود العبدي سره یوځای له مسجده راووت، پر لاره یوه میرمن ولاړه وه، دوهم راشد خلیفه حضرت عمر پرې سلام واچاوه، مېرمنې وویل:
ای عمره! لږ صبر وکړه، چې څو خبرې درسره وکړم.
حضرت عمر وفرمایل: وایه.
میرمنې وویل:
ای عمره! زه دې له هغه وخته پېژنم چې تاته به عُمیر[۵] ویل کېدل او د عکاظ په بازار کې به دې د ځوانانو سره غېږه نیوله، له هغې څه موده وروسته تاته عمر ویل کېدل پیل شول، او بیا لږې ورځې نه وې تیرې چې تاته امیر المؤمنین ویل کیږي، نو د رعیت په حق کې له الله تعالی څخه وویریږه او پوه شه! څوک چې له مرګه وورید ، په حقیقت کې له فنا کیدو وویرید.
جارود ښځې ته وویل:
ای! د امیر المؤمنین په مخ کې دومره جرأت.
عمر وفرمایل:
پرې یې اږده، دا نه پیژنې جاروده؟ دا خولة بنت ثعلبة ده، چې الله تعالی یې غږ له اسمانونو پورته هم واورید ،عمر ته ډیر مناسبه ده چې د هغې خبرې واوري.

---

۴ - کنیه نوم یعنی چې چاته د زوی په نسبت اواز وکړای شي لکه (ابو الحسن، ابو عمر، ابو ذکریا او داسې نور) په عربو کې د عزت لپاره هم کارول کیږي.
۵ - عُمیر، په عربي ژبه کې د عمر د تصغیر (کوچنی) صیغه ده، چې کله د چا نوم له مینې یا له غوصې کوچنی کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عمر مطلب دا ايت كريمه و ﴿قَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّتِي تُجَادِلُكَ فِي زَوْجِهَا وَتَشْتَكِي إِلَى اللَّهِ﴾ سورة المجادلة لومړی ايت.[٦]

# بركت پكې شته؟

طاووس[٧] روايت كوي چې د يو سړي څلويښت زامن وو، كله چې ناروغه شو، يو زوی يې نورو ورونو ته وويل چې يا يې تاسې په ناروغۍ كې خدمت وكړئ او له ميراثه يې برخه مه اخلئ، او يا به يې زه خدمت وكړم او له ميراثه يې برخه نه اخلم، ورونو يې وويل چې ته يې خدمت هم وكړه او برخه هم مه اخله.
دې زوی د خپل پلار خدمت كاوه، تر دې چې پلار يې مړ شو، د ميراثه يې هم څه تر لاسه نه كړل، يو وخت پلار په خوب ويني، پلار يې وويل چې فلاني ځای ته ورشه او سل ديناره ورځينې واخله.
زوی يې پوښتنه وكړه چې ايا په دې كې بركت شته هغه وويل نه.
سبا يې دغه خوب خپلې ميرمنې ته تير كړ، هغې ورته وويل چې ورشه او دينار تر لاسه كړه، بركت يې همدا دی چې ته كار پرې وكړې او ژوند روان كړې؛ خو هغه انكار وكړ.
بله شپه يې بيا په خوب كې پلار وليد هماغه خبره يې ورته وكړه، ده خپله پوښتنه تكرار كړه، او پلار يې هماغه پخوانی ځواب وركړ، چې بركت پكې نه شته.
سبا يې خپل خوب ميرمنې ته تير كړ، هغې پرونۍ خبره وكړه؛ خو ده بيا هم انكار وكړ .
په دريمه شپه يې بيا پلار په خوب وليد او ورته يې وويل چې فلاني ځای ته ورشه او يو دينا واخله، ده پوښتنه وكړه چې ايا خير پكې شته؟ پلار يې وويل هو.
سبا ولاړ او يو دينار يې تر لاسه كړ، بازار ته ولاړ، بازار كې يې وليدل چې يو سړي سره دوه كبان دي، پوښتنه يې ځينې وكړه چې په څو يې خرڅوي، هغه وويل په يو دينار، دوه كبان يې په يو دينار واخستل او خپل كور ته راغی، كبان يې وڅيرل، كه ګوري چې دوه ناياب ملغلرې پكې دي.
د وخت پاچا د يوې ملغلرې پسې ګرځېدو، او دا ملغلره له ده پرته د بل هيچا سره ونه موندل شوه، پاچا ورڅخه په ديرشو قچرو بار سرو زرو واخيستله؛ خو كله چې يې وليدله؛ نو ويې ويل چې دا ملغلره خو يوازې ښه نه ښكاري، څو يې خور (جوړه) نه وي، د دې جوړه هم پيدا كړئ، ولو كه د پخوانۍ د قيمت په څو چنده وي.
د پاچا اسازې بيا ورته راغلل او ويې ويل چې د هغې ملغلرې جوړه لرې چې په قيمت كې به يې څو چنده زيات وركړل شي؟
او په دې توګه يې دويمه ملغلره د لمړۍ په دوه چنده قيمت وپلورله.

---

[٦] - كه څه هم د كتاب ليكوال (خولة بنت حكيم) ليكلی چې دغه ايت يې په اړه نازل شوی، خو مفسرين ليكي چې د هغې ميرمنې نوم خولة بنت ثعلبة رضی الله عنها وه.

[٧] - ابو عبد الرحمن طاووس بن كيسان اليماني مشهور تابعي، د حديثو راوي، او فقيه عالم دی، چې په ١٠٦ هجري كال كې وفات شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امام بخاري ازمايل کيږي

د حديثو د مشهور کتاب صحيح البخاري مصنف محمد بن اسماعل البخاري[٨] بغداد ته ولاړ، هلته د حديثو په علم کې مشغول خلک ورځخه خبر شول، هغوی د يو منظم پلان سره سم يو شمير احاديث سره راټول، د هغی متنونه او سندونه يې سره ګډوډ کړل، د يو متن مخ ته يې د بل حديث سند راوست، د يو سند مخې ته يې د بل حديث متن راوست او داسې يې لس کسان وګمارل، هر يو ته يې داسې ګډوډ شوي لس لس احاديث ورکړل، او دنده يې ورته وسپارله کله چې امام بخاري مجلس ته راشي، دوی دې دا د متن او سند له اړخه سره ګډوډ کړای شوي احاديث هغه ته وړاندې کړي.

د بغداد محدثينو د امام بحاري سره د مجلس وخت هم وټاکه، مجلس ته يو شمير خراساني محدثين هم راغلل، د بغداد پر محدثينو سربېره د بغداد عام خلک هم حاضر و، کله چې مجلس پيل شو؛ نو مؤظفو کسانو له جملې يو تن د يو حديث په هکله له امام بخاري پوښتنه وکړه.

امام بخاري ورته وويل دا حديث ماته نه دی معلوم، بيا د بل حديث پوښتنه وشوه، امام پخوانی ځواب ورکړ.

هغوی همداسې يو د بل پسې پوښتنې کولې ځو ټولو لسو کسانو خپل ټول احاديث بيان کړل، او د امام بخاري همدا يو ځواب و چې: دا حديث ماته نه دی معلوم.

يو شمير پوه او بافهمه کسان وپوهېدل چې اما بخاري د احاديثو د متنونو او سندونو په ګډوډولو پوه شوی دی، خو ځينې چې په احاديثو کې د امام بخاري له علم څخه ناخبره وو، پر امام يې د کم پوهۍ او عجز قضاوت کاوه.

لسو کسانو خپل ټول احاديث وړاندې کړل، او هر يو ته د امام ځواب هماغه و چې «راته نه دی معلوم».

کله چې امام بخاري پوه شو چې احاديث تمام شول؛ نو لمړي تن ته يې مخ کړ او ورته يې وويل ستا لمړی حديث دا ډول و، دويم حديث دې دا ډول، دربيم دا ډول، څلورم دا تر دې چې هغه ټول لس يې ورته هغه ډول تکرار کړل چې هغه ويلي و، او بيا يې هر متن خپل سند ته راووړ او ټول سندونه يې خپلو متنونو ته يوړل.

د نورو نهو تنو سره يې هم همداسې وکړل او د ټولو سلو احاديثو متون يې خپلو سندونو ته راوګرځول، او په دې توګه هغو ناخبرو خلکو هم د امام بخاري په علم او د حافظې په قوت اعتراف وکړ، چې تر اوسه هغه کم فهمه باله.

# د شهيدانو مور

عفراء بنت عبيد بن ثعلبة مسلمانه شوه او د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره يې بيعت وکړ ، د هغې اوه زامن وو، ټولو د بدر[٩] په غزا کې د مسلمانانو په صف کې ګډون درلود.

---

[٨] - محمد بن اسماعيل البخاري د حديثو د مشهور کتاب صحيح البخاري راټولوونکی دی، هغه نه يوازې د احاديثو عالم و، بلکې يو فقيه، د رجالو، جرح او تعديل او علل په علم کې هم لوړه مرتبه لري. نوموړی په ۱۹۴ هجري کال کې په بخاری کې زېږېدلی او په ۲۵۶هجري کال کې وفات شوی دی.

[٩] - د بدر غزا د هجرت په دويم کال د رسول الله په مشرۍ د مسلمانانو او مکې د مشرکانو تر منځ شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عفراء لمړی د حارث بن رفاعة سره واده وکړ چې معاذ او معوذ دوه زامن يې له دې ميړه وزيږېدل، بيا مکې معظمې ته ولاړه، هلته يې د بکير بن عبد ياليل سره واده وکړ او درې زامن هر يو خالد ، اياس، عاقل او عامر يې وزيږول او هغه طلاقه کړه.

بيرته مدينې منورې ته ستنه شوه، او يوځل بيا د حارث بن رفاعة سره د نکاح په مزې وتړل شوه، له هغه يې د عوف په نوم يو بل زوی وزېږېد.

ټول د بدر په غزا کې د مسلمانانو په توګه شريک وو، معاذ، معوذ او عاقل د بدر په جګړه کې په شهادت ورسيدل، خالد يې د رجيع[10] په جګړه کې شهيد شو، عامر يې د بئر معونة[11] په جنګ کې شهيد او اياس زوی يې د يمامه[12] په جګړه کې په شهادت ورسيد.

# پند

د عراق په ښار بصره کې يو عابد اوسيده چې له خدايه وېره او پرهېزګاري يې وروستي حد ته رسيدلې وو، ژړا ناروغ کړی او سست کړی و، د زنکدن پر مهال يې کورنۍ ترې چار چاپېره ناسته او ژړل يې. عابد د کېنستو غوښتنه وکړه، کله چې راکېنول شو، پلار ته يې مخ کړ او ويې ويل:

پلارجانه! ته ولې ژاړې ؟

له دې کبله چې تا له لاسه ورکوم، او له تا وروسته يوازې کېږم.

عابد مور ته مخ کړ او ورته يې وويل تا څه شی ژړوي؟

زويه! ځکه ژاړم چې د بوربډو تراخه غړپوم.

له مېرمنې يې وپوښتل ته ولې ژاړې؟

ځکه چې ستا نيکي له لاسه ورکوم، او ستا څخه غير بل چاته اړ کېږم.

بيا يې اولادونو ته وويل چې تاسې په څه ژړا کوئ؟

د يتيموالي او له تا وروسته د سپکاوي په سبب.

عابد دوی ټولو ته وکتل او خپله يې په ژړا پېل وکړ، کورنۍ د ژړا د سبب پوښتنه وکړه، عابد ځواب ورکړ:

ځکه چې تاسې ټول د خپل ځان لپاره ژاړئ، تاسې کې يو هم داسې نه شته چې زما پر اوږد او سخت سفر وژاړي؟ ايا داسې څوک درکې نه شته چې په دې سفر کې زما د توښې په کمښت ژړا وکړي؟ ايا داسې څوک نه شته چې پر خاورو زما د ځای له کبله ژړا وکړي؟ داسې څوک نه شته چې له دې کبله اوښکې تويې کړي چې زه د بد حساب سره مخ کيدونکی يم؟ او داسې څوک نه شته چې د پالونکو رب په وړاندې زما په ودريدلو وژاړي؟

عابد د دې خبرې سره پر مخ راوغورځېد او چې وکتل شو ساه يې ورکړې وه.

---

[10] - د رجيع جنګ د نبوي هجرت په څلورم کال پېښ شوی، دايوه سريه وه چې رسول الله استولې وه، مشري يې عاصم بن ثابت کوله، دا هغه جنګ و چې خبيب بن عدي پکې د مشرکانو په لاس بندي شو، او په خورا فجاعت سره په شهادت ورسول شو.

[11] - د بئر معونه پېښه هم د نبوي هجرت په څلورم کال رامنځته شوې وه،دا هم سريه وه چې مشري يې مشهور صحابي منذر بن عمرو کوله.

[12] - يمامې جنګ د هجرت په يوولسم کال د ابو بکر الصديق رضی الله عنه په خلافت کې د مسلمانانو او هغو کسانو تر منځ پېښ شوی و، څوک چې د رسول الله له وفات وروسته له اسلامه اوښتي او مرتد شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تر تا غوره چا بللي يم

سعيد بن ابي عروبة ويلي:
يو ځل حجاج بن يوسف حج ته ولاړ، د مکې او مدينې تر منځ يوه سيمه کې ورته غرمه ناری راوړل شو، خپل دربان ته يې وويل:
څوک راوله چې زما سره ډوډۍ وخوري.
دربان بهر ووت، يو کليوال يې د خوب په حالت کې وليد، هغه يې په لغته وواهه، او ورته يې وويل چې امير دې غواړي.
دواړه حجاج ته ورغلل، حجاج کليوال ته وويل چې لاسونه مينځه او زما سره غرمه ناري وکړه.
کليوال وويل ماته خو له تا يو غوره چا بلنه راکړې ده.
حجاج:
هغه څوک دی؟
الله د روژې بلنه راکړې وه، نو د هغه بلنه مې ومنله.
حجاج:
په دې سخته ګرمۍ کې؟
هو، او ما له دې په سخته ګرمه ورځ هم روژه نيولې ده.
حجاج:
نن روژه ماته کړه او سبا به روژه شې.
په دې شرط که ته ماته تر سبا د ژوند ضمانت راکړې.
حجاج:
دا خو نه شم کولای.
نو بيا ولې له ما پر وعده يو څه غواړې او د وعدې پوره کولو واک هم نه لرې.
حجاج:
زمونږ خوراک پاک دی.
اعرابي:
تا يا ستا پخوونکي نه دی پاک کړی، بلکې پاکوالی يې روغتيا ده.

# د ښځو وفاء او خيانت

ويل کيږي د يوې ښځې ميړه مړ شو، هغه پرې دومره ډيره خفه شوه چې هر چا به ليدله فکر يې کاوه چې د خپل وخت خنساء ده، د ميړه له خښولو وروسته د هغه قبر سره ديره شوه او د کونډتوب ژړا به يې کوله.
د تصادف له مخې په دې وخت کې د همدې ښار پر يو اوسيدونکي د اعدام حکم وشو، او تر اعدام وورسته د نوموړي ميرمنې د ميړه له قبر سره نژدې اعدام کړای شو، حکومت پرې يو پهره دار ودرولو څو د اعدام شوي تن مړی ونه تښتول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساتونکي یو مهال ښځه ولیدله چې ډېره ترخه ژړا یې کوله، په زړه کې یې وویل چې باید دې ښځې ته ورشم، او وګورم چې ولې دومره ژاړي.
ورغلو، د ژړا د سبب پوښتنه یې وکړه، هغې د میړه د مرګ خبر ورکړ او هغه غم یې ورته څرګند کړ چې په زړه کې یې و.
ساتونکي وویل:
الله دې مه ژړوه، ایا نه پوهیږې چې هر ژبېږېدلی له مرګي نه خلاصیږي، هر څه چې وشول شوي به وي، زه درسره واده کولو ته چمتو یم.
ښځه خوشاله شوه او د میړه غم یې هیر شو او په نوي میړه خوشحاله شوه.
ساتونکي وویل:
راځه چې ځو او واده وکړو، خو کله چې ساتونکی د اعدام شوي سړي قبر ته ورغلل ویې لیدل چې جسد نه شته، ساتونکی له ویرې ولړزید او ویې ویل چې حاکم به په ما څه کوي؟
خو ښځې ورته وویل چې راځه زما د میړه جسد له قبره راوباسو، د هغه په غاړه کې به پړی واچوو، او اعدام شوی به یې معرفي کړو.
دواړه ولاړل او دا کار یې وکړ، خو لږه موده وروسته حاکم په حقیقت خبر شو، ښځې او سړي ته یې د خپل جرم سزا ورکړه.

# د شیدو پلورونکې

دا عمر بن الخطاب رضي الله عنه دی چې د خپل زوی عاصم لپاره د میرمنې په توګه د شیدو د خرڅوونکې غوره کول په حسب او نسب نه تلي، مال او حیثیت ته نه ګوري، بلکې ټول هغه څه تلي چې هغې نیکې او ښې پیغلې څرګند کړل، او هغه په الله ایمان، په ښکاره او پټه د هغه ذات په څارنه ایمان، په دې یقین درلودل چې له الله تعالی ډېر پټ شی هم نه پټیږي،تر دې چې د الله په عبادت کې د احسان حالت ته ورسیدله، سره له دې چې هغه په نازک حالت کې وه، د مال او حیثیت له کبله فقیره وه، د الله عبادت داسې کوي لکه چې هغه یېویني، که هغه خپل رب نه ویني، رب خو دا ګوري.
یوه شپه حضرت فاروق رضي الله عنه د خپل رعیت احوال پوښتنه کوله، د یوې ښځې څخه یې واوریدل چې خپلې لور ته یې ویل:
پاڅېږه! او په شیدو کې اوبه ګډې کړه.
لور یې ځواب ورکړ:
مور جانې! ته د امیر المؤمنین له پریکړې نه یې خبره ؟
مور یې وویل:
کومه پرېکړه؟
هغه اعلان کړی چې هیڅوک به شېدو کې اوبه نه ګډوي.
مور یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای لورجانې! پاځیږه او شیدو کې اوبه ګډې کړه، ته داسې ځای کې یې چې عمر دې نه وینې، او نه دې د عمر کوم مامور وینې.
لور یې سمدستي ځواب کړه:
مور جانې! که عمر نه خبریږي، د عمر خدای خو خبریږي، په الله قسم زه داسې نه یم چې د خلکو په وړاندې یې اطاعت وکړم او په یواځیتوب کې یې سرغړونه وکړم.
سبا عمر رضی الله عنه خپل زوی عاصم ته وویل:
فلانې ځای ته ولاړ شه، هلته یوه انجلۍ ده، که واده شوې نه وه، نکاح ورسره وکړه، کیدای شي الله تعالی ورځخه ښه اولاد درکړي.
د حضرت عمر فراست ریښتینې شو، عاصم له هغې انجلۍ سره واده وکړ، له هغې یې یوه لور وزیږېده چې (ام عاصم) نومېده، هغه یې عبد العزیز بن مروان ته په نکاح کړه، او عبد العزیز ته الله تعالی د ام عاصم له نس ځخه یو زوی ورکړ چې عمر بن عبد العزیز نومیدو، هغه عادل امیر رحمه الله تعالی ورضي عنه عمر بن عبد العزیز.

# د ښځې راز ساتنه

د ادب کتابونه نقل کا چې یو سړي په خپله کرونده کې د کښت پر مهال د سرو زرو ډکه کټوه پیدا کړه، خورا زیات خوشحاله شو.
غوښتل یې خپلې میرمنې ته خبر ورکړي؛ خو په زړه ورتیره شوه چې ښځې له زیات نه زیات مهم او خطرناک راز هم نه شي ساتلی؛ نو که خبره یې کړم راز به افشاء کړي، حاکم ته به خبر ورسیږي او هغه به له ما د سرو زرو کټوی واخلي.
پریکړه یې وکړه چې تر خبرولو دمخه خپله میرمن وازمایي، د شپې یې د خپلې بسترې سره نږدې یوه هګۍ پټه کړه، سبا یې مېرمنې ته وویل، تاته یو ستر راز وایم، خو شرط دا دی چې هیچاته به یې نه وایې، ایا دا ستر راز ساتلی شې؟
میرمنې یې سینه ووهله چې په راز ساتلو کې ډېره کلکه ده.
کروندګر وویل:
زه هره شپه د یوې نا اشنا پیښې سره مخ کیږم، هر سهار چې راویښ شم، ګورم چې یوه هګۍ مې اچولې وي، او وګوره دا زما هګۍ ده، تر اوسه مې له تا دا خبره ځکه پټه ساتلې وه، چې ویریدم چاته به ووایې، خو اوس ځکه درته وایم چې پوهېږم په تا باور کولای شم، خو پام چې هیچاته به نه وایې.
میرمنې وویل چې بیغمه بې غمه وه.
میږه یې له کوره ووت، لاځو قدمه لرې شوی نه و، چې د میرمنې په زړه یې خبره درنده شوه، د کور بام ته پورته شوه، ګاونډۍ ته یې اشاره وکړه، چې هغه ورنږدې شوه، ورته یې وویل:
ژمنه کوې چې زما راز به پټ ساتې؟
ګاونډۍ هومره کلکه ژمنه وکړه لکه دې چې د خپل مېړه سره کړې وه، د کروندګر مېرمنې وویل:
زما میړه هره شپه دوه هګۍ اچوي، ما په خپلو سترګو لیدلي، زه ډیره حیرانه شوم، میړه مې راته ویلي چې دا راز پټ وساتم، له تا هیله کوم چې هیڅوک خبر نه کړې.
ګاونډۍ یې وویل هېڅ اندېښنه مه کوه، دا راز به داسې ساتم لکه تا چې ساتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کروندګر ګاونډۍ د خپلې بلې همسایه کور ته ورغله او ورته يې وويل:
ای خورجانې! پوهيږې چې زمونږ د ګاونډۍ ميږه هره ورځ لس هګۍ اچوي، نن سهار د هغه ميرمنې ماته خپله وويل؛ خو راباندې يې ټينګار کړی، چې چاته به نه وايم، زه هم تاته په دې شرط دا خبره کوم چې دا راز به پټ ساتې.
هغې ګاونډۍ ورته وويل چې بس ژمنه ده.
شيبه وروسته دې دريمې ګاونډۍ چادرې په سر کړه، او د خپلې بلې ملګرې کره ولاړه، د سړي په هګۍ اچولو يې خبره کړه، خو له لسو يې شل جوړې کړې.
دغه خبر خوله په خوله له يوې ښځې، بلې او له بلې بلې ته تلو او لس لس هګۍ به پکې زياتيدې، د مازديګر لمر لا نه و ډوب شوی چې د هګيو شمير سلو ته ورسيد، او حاکم خبر شو، او هګۍ اچوونکی سړی يې راوغوښت.
حاکم ورته وويل: ای سړيه! ته څنګه هره ورځ سل هګۍ اچوې؟
کروندګر ګويا شو:
صاحبه! ايا ته دا منې چې يو انسان دی د چرګې په څير هره ورځ هګۍ واچوي، زما په کيسه کې يو غټ راز پروت دی، که د سر امان مې وي وايم يې.
حاکم اجازه ورکړه، کروندګر د سرو زرو د کټوۍ د موندلو کيسه وکړه، او د همدې زرو له لاسه نه وتلو لپاره يې د مېرمنې د ازميښت په موخه د هګۍ د اچولو خبره وکړه، خو صاحبه! ته ګورې چې لا ورځ نه ده تېره او ټول ښار خبر شو، او له يوې هګۍ سل جوړې شوې.

## بايد زه تاته راشم

ابن عباس رضي الله عنه[۱۳] فرمايي کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفات شو، ما د انصارو يو سړي ته وويل:
راځه چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم له اصحابو پوښتنې وکړو، هغوی نن ډېر زيات دي، هغه راته وويل:
ابن عباسه! تاته حيران يم، ته فکر کوې چې خلک به تاته هم اړ شي، په داسې حال کې چې د هغوی په منځ کې د رسول الله اصحاب موجود دي؟
ابن عباس وايي:
ما هغه پريښود، او د رسول الله صلي الله عليه وسلم د اصحابو څخه مې پوښتنې پيل کړې، که ماته به ورسيدل چې فلانې سړي سره حديث دې، د هغه دروازې ته به ورغلم، که هغه به اوده و، ما به د هغه په دروازه خپل څادر ته تکيه ووهله، او باد به خاورې په ما راشيندلې، کله به چې هغه سړې راووت او زه به يې وليدم نو راته به يې وويل:
ای د رسول الله د تره ځويه! څه له راغلی يې؟ ماپسې به دې څوک استولی و، زه به درغلې وم ؟ نو ما به ورته وويل:
نه، زه بايد تاته راشم.

---

[۱۳] - عبدالله د رسول الله صلى الله عليه وسلم د اکا عباس زوی و، له نبوي هجرت درې کاله دمخه زېږېدلی و، چې کوچنی و رسول الله ورته دعا کړې وه، ابن عباس يو ستر مفسر و، د ترجمان القرأن لقب يې ګټلی و، په ۶۸ هجري کال د ۷۱ کلنۍ په عمر کې په طائف کې وفات شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن عباس وايي چې بيا به ما ورځخه د حديث پوښتنه کوله، هغه انصاري يوه ورځ زه وليدلم چې خلک مې شا او خوا راټول وو، او پوښتنې يې رانه کولې نو ويې ويل:
دا زلمی تر ما هوښيار و.[14]

## له قضاء تېښته

ابن سيرين[15] ويلي:
مونږ د ابو عبيدة بن ابو حذيفة سره د هغه په ختېينه جونگړه کې ناست وو، د هغه په مخ کې يو نغری ايښی و چې اور پکې بليده، يو تن راغی او د هغه سره څنگ کې د هغه په بستره کېناست، او هغه ته يې په غوږ کې پټ څه وويل، مونږ نه پوهيدو چې څه يې ورته وويل.
ابو عبيده ځواب ورکړ:
زما لپاره خپله گوته په دې اور کې کېده، هغه سړي وويل:
سبحان الله، ايا ته ماته امر کوې چې زه خپله گوته ستا لپاره په اور کې کېږدم؟
ابو عبيدة وويل:
ايا ته زما لپاره د خپلې يوې گوتې د دنيا په اور کې کېښودلو ته چمتو نه يې، او له ما غواړې چې خپل ټول جسد ستا لپاره د جهنم په اور کې کېدم.
ابن سيرين وايي موږ پوه شو چې هغه ته يې د قضا د منصب منلو خبره کړې ده.

## د نبي په خبرو د ملنډې کونکي سزا

ابو داود السجستاني[16] ويلي:
د حديثو يو کمزوري زده کوونکي د رسول الله دا حديث واوريد چې ﴿إِنَّ الْمَلائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضًا بِمَا يَصْنَعُ﴾، دې سړي په خپلو پوندو کې ميخونه کېښودل او ويې ويل:
غواړم د ملايکو وزرې تر پښو لاندې کړم، په پښو کې يې داسې ناروغي پيدا شوه چې د پښو د پرې کېدو سبب يې وگرځېد.

---

[14] - هغه انصاري ته د ابن عباس د خبرې مطلب دا و، چې راځه د رسول الله له اصحابو زده کړه وکړو، هغوی اوس شته، سبا به نه وي، خو د هغه سړي د ځواب مطلب دا و چې ته اوس د زده کړې پسې گرځې، او داسې گومان کوې چې د رسول الله ملگري به نه وي او خلک به تا ته د خپلو شرعي احکامو په اړه پوښتنې راوړي، خو ابن عبدالله ابن عباس خپلې هڅې ته دوام ورکړ، او بريالی شو.
[15] - محمد ابن سيرين مشهور تابعي، د تفسير، حديثو، فقهې او په ځانگړې توگه د خوبونو دتعبير لوی عالم دی، د هغه پلار د مشهور صحابي انس بن مالک مريی، او مور يې صفية د ابو بکر الصديق وينزه وه، چې انس بن مالک يې پلار او مور يې ابو بکر ازاد کړي وو، محمد ابن سيرين د حضرت عمر بن الخطاب د خلافت په وروستيو ورځو کې زېږېدلی او په ۱۱۰ هجري کال کې په ۷۷ کلنۍ کې وفات شوی.
[16] - ابو داود السجستاني، د حديثو د مشهور کتاب (سنن ابو داود) راټولوونکی دی، له پنځلسو زيات نور کتابونه يې هم ليکلي دي، په ۲۰۲ هجري کال کې زېږېدلی، او په بصره کې په ۲۷۵ هجري کال کې له نړۍ کوچېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ته يو مشرک يې

ابو سفيان بن حرب[۱۷] په داسې حال کې مدينې منورې ته ورسيد ، چې رسول الله پر مکه مکرمه د بريد تابيا نيوله، ابو سفيان غوښتل په همدې اړه ورسره خبرې وکړي، او د حديبيې د صلحې[۱۸] موده وغزوي؛ خو رسول الله صلي الله عليه وسلم موافقه ونه کړه، ابو سفيان خپلې لور ام حبيبة رضی الله عنها[۱۹] ته ورغلو چې د رسول الله ميرمن ده.

ابو سفيان د ام حبيبې په کور کې د رسول الله په بستره کېناستو؛ خو لور يې ځنې راټوله کړه، پلار لور ته وويل: لور جانې! ايا ته د دې بسترې له کبله له ما لرې شوې، او دا نه خوښوې چې زما لپاره له دې بسترې ځان ګوښه کړې؟

ام المؤمنين ام حبيبة ځواب ورکړ:

داسې نه ده، بلکې دا د رسول الله بستره ده او ته يو نجس مشرک سړی يې.

ابو سفيان وويل:

لور جانې! چې له ما جلا شوې يې بدله شوې يې.

# شتمني به مې نه وي او حماقت به مې پاتې وي

اصمعي[۲۰] وايي:

ما يو ماشوم عربي ماشوم ته وويل: ايا ته خوشحاليږې چې سل زره درهمه درسره وي او ته احمق يې؟

هغه وويل، نه

---

۱۷ - ابو سفيان صخر ابن حرب د قريشو يو سردار او مخور شخص و، هغه د مکې معظمې د فتحې په کال مسلمان شو، چې له هغې وروسته يې په ډېرو جنګونو کې شرکت وکړ، د حنين په جګړه کې د رسول الله تر څنګ ولاړ و، او جنګېدو، عمر يې دا مهال اويا کاله و، د عثمان رضی الله عنه د خلافت پر مهال په مدينه منوره کې وفات شوی. ابو سفيان بن حرب د معاويه رضی الله تعالی عنه پلار و، لور يې ام حبيبة د رسول الله مېرمن وه.

۱۸ - صلح حديبية د هجرت په شپږم کال د رسول الله او مکې د خلکو تر منځ شوې وه، رسول الله غوښتل دا کال عمره وکړي، او مکې مکرمې ته ولاړ شي، روان شول، د حديبيه سيمې ته ورسېدل، او له هغه ځايه يې مکې ته عثمان بن عفان رضی الله عنه واستاوه چې د مکې خلک پوه کړي، چې موږ عمرې ته راغلي يو جنګ ته نه، خو عثمان هلته ځنډ شو، او خپره شوه چې هغه مشرکانو وژلی دی، نو دلته رسول الله له ملګرو څخه د جنګ لپاره بيعت واخيست، او کله چې د مکې مشرکان خبر شول، چې جنګ کېدونکی دی، نو د سولې وړانديز يې وکړ، او بيا د دواړو خواوو تر منځ پر يو لړ شروطو موافقه وشوه.

۱۹ - ام المؤمنين ام حبيبة رملة بنت ابي سفيان له لومړيو مسلمانانو او مهاجرينو څخه ده، هغه د عبيد الله بن جحش په نکاح کې وه چې دواړه حبشې ته مهاجر شول، مېړه يې هلته وفات شو، له کونډتون وروسته رسول اله د حبشې بادشاه نجاشي ته پر هغې مرکه وکړه، په دې نکاح کې د ام حبيبة وکيل خالد بن سعيد بن العاص و، مهر يې څلور سوه ديناره وټاکل شو، چې نجاشي اداء کړ. په اوم هجري کال د رسول الله سره د نکاح په مزي وتړل شوه، دا مهال د ام حبيبة عمر شپږ دېرش کاله وو، د هجرت په **۴۴** کال په مدينه منوره کې وفات شوې ده.

۲۰ - عبد الملک بن قريب بن عبد الملک بن علي بن اصمع چې په (اصمعي) شهرت لري، د عربي ژبې شعر او علم البلدان مشهور امام دی، ګڼ کتابونه يې ليکلي، په ۲۰۸ هجري کې په بصره کې وفات شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وويل ولې؟
هلک ځواب راکړ:
وېرېږم چې حماقت به په ما داسې ګناه وکړي چې مال به رانه يوسي او حماقت به بيا هم زما سره پاتې وي.

## د عبد الله بن مبارک د پلار واده

د مرو[۲۱] رئيس او قاضي نوح بن ابو مريم نومېدو، هغه ډېر شتمن، له هر ډول نعمته برخمن او هوسا ژوند يې درلود، يوه ډېره ښايسته، زيرکه او د کمال څښتنه لور يې درلوده، ډېر غټو، شتمنو او رئيسانو خلکو پرې مرکې وکړې، خو يو هم د نوموړې ميرمنې سره په واده برېالی نه شو، پلار يې حيران و، چې کوم يو ته يې واده کړي، او فکر يې کاوه که هر يو ته لور واده کړي، بل به ترې خفه شي.
قاضي يو هندي غلام درلود چې ډېر ديندار او متقي انسان و، نوم يې مبارک و، نوح بن مريم يو باغ درلود، چې ښه اباد او ډېرې ميوه دارې ونې پکې وې، يوه ورځ نوح خپل غلام ته وويل:
هغه باغ ته ولاړ شه او ساتنه يې کوه.
هندي غلام په باغ کې دوه مياشتې تېرې کړې، يوه ورځ يې بادار باغ ته ورغی او ورته يې وويل:
ای مبارکه! ماته د انګورو يو وږی راوړه، هغه ورته يو وږی ورکړ؛ خو بادار يې وليدل چې انګور يې تروشه دي، قاضي نوح د بل وږي غوښتنه وکړه، هغه بل ورکړ؛ خو هغه هم تروش و، بادار پوښتنه وکړه:
څه علت دی چې ته د دې ستر باغ نه ماته يوازې او يوازې تروشه انګور راکوې، هغه ورته ځواب کې وويل:
ځکه چې زه د تروشو او خوږو فرق نه شم کولای.
قاضي:
سبحان الله، ته له دوه مياشتو په دې باغ کې ميشت يې، او تر اوسه د تروشو او خوږو فرق نه شې کولای.
مبارک:
رېښتيا دا دی باداره! چې ما تر اوسه له دې باغه انګور نه دي څکلي، چې پوه شم کوم خوږ او کوم تروش دی.
نوح: ولې يې نه خورې؟
مبارک:
ځکه چې تا ماته د دې په ساتلو امر کړی، په خوړلو نه؛ نو ماتا سره خيانت نه شو کولای.
قاضي حيران شو او ورته يې وويل:
الله دې تا ته ستا امانت وساتي.
قاضي پوه شو چې غلام عاقل سړی دی؛ نو ورته يې وويل:
پر ما ګران شوې، او ته بايد هغه څه وکړې چې زه درته امر کوم.
مبارک اطاعت وکړ، او ويې ويل:
زه د الله او ستا د امر منونکی يم.

---

[۲۱] - مرو يو لرغونی او مشهور ښار دی، په پخوانيو پېړيو کې يې په ماوراء النهر کې ستر اهميت درلود، اوس د ترکمنستان هېواد يوه برخه ده، د افغانستان په شمال کې بهېدونکی د مرغاب رود همدې ښار ته بهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي:

زه په کور کې يوه ښکلې لور لرم، ډيرو غټو او لوړو خلکو پرې مرکه کړې؛ خو زه نه پوهيږم چې چاته يې په نکاح ورکړم، ستا مشهوره څه ده؟

مبارک:

ته خو پوهېږې چې د جاهليت په زمانه کې به خلکو اصل، نسب او حسب ته کتل، يهودو به ښکلا او ښايست غوښت، او د رسول الله په زمانه کې به خلکو دين او تقوی غوښتله، خو زموږ په دې زمانه کې خلک مال غواړي، نو ته هم بايد د دې څلورو شيانو له منځه خپله خوښه انتخاب کړه.

قاضي:

ای زويه! ما دين او تقوی غوره کړه، او غواړم چې خپله لور تاته په نکاح کړم؛ ځکه چې په تا کې مې دين او اصلاح وموندل، او ستا څخه مې تقوی او امانت وليد.

مبارک: باداره! زه يو هندي غلام بنده يم، تا په خپل مال اخيستی يم، ته نو ماته څنګه خپله لور په نکاح راکوې، او څنګه ما د خپلې لور لپاره غوره کوې، او ما ورته خوښوې؟

قاضي:

پاڅه چې کور ته ځو، او د کار سرشته ونيسو.

کله چې کور ته ولاړل، قاضي خپلې ميرمنې ته وويل:

دغه هندی غلام متقي او ديندار دی، زه غواړم خپله لور ورته په نکاح کړم ته څه وايې؟

هغې وويل:

ستا خوښه ده؛ خو لومړی بايد له نجلۍ وپوښتم او تاته به د هغې ځواب هم راوړم.

مور لور ته د پلار پيغام ورساوه، هغې وويل:

تاسې چې راته په هر څه امر کوئ زه يې منم، زه به د الله تعالی او ستاسې له امر ه مخ ونه ګرځوم، زه به ستاسې دا نافرماني ونه کړم چې د امر مخالفت مو وکړم.

قاضي خپله لور خپل غلام مبارک ته واده کړه، او ډير مال يې هم ورکړ، نو د دې مبارک واده ثمره عبد الله بن مبارک[۲۲] و، څوک چې د علم، زهد او د حديثو روايت کې لوړ مقام ته ورسيد.

## او هرمزان مسلمان شو

کله چې هرمزان[۲۳] عمر بن الخطاب رضی الله عنه[۲۴] ته د بندي په توګه راوستل شو، ورته وويل شول:

---

[۲۲] - عبد الله بن مبارک يو ستر امام او مجهد دی، په ۱۱۸ هجري کال په مرو کې زېږېدلی، که څه هم په پورته روايت کې د هغه پلار هندی ښودل شوی، خو ځينو روايتونو کې دا دي چې پلار يې د خوارزم و، خوارزم يوه پراخه سيمه ده، چې اوس په ازبکستان، قزاقستان او ترکمنستان کې وېشل شوې ده. ځينې داسې روايتونه هم شته چې مبارک له واده وروسته د خپلې مېرمنې سره د څلويښتو ورځو لپاره نه و يو ځای شوی، او چې پوښتل شوی و، نو ويلي يې و، چې د دې ښځې پلار قاضي دی، او کېدای شي چې کله يې حرام مال کور ته راوړی وي، نو زه غواړم چې زما مېرمن تصفيه او په حلال مال وپايي.په ځينو روايا‌تو کې دا نه دي راغلي چې د مور له خوا د هغه نېکه نوح بن ابي مريم و، يوازې د دې يادونه شوې، چې پلار يې په مرو کې د يو شتمن سړي د باغ ساتونکی او پالونکی و، چې د همدې باغ څښتن خپله لور په نکاح ورکړه. عبدالله ابن مبارک په ۱۸۱ هجري کال کې په عراق کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای امیر المؤمنینه! دا د عجمو مشر او د رستم ملګری دی.

عمر هرمزان ته وویل:

زه تا ته ستا په نږدې او لرې راتلونکې کې د نصحیت په توګه اسلام وړاندې کوم.

هرمزان:

زه چې اوس په هره عقیده یم په همدې باور لرم، اسلام کې د ویرې له کبله کوم رغبت نه لرم.

عمر توره وغوښته، او کله یې چې د هغه د وژلو نیت وکړ، هرمزان وویل:

امیر المؤمنینه! د اوبو یو غړپ غوره دی، چې په تنده مړ نه شم.

عمر د اوبو ورکولو امر وکړ، او هرمزان چې اوبه واخستې ویې وپوښتل:

امیرالمؤمنینه! زه تر هغه وخته په امن یم چې دا وڅښم؟

هو.

هرمزان:

امیرالمؤمنینه! وفا ځلیدونکی نور دی.

عمر:

ریښتیا دی وویل، اوس لپاره ستا په اړه انتظار دی، او ستا په اړه به فکر وکړو.

عمر له هغه د تورې د پورته کولو او قتل ځنډولو امر وکړ.

بیا هرمزان وویل اوس اشهد ان لااله الاالله، و ان محمدا عبده و رسوله، او هغه څه چې د هغه پیغمبر راوړي حق دي.

عمر:

تا ښه اسلام غوره کړ، ولې دې اسلام منل دومره وځنډول؟

هرمزان:

مادا بده ګڼله چې خلک ووایي چې ما د تورې له ویرې اسلام منلی، عمر:

خبر دار، د پارس د خلکو داسې عقلونه دي، چې د هغه مملکت د واکمنۍ مستحق یې ګرځولي.

او بیا عمر د هغه سره د نېکۍ معامله وکړه.

---

[۲۳] - هرمزان یو پارسي واکمن و، د ایران د کسری درېیم یزدجرد له خوا د اهواز د سیمې حاکم ټاکل شوی و، اهواز اوس د ایران د خوزستان د ولایت مرکز دی، هرمزان په **۱۶** هجري کال کې د مسلمانانو سره د سولې تړون وکړ، خو بیا یې مات کړ، له همدې کبله پرې مسلمانانو لښکرکشي وکړه، او هغه یې ژوندی ونیو، مدینې منورې ته یې راوست او مسلمان شو. کله چې عمر بن الخطاب رضی الله عنه په مسجد کې په خنجر ووهل شو، او په شهادت ورسېد، د هغه زوی عبیدالله بن عمر ګومان وکړ چې هرمزان هم په دې قتل کې شریک دی، ورغلو او هرمزان یې وواژه، دهغه سره یې د هغه لور چې جفینة نومېده هم ووژله، او وروسته عثمان رضی الله عنه عبید الله بن عمر وباښه.

[۲۴] - عمر ابن الخطاب دوهم راشد خلیفه دی، د هجرت په شپږم کال د اسلام نور د هغه سینې ته ننوت، له ابو بکر رضی الله عنه وروسته په **۱۳** هجري کال کې د مسلمانانو خلیفه شو، د خپلې واکمنۍ پر مهال یې ستر ستر کارونه وکړل، هجري تاریخ د هغه له خوا ټاکل شوی، د هغه په خلافت کې زیاتې سیمې فتح شوې، بیت المقدس په لومړي ځل د هغه د خلافت پر مهال د مسلمانانو تر واکمنۍ لاندې راغی، په **۲۳** هجري کال کې د سهار د لمانځه پر مهال د یو پارسي ابو لؤ لؤة له خوا په خنجر ووهل شو، او له همدې ټپونو په شهادت ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې له موږ غوره دی

قاسم بن محمد وايي:
موږ په يو سفر کې و، ابن مبارک هم زموږ سره ملګری و، زما به ډېر ځله په زړه کې راتيريدل او د ځان سره به مې ويل: دا سړی په څه علت پر موږ غوره دی او په خلکو کې يې داسې شهرت پيدا کړی؟ که لمونځ کوي موږ يې هم کوو، که روژه نيسي موږ يې هم نيسو، که غزا کوي موږ يې هم کوو، او که حج کوي نو موږ هم حج اداء کوو.
هغه زياتوي:
د شام پر لاره پر موږ شپه راغله، او په يو کور کې مو د شپې ډوډۍ خوړله چې په دې وخت کې ډيوه مړه شوه، يو تن پاڅيد چې څراغ راوړي، بهر ووت، شيبه وروسته يې ډيوه راوړه، ما د ابن مبارک مخ او ږيرې ته وکتل، چې ږيره يې په اوښکو لمده شوې وه، په زړه کې مې وويل:
په دې ويره دا سړی پر موږ غوره دی، او کېدای شي هغه مهال چې ډيوه مړه شوې وه او هغه په تياره کې شوی و، نو قيامت به وريا د شوی وي.

# پټه صدقه د الله غضب غلی کوي

ابو حمزة الثمالي[۲۵] وايي:
علي بن حسين به د شپې له مخې د ډوډۍ بوجۍ په شا کړې وه، او صدقه کوله به يې، او ويل به يې پټه صدقه د الله جل جلاله غضب غلی کوي (وژني).
همدا راز عمرو بن ثابت وايي، کله چې علي بن حسين[۲۶] وفات شو، د غسل پر مهال غسل ورکوونکو يې په ملا توري نښې وليدلې، پوښتنه يې وکړه چې دا څه دي؟
ځواب ورکړل شو، هغه به د شپې له مخې د وړو بوجۍ په شا کوله او د مدينې په بې وزلو به يې وېشله.

---

۲۵ - ثابت بن ابو صفية بن دينار چې په ابو حمزة الثمالي يې شهرت درلود، د شيعه ګانو يو لوی مفسر او راوي و، هغه د عراق د کوفې د ښار و، په شيعه ګانو کې لوړ مقام لري، خلک به يې شيعيت ته رابلل، د حديثو روايت يې هم کړی، خو اهل السنة يې د حديثو په روايت کې باوري نه ګڼي.

۲۶ - علي بن الحسين بن علي د څلورم راشد خليفه حضرت علي کرم الله وجهه لمسی و، په زين العابدين يې شهرت درلود، شيعه ګان يې څلورم امام ګڼي، مور يې د پارس د امپراتور يزدجرد لور وه، چې د عمر بن الخطاب په خلافت کې د پارس د ښارونو د فتح پر مهال بندۍ نيول شوې وه، او بيا ورسره د علي رضی الله عنه زوی حسين نکاح وکړه، د نبوي هجرت په ۳۸ کال په مدينه منوره کې زېږېدلی، او د نبوي هجرت په پنځه نويم کال په همدې ښار کې وفات شوی، او د بقيع په هديره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توبه کوونکی

ابان بن صالح[۲۷] وایي:
زه یوه ورځ د انس بن مالک له خدمته راووتم او قدم مي واهه، د بصرې په بازار کې مې ځلور تنه ولیدل چې یوه جنازه یې په اوږو وه، ما له ځانه سره وویل "عجیبه ده د بصرې بازارونه په خلکو ډک دي؛ خو د دې جنازې سره له ځلور تنو پرته بل هیڅوک ملګري نه دي، باید ورسره ملګری شم"، د هغوی سره ملګری شوم، او هدیرې ته ورسېدو، په هدیره کې ما هغو ځلور تنو ته وویل:
تاسې کوم یو د دې مړي ولي دی؟ هغه دې جنازه وکړي.
هغوی وویل مونږ ټول د هغه په وړاندې برابر یو، بس ته مخکې شه او لمونځ پرې اداء کړه، ما پرې لمونځ وکړ، او خاورې مو پرې واړولې، او بیا مې له هغو ځلور تنو پوښتنه وکړه چې د دې مړي کیسه څه ده؟
هغوی وویل مونږ یو هم نه یو خبر، دې ښځې-چې هدیرې ته راغلې وه-مونږ په مزدورۍ راوستي یو، چې جسد هدیرې ته ورسوو.
ما وکتل چې یوه ښځه راغله، او د قبر سره د لږې شیبې لپاره کېناسته، بیا پاڅیده، او په خندا شوه، ما ورته وویل: عجیبه ده، یوه ښځه د خپل مړي په قبر خاندي؟!!!
بیا مې ښځې ته وویل زما نوم ابان دی، د انس بن مالک[۲۸] خادم یم، چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خادم و، ما د دې مړي په کیسه خبر کړه، ښځې پیل وکړ:
ای ابانه! که ته هغه څوک نه وای چې تا وویل؛ نو ما به کله هم تاته دا خبره نه وه کړې، دا مړی زما زوی دی، هغه ډېر اسراف کوونکی و، هغه پرون سخت ناروغه او مرګ ته ورسېد، ماته یې وویل "د الله په روی درته سوال کوم چې په ما به هغه څه کوې چې زه یې درته وایم".
ما ورته وویل:
چې ستا څنګه خوښه وي هغسې معامله به درسره وکړم.
هغه وویل:
چې مړ شم؛ نو په ما زما خپلوان مه خبروه، زما دا ګوتمه واخله، دا کلمه چې لا اله الا الله محمد رسول الله پرې نقش کړه، او بیا یې زما د پوستکي او کفن تر منځ کېږده، کله چې په قبر کې کېښودل شم، لاس دی د خپلو وینښتانو په کمځیو کیږده، او الله ته یې پورته کړه او هغه ته زارۍ وکړه چې ماته ښښنه وکړي، او دا دعا راته وکړه چې "الهي! زه ترې راضي یم ته هم ورڅخه راضي شه" بیا یې وویل:
ای مورې! پاڅیږه او ښۍ پښه دې زما په مخ کیږده او ووایه: دا د هغه چا جزاء ده، چې د الله تعالی نافرماني کوي، زه پاڅیدم، والله ای ابانه! دا خپله سپیره پښه مې د هغه د مخ په غمبورې کیښوده، او چغې مې کړې: دا د هغه چا جزاء ده چې د الله نافرماني کوي، تر دې مې د هغه د مخ څخه پورته نه کړه چې هغه مړ شو.

---

[۲۷] - ابان بن صالح بن عمیر په ۶۰ هجري کې زېږېدلی او په ۱۱۵ هجري کې وفات شوی، هغه له انس بن مالک رضی الله عنه څخه د حدیثو روایت کړی، ګڼ استادان لري، او علماء یې د حدیثو په روایت کې ثقة (باوري) بولي.
[۲۸] - انس بن مالک د مدینې منورې د خزرج د قبیلې د بني نجار تر پښې پورې تعلق لري، هغه مدینې ته د رسول الله له هجرت لس کاله دمخه زېږېدلی و، کله چې رسول الله مدینې ته هجرت وکړ، د انس بن مالک مور أم سلیم ملیکة بنت ملحان النجاریة خپل زوی انس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پېش کړ چې د هغه خدمت وکړي، دا مهال یې عمر لس کاله و، رسول الله هغه ښکل کړ، او دعا یې ورته وکړه چې الله ته یې مال اولاد او عمر زیات کړي، او ګناهونه ورته وبښي. هغه د رسول الله په خدمت کې و، کله کله به ورته رسول الله په (زویه) هم اواز کاوه، ډېر احادیث ترې روایت شوي، په بصره کې وفات شوی، خو د وفات په کال کې یې اختلاف دی، ویل کیږي، چې د ۹۰ هجري او ۹۳هجري په منځ کې وفات شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا څلور تنه مې اجاره کړل، هغوی غسل ورکړ، او کفن يې ورکړ، او بيا يې قبر ته يوړ، او لکه چې تا وليدل نو خښ يې کړ، کله چې هغوی لاړل، ما د خپل زوی د وينا سره سم هماغسې وکړل، او الله تعالى ته مې خپل وينېتان په لپو کې پورته کړل، او ومې ويل:
يا ارحم الراحمين او ای اکرم الاکرمين ذاته! ته غوره هغه ذات يې چې څوک ورسره ډېره شي، ته زمونږ په ښکاره او پټ هر څه پوهيږې، په هغه څه خبر يې چې پټ دي او که ښکاره، زما ګناهګار، تير وتی او نافرمانه زوی تاته د خپلې مسکينې او ذليلې مور رضا واسطه کړې، هغه ورڅخه راضي ده، ته هم ورڅخه راضي شه.
ښځې وويل چې د دعا په دې وخت کې ما د قبر له داخل څخه يو اواز واوريد چې ويل يې:
ورځه مورې! زه يو کريم رب ته راغلی يم، هغه ماته زما ګناهونه وبښل، دې خبرې ماته خندا راوسته.
ابان وايي ښځه له هديرې په خوشحالۍ روانه شوه.

## غل غلا شو

کيسه کا چې يو غل د مالک بن دينار[۲۹] کور ته واوښت، په کور کې يې هيڅ ونه موندل، مالک بن دينار يې وليد، چې په لمانځه ولاړ دی، هغه لمونځ لنډ کړ، په غل يې سلام واچاوه او ورته يې وويل:
وروره! الله دې درته ښښنه وکړي، زما کور ته راغلې؛ خو د اخستلو دې څه ونه موندل، زه دې داسې نه پريږدم، چې بې ګټې ولاړ شې.
پاڅيد، او د اوبو يو لوښی يې ورته راووړ، او ويې وويل: اودس وکړه، او دوه رکعته لمونځ اداء کړه، ګټه به وکړې.
غل پاڅېد، او لمونځ يې وکړ، او بيا يې وويل:
ای مالکه! دې سره خو تکليفېږې نه چې زه دوه رکعته نور اداء کړم؟
مالک بن دينار وويل، چې څومره درته الله ليکلي وي، هغومره کوه.
غل تر سهاره په لمانځه بوخت و، مالک ورته، د تګ وويل، خو غل وويل:
باداره! غواړم چې نن تيوله ورځ ستا سره پاتې شم؛ ځکه ما د دې ورځې د روژې نيولو نيت کړی.
مالک اجازه ورکړه چې څومره يې خوښه وي دلته پاتې کېدای شي، غل له مالک بن دينار سره ډيرې ورځې تيرې کړې، لمونځونه او روژې يې نيولې، غل د تګ پر مهال مالک ته وويل:
ای مالکه! ما د توبې نيت کړی.
مالک: دا د الله په لاس کې کار دی.
غل توبه وکړه او بيا يې ماته نه کړه، له مالک بن دينار څخه تر تګ وروسته، د يو بل غل سره مخ شو، هغه ترې وپوښتل: فکر کوم چې په کومه خزانه پريوتې يې؟
وروره! په مالک بن دينار پېښ شوی يم، د کور د لوټلو په نيت يې ورغلی وم؛ خو زه يې غلام کړم، او ما الله ته توبه کړې.

---

۲۹ - مالک بن دينار د عراق د بصرې د ښار اوسيدونکی مشهور تابعي دی، له صحابه کرامو يې احاديث اخستي، او ډېرو علماوو له ده احاديث روايت کړي دي، په عبادت او زهد مشهور و، په يو ۱۲۷ او يا ۱۳۰ هجري کال کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حسن د ام المؤمنین ام سلمة رضاعي زوی دی

حسن بصري د ام المؤمنین ام سلمة[۳۰] د یوې وینځې زوی و، ام سلمة یوه ورځ خپله وینځه د یو کار لپاره واستوله، حسن په زوره زوره ژړا پیل کړه، ام سلمه هغه د غلې کولو لپاره په غیږ کې رواخیست، او خپلې سینې ته یې واچولو، چې د ام سلمة رضی الله عنها شېدې یو دم زیاتې شوې، او هغه ورڅخه وڅښلې.
بیا به داسې ویل کېدل چې په علم او حکمت کې د حسن البصري دې مرتبې ته د رسېدو علت هماغه د ام المؤمنین شېده دې.
کله به چې حسن د ابو جعفر محمد بن علي بن الحسین[۳۱] په مخ کې یاد شو، هغه به ویل دا هغه دی چې خبرې یې د پېغمبرانو خبرو ته ورته دي.

# ګناه او ځان څارنه

یو سړی ابراهیم بن ادهم رحمه الله[۳۲] ته راغلو او ورته یې وویل:
ابو اسحاقه! زه یو اسراف کوونکی او له حده تجاوز کوونکی یم، ماته داسې یو څه وښیه، چې ما له اسراف څخه منع او زړه ته مې نجات ورکړي.
هغه ورته وویل:
که پنځه خویونه دې خپل کړل، او په دې وتوانېدې، نو بل هېڅ خوند به درته زیان ونه رسوي، او نه به دې له منځه یوسي.
سړي د خویونو پوښتنه وکړه، او ابراهیم بن ادهم پیل وکړ:
اول دا چې که د الله د نافرمانۍ اراده دې وکړه، د هغه روزي مه خوره.
سړي وویل:
چې د هغه ذات روزي ونه خورم، نو له کومه یې وخورم، په ځمکه کې ټول هر څه خو د الله له رزقه دي؟
ابرهیم ورته وویل:

---

[۳۰] - ام سلمة هند بنت ابي امية د رسول الله صلی الله بي بي وه، د هغې لومړی خاوند ابو سلمة بن عبد الاسد نومېده چې د احد په غزا کې ټپي او د هجرت په ۴ کال د همدې ټپونو له کبله وفات شو، او د عدت له تېرېدو وروسته په همدې کال کې رسول الله صلی الله علیه وسلم په نکاح کړه، هغه د هجرت د ۵۹او ۶۲ هجري کلونو په منځ کې وفات شوې، او د رسول الله په مېرمنو کې تر ټولو ورستۍ وه چې له نړۍ وکوچېده.

[۳۱] - ابو جعفر محمد بن علي بن الحسین د څلورم راشد خلیفه حضرت علي کرم الله وجهه کړوسی او د حسین رضی الله عنه لمسی دی، په محمد الباقر هم شهرت لري، د امامیة شیعه ګانو پنځم امام دی، د وخت ستر عالم و، سترو علماوو ترې زده کړه کړې، لکه ابو حنیفة، اوزاعي، زهري، ابن جریج، په ۵۷ هجري کال کې په مدینه منوره کې زېږېدلی، او په ۱۱۴ هجري کې وفات شوی دی، اهل تشییع وایي چې هغه زهر ورکول شوي، خو اهل السنة و الجماعة دغه ادعا نه مني.

[۳۲] - ابراهیم بن منصور بن زید چې په ابراهیم بن ادهم مشهور دی، د افغانستان د بلخ اوسیدونکی، او د دویمې هجري پېړۍ یو مشهور زاهد او صوفي شخص و، ویل کیږي هغه د بلخ د یو پاچا زوی و، چې د یو غیبي اواز تر اورېدو وروسته یې زهد او تقوی ته مخه کړه، د پلار باچایي یې خوشې کړه، په مکه مکرمه او شام کې یې د علماوو ملګرتیا غوره کړه، خپله مزدوري به یې کوله او دلاس ګټه به یې خوړه. ابراهیم بن ادهم په داسې حال کې چې د کفارو پر ضد په یو جهادي لښکر کې وتلی و، په **۱۶۲** هجري کې وفات شو، او د سوریې د الاذقیة په سیمه کې خښ کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا دا ښه ده چې، ته یې روزي هم خورې، او نافرماني یې هم کوې؟
هغه وویل نه، اوس نو دویم وایه.
دویم دا که د الله د نافرمانۍ نیت دې وکړ، نو د هغه په ځمکه کې ژوند مه کوه!
سړي وویل: دا خو له لومړي هم سخت دی، چې مشرق او مغرب او د دې په منځ کې هر څه د الله دي نو چرته ژوند وکړم؟
ابراهیم وویل: دا نو ښه ګڼل کیږي، چې د هغه روزي خورې، په ځمکه کې یې اوسیږې او نافرماني یې هم کوې؟
سړي وویل نه، دریم څه دی.
دریم دا که د الله د نافرمانۍ نیت دې وکړ، د هغه روزي خورې او په خاوره یې هم ژوند کوې، نو د نا فرمانۍ لپاره داسې یو ځای وګوره چې هلته تا الله ونهویني.
سړي وویل: ای ابراهیمه! دا به څنګه وي، الله ته هر څه ښکاره دي، او په پټو هم خبر دی؟
ابراهیم: ایا دا ښه ده چې ته د هغه روزي خورې، په ځمکه یې اوسیږې، او په داسې حال کې یې نافرماني کوې چې تا ویني ؟
سړي وویل نه، څلورم څه دی.
څلورم دا چې کله ملک الموت درته راغلو، او روح دې اخیست، ورته ووایه: تر دې مې پریږده چې د زړه له کومې توبه وکړم او الله ته نیک عمل وکړم".
سړي وویل: دا به ونه مني.
ابرهیم: دا چې ته دومره توان هم نه لرې، چې د توبې لپاره له ځانه مرګ منع کړې، او پوهیږې که مرګ راشي وروسته کیږي نه، نو بیا د خلاصي د کومې لارې هیله څنګه لرې؟
سړي وویل پنځم څه دی.
پنځم دا چې کله د قیامت په ورځ ملایکو اور ته بیولې، ورسره مه ځه! هغه وویل: هغوی به مې نه پریږدي، او نه به زما غوښتنه ومني.
ابراهیم: نو بیا د خلاصي هیله څنګه لرې!
سړي وویل: ای ابراهیمه! زما لپاره بس دي او بس دی، زه له الله ښننه غواړم او توبه ورته کاږم.

## ماشوم دوه ځایه کول

د دوه ښځو په غیږ کې اولادونه وو، یو لیوه وخوړ، دواړو په دویم کوچني جګړه پیل کړه، دواړه داود علیه السلام[۳۳] ته راغلې، هغه ته یې کیسه وکړه، هغه د مشرې په حق کې پریکړه وکړه، بیا سلیمان علیه السلام ته ورغلې.
هغه وویل: چاقو راوړئ، زه ماشوم دوه ځایه کوم، نیم د یوې او نیم د بلې.
کشرې وویل: ای د خدای رسوله! رښتیا یې څیرې کوې؟
هغه وویل: هو

---

۳۳ - داود او سلیمان علیهما السلام دواړه الله پیغمبران وو، چې داود علیه السلام یې پلار او سلیمان یې زوی و، دوی دواړه بني اسرائیلو ته استول شوي وو، داود د بني اسرائیلو د هیواد دویم پاچا او سلیمان یې دریم پاچا بلل کیږي، داود علیه السلام باندې خدای پاک اسماني کتاب زبور نازل کړی و، او الله ورته وسپنه نرمه کړې وه، یعنی په لاس به یې ترې جنګي وسایل جوړول، او د سلیمان علیه السلام باچایي بیا ډېره پراخه وه، چې په ځناورو، مارغانو، پیریانو حاکم و، او تخت به یې هوا له یوه ځایه بل ته رسولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مېرمنې وويل: داسې مه کوه، زما برخه دې هم د هغې مشرې شي.
سليمان عليه السلام وويل: زوی دې واخله، او د هغې په حق کې يې پرېکړه وکړه.

## ښه ګاونډيتوب

په کوفه کې د ابو حنيفه رحمه الله[۳۴] يو موچي ګاونډی و، ټوله ورځ به يې کار کاوه، د شپې به يې کور ته غوښه راوړه، پخه به يې کړه، يا به يې کب وريت کړ، او په شرابو څښلو به يې پيل وکړ، دا شعر به يې زمزمه کاوه:

زه يې له لاسه ورکړم، او څوک يې له لاسه ورکړ

هغه څوک چې په بده ورځ په کار راځي او سرحدونه ساتي

د شرابو په څښلو به تر هغه وخته د دې شعر د ويلو سره لګيا وو چې خوب به پرې غلبه وکړه.
ابو حنيفه به د شپې لمونځ کاوه، او د ګاونډي له سندرو به ورته ضرر رسېده، يوه شپه يې د موچي اواز وانهورېد، د هغه پوښتنه يې وکړه، خلکو ورته وويل چې امنيتي کسانو نيولی او بندي دی.
ابو حنيفه سبا د سهار له لمانځه وروسته په خپله کچره سپور شو، د حاکم د ملاقات غوښتنه يې وکړه، امير وويل:
اجازه ورکړئ چې زما ځای ته په کچرې سپور رانئوځي، او تر هغه يې ښکته کېدو ته مه پرېږدئ، چې د خونې فرش ته هم په کچره وخيژي.
هغه همداسې وکړل، امير په خپل مجلس کې کينولو، او ورته يې وويل چې څه غواړې؟
ابو حنيفة:
زما يو موچي ګاونډی دی، نيول شوی، حاکم دی هغه خوشې کړي.
امير ويل ولې نه، او سړی يې پرېښود.
ابو حنيفه بېرته په کچره سپور شو، موچي يې شاته روان و، کله چې ابو حنيفه ښکته شو، هغه ته يې وکتل، او ورته يې وويل:
ځوانه! ايا له لاسه مو ورکړی يې؟
موچي وويل:
نه، بلکې ودې ساتلو، پالنه دې وکړه، الله دې تاته د ګاونډيتوب د حرمت ښه جزا درکړي، او له دې وروسته يې پخواني عادتونه پرېښودل.

## بايد له زده کړې بې پروايي ونه شي

امام ابو يوسف[۳۵] سخت ناروغ و، استاد به يې امام ابو حنيفة بار بار پوښتنې ته ورتلو، وروستی ځل يې چې پوښتنې ته ورغلو، مرض يې ډېر سخت و، ابو حنيفه راووت او ويې ويل:

---

[۳۴] - امام ابو حنيفة النعمان بن ثابت په ۸۰ هجري کال کې په کوفه کې زېږېدلی، د اهل السنة و الجماعة د فقهې له څلورو امامانو يو مشهور امام او تر ټولو مشر دی، مذهب يې په حنفي سره پېژندل کيږي، ابو حنيفة يو تابعي عالم دی، چې د صحابه کرامو سره يې ليدل شوي دي، په کال ۱۵۰ هجري کې په بغداد کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما نیت درلود چې له ځانه وروسته د مسلمانانو امامت هغه ته وسپارم، که هغه مړ شي نو ډېر علم به مړ شي.
خو ابو یوسف ته الله تعالی شفاء ورکړه، ناروغي یې ښه شوه، کله چې ورته د ابو حنیفه خبره وشوه، له ځانه سره یو څه غره شو، د خلکو مخونه ورواوښتل، د ځان لپاره یې په فقه کې خپله حلقه جوړه کړه، او د ابو حنیفه رحمه الله حلقې ته به باقاعده نه ورتلو.
ابو حنیفه یې پوښتنه وکړه، ورته وویل شول کله چې ستا خبره ورته ورسېده، نو د درس خپله حلقه یې جوړه کړې، ابو حنیفه یو سړی راوغوښت او ورته یې وویل:
د ابو یوسف حلقې ته لاړ او دا پوښتنه ترې وکړه "یو سړي یو رنګریز ته جامه وکړې، چې په یو درهم یې رنګ کړي، بله ورځ هغه خپله جامه وغواړي، خو رنګریز منکر شي، او وایي چې ماته دې نه ده راکړې، خو درېیمه ورځ چې ورشي رنګریز جامه ورکړي، ایا د رنګریز د اجرت پیسې شته که نه؟ که ابو یوسف وویل چې هو شته؛ نو ورته ووایه چې تېروتې، که یې وویل نه شته نو هم ورته ووایه چې تېروتې".
سړی ولاړ او پوښتنه یې وکړه، ابو یوسف وویل اجرت لري، سړي وویل تېروتې، هغه لږ فکر کړ بیا یې وویل، نه شته، سړي وویل تېروتې.
ابو یوسف سمدستي راپاڅېد، او ابو حنیفه ته راغلو، ابو حنیفه ورته وویل:
ته خامخا د رنګریز مسئلې راوستی یې.
هغه وویل هو.
ابو حنیفه:
سبحان الله! څوک چې کیني، او خلکو ته فتواوې ورکوي، حلقه جوړه کړي، د الله د دین په چارو کې خبرې کوي، نه شي کولای چې د مزد په یوه مسئله کې ځواب ووایي؟
ابو یوسف:
ای ابو حنیفه! ماته راوښیه.
ابو حنیفه وویل:
که رنګریز له غصب وروسته رنګ کړې وي، نو اجرت نه لري، ځکه چې ځان ته یې رنګ کړې ده، او که له غصب مخکې یې رنګ کړې وې؛ نو اجرت لري، ځکه چې د مالک لپاره یې رنګ کړې ده.
بیا یې وویل:
څوک چې داسې فکر کوي چې نور له زده کړې بې پروا دی؛ نو په ځان دې وژاړي.

[35] - ابو یوسف یعقوب بن ابراهیم الانصاري د امام اعظم ابو حنیفة النعمان بن ثابت شاګرد و، د خپل وخت قاضي، مجتهد، او محدث و، په ۱۱۳ هجري کال کې په کوفه کې زېږېدلی، له ډېرو لویو او مشهورو علماوو یې درس و یلی، خو تر ټولو زیاته زده کړه یې له ابو حنیفه کړې، د هارون الرشید د واکمنۍ پر مهال قاضي القضات وټاکل شو، د ګڼو کتابونو لیکوال دی، په ۱۸۲ هجري کال کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بربنډ شفاعتګر

د فرزدق[36] مېرمن النوار له هغه خفه او غوسه شوه، د عبد الله بن زبير[37] مېرمنې خولة بنت منظور[38] ته ورغله چې خپل مېړه ته شکايت ورسوي، او سپارښتنه وکړي، چې د فرزدق او د دې تر منځ د دې په حق کې پرېکړه وکړي، خو خپله فرزدق د عبدالله بن زبير زوی حمزه ته ورغلو، او همدا غوښتنه يې وکړه، دواړو ژمنه وکړه.

خولة د النوار په حق کې عبد الله بن زبير ته واسطه، او حمزه د فرزدق واسطه شو، خو خوله بريالۍ شوه، او عبدالله بن زبير فرزدق ته امر وکړ چې خپلې مېرمنې ته به نه نژدې کيږي، په همدې مناسبت فرزدق دا شعرونه وويل:

د زامنو شفاعت يې ونه منل شو
خو د منظور د لور شفاعت وشو
هغه واسطه چې پرتوګ يې په پښو کې وي
د هغې په څېر نه ده چې بربنډه وي

عربي متل دی چې وايي:
يعطى الجوز من لا اسنان له
ژباړه: اغوز هغه چاته ورکوي چې غاښونه يې نه وي

# د الحمد لله د ويلو له کبله استغفار وايم

د خپل وخت زاهد او عابد سري السقطي[39] ويلي له دېرشو کلونو راهيسې له دې کبله استغفار وايم (بښنه غواړم) چې يو ځل مې الحمد الله ويلي و.

---

[36] - الفرزدق عربي شاعر دی، پوره نوم يې همام بن غالب دی، په فرزدق شهرت لري، په بصره کې په ۳۸ هجري کال کې زېږېدلی، په ۱۱۴ هجري کې وفات شوی، قصيدې يې ډېرې مشهورې دي.

[37] - عبدالله بن الزبير بن العوام مشهور صحابی دی، مور يې د ابو بکر الصديق لور اسماء ده، او د پلار له اړخه نيا يې د رسول الله عمة صفية بن عبد المطلب ده، کله چې مسلمانانو مدينې ته هجرت وکړ، په مسلمانانو کې د هجرت په لومړي کال لومړی ماشوم همدا عبدالله وزېږېد، د کفارو پر ضد ګڼو جګړو کې يې ګډون کړی، په ۶۰ هجري کې د حضرت معاويه تر وفات وروسته د هغه د زوی يزيد سره بيعت وشو، خو عبد الله بن الزبير يې مخالفت وکړ، د هغه سره يې بيعت ونه کړ، بلکې جګړې يې ورسره وشوې، په ۶۴ هجري کې يزيد بن معاويه ومړ، او په مکه مکرمه کې د عبد الله ابن الزبير سره په خلافت بيعت وشو، خو په ځينو سيمو کې ورسره مخالفت هم وشو، په شام کې مروان بن الحكم مشري واخسته، او يو کال وروسته په ۶۵ هجري کې وفات شو، بيا يې زوی عبد الملک مشر شو، چې د هغه د عبد الله بن الزبير سره نښتې وشوې، او د حجاج بن يوسف په مشرۍ اموي لښکر پر مکه معظمة بريد وکړ، او عبد الله ابن الزبير په ۷۳ هجري کال کې ووژل شو.

[38] - که څه هم په دې کيسه کې خولة بنت المنظور د عبد الله بن الزبير مېرمن ښودل شوې، خو سمه دا ده چې د خولة لومړی نکاح د صحابي طلحة بن عبيد الله د زوی محمد بن طلحة سره شوې وه، او کله چې د جمل په جګړه کې هغه ووژل شو، نو بيا حضرت حسن بن علي په نکاح کړه، بلکې د عبدالله بن الزبير په نکاح کې د خولة خور تماضر بنت منظور وه، دغه راز د خولې له وفات وروسته د هغې بله خور زُجْلَة بنت منظور هم عبد الله ابن الزبير په نکاح کړې ده.

[39] - ابو الحسن سري الدين بن المغلس السقطي د اهل السنة و الجماعة يو لوی عالم تېر شوی، د مشهور صوفي جنيد البغدادي ماما او استاد دی، په دوه ۲۵۱ هجري کال کې په بغداد کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه وشوه: دا ولې؟
هغه وویل:
بغداد کې اور ولګېد ، یو تن راسره مخ شو او راته یې وویل چې ستا دوکان بچ دی، ما وویل الحمد لله! نو زه په دې الحمد لله پښېمانه یم، ځکه چې خپل خېر مې په پام کې و، د نورو شر نه، خپل خېر مې وغوښت د نورو نه.

## خبرې جاري وساته

معاویه بن ابي سفیان رضی الله تعالی عنهما[۴۰] د دوبي په موسم کې په یوه جګړه کې وتلی و، یو سړی ورته راغی، معاویه ترې د خلکو د احوال پوښتنه وکړه، هغه خبرې پیل کړې، خو د خبرو منځ کې یې باد ووتل، ډېر شرمنده شو او غلی شو، معاویه ورته وویل:
او سړیه! خبرې جاري ساته، والله له بل چا مې دومره زیات نه دي اورېدلي، لکه خپل مې چې څومره اورېدلي.

## د الله د وجود دلیل

له جعفر الصادق[۴۱] څخه یو چا پوښتنه وکړه:
د الله د وجود دلیل څه دی؟ خو ماته به په دلیل کې دا دنیا، متاع او جوهر نه یادوې.
هغه وویل:
کله په کښتۍ کې سپور شوی یې؟
هو،
داسې شوي چې کښتۍ بادونو اخستې وي، او تاسې له ډوبېدو وېرېدلي یاست؟
هو،
نو ایا له کښتۍ او ماڼوګانو دې د دې تمه شکېدلې، چې دوی به دې بچ کړي.
هو،
نو ایا دا احساس دې کړی، چې داسې څوک هم شته چې بچ دې کړي؟
هو،
بس همدا الله دی.

---

[۴۰] - معاویه بن ابي سفیان مشهور صحابي او د وحی لیکونکی و، د اسلام شپږم خلیفه، او د اموي دولت مؤسس دی، د رسول الله له بعثت وړاندې په مکه مکرمه کې زېږېدلی، ویل کیږي چې د خپل پلار، مور او ورور سره یو ځای یې د مکې د فتحې په ورځ اسلام دین ومانه، په ځینو روایتونو کې ویل شوي، چې له فتحې مخکې مسلمان شوی و، خو اسلام یې پټاوه، له هغې وروسته یې په غزواتو کې برخه اخستې، د ابو بکر الصدیق په خلافت کې هم په غزواتو کې شرېکېدو، د عمر بن الخطاب په خلافت کې د شام او اردن ولایت وروسپارل شو، د عثمان رضی الله عنه په خلافت کې هم د شام والي پاتې شو، د علي رضی الله تعالی عنه سره یې یو څه مخالفتونه پیدا شول، خو د هغه له شهادت وروسته یې زوی حسن بن علي له خلافته تېر او معاویه رضی الله تعالی عنه د ټولو مسلمانانو مشر شو. معاویه په ۶۰ هجري کال کې په دمشق کې وفات شو.

[۴۱] - ابو عبد الله جعفر بن محمد الصادق د حضرت علي بن ابي طالب کودی دی، یعنی د هغه د لمسي لمسی دی، په مدینه منوره کې په ۸۰ هجري کې زېږېدلی، جعفر الصادق د شیعه ګانو د اثنا عشریة ډلې شپږم امام او د اسماعیلیه ډلې پنځم امام دی، د ډېر علم څښتن و، په شاګردانو کې یې ګڼ لوی لوی علماء و، د کیمیاء مشهور عالم چې په ابو الکیمیاء مشهور دی، جابر بن حیان او ابو حنیفة هم د ده شاګردان وو، په ۱۴۸ هجري کې په مدینه منوره کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رشید بن الزبیر او ښځه

رشید بن زبیر[۴۲] یو عالم، عزتمند او فاضل سړی و، په علم النسب کې یې ډېره پوهه درلوده، خو ډېر بدرنګه و، تور و، ډبلې شونډې یې وې، د حبشیانو په څېر غونجه پوزه یې وه او له ونې هم ټیټ و.

هغه کیسه کوي وايي:

په قاهره کې روان وم، یوه ځوانه ښځه راسره مخ شوه، سپین مخ، او ډېره ښکلې وه، زه یې چې ولیدم؛ نو داسې راته ښکاره شوه چې ما ته یې څه تمه پیدا شوه، ما هم فکر وکړ چې زړه ته مې یې لاره موندنه، خو خپل ځان رانه هېر شو، په سترګو یې راته اشاره وکړه، هغه مخکې زه ورپسې، له یوې کوڅې وته او په بلې ننوتله، تر څو یو کور ته ورسېده.

هلته یې له مخ نقاب لرې کړو د څوارلسمې سپوږمۍ مخ یې څرګند شو، لاسونه یې وپړکول او یو چاته یې غږ وکړ، یوه ماشومه راکوزه شوه، هغې ته یې وویل:

که بیا دې په بستره کې متیازې وکړې؛ نو دې قاضي ته به ووایم چې ودې خوري.

بیا یې ماته وکتل او ویې ویل:

ستا احسان به هېر نه کړم، مننه.

زه له هغې شرمنده او سرګردانه راووتم، حتی لاره هم رانه ورکه وه.

## مه وېرېږه

عباسي خلیفة مهدي[۴۳] د یوازې عبادت لپاره ووت، اس یې په منډو شو او د یو اعرابي کېږدۍ ته یې ورساوه، هلته یې اعرابي (بانډه چي) ته وویل چې میلمستیا ورکولای شې؟ هغه ورته د وربشو د ډوډۍ یوه ټیکله را وویسته، ویې خوړه، بیا یې ورته شیده ورکړل، بیا یې ورته د اوبو مشک راوړ، تنده یې هم ماته شوه، اعرابي ته یې وویل:

ما پېژنې؟

هغه وویل نه،

مهدي ورته وویل:

زه د امیر المؤمنین خاص خادم یم.

اعرابي:

الله دې خپله دنده درته برکتي کړي، بیا یې نور څه هم ورته د څښناک راوړل.

---

[۴۲] - رشید بن زبیر د مصر د اسوان په ښار کې زېږېدلی، ځکه خو په اسواني هم شهرت لري، رشید یې لقب دی، خپل نوم یې احمد بن علي بن ابراهیم بن علي بن الزبیر دی، هغه مشهور قاضي او عالم و، د شعر دیوان لري، په یمن کې یې د قضاء چارې پر مخ وړې دي، هلته یې بیا د فاطمي دولت پر ضد خپل ځان ته خلک رابلل، خو د فاطمي دولت والیانو ونیو، او په **۵۶۳** هجري کې ووژل شو.

[۴۳] - ابو عبد الله محمد بن عبد الله المنصور بن محمد بن علي المهدي بالله د عباسي دولت درېیم خلیفه و، د خپل پلار ابو جعفر المنصور له وفات وروسته مشر شو، په یو **۱۲۷** هجري کې زېږېدلی، د پلار د واکمنۍ پر مهال یې په ځینو جګړو کې برخه اخستې، په **۱۵۸** کال کې ورسره د خلافت بیعت وشو، او په **۱۶۹** هجري کال کې په عراق کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهدي:
ما پېژنې، څوک یم؟
اعرابي:
تا وویل چې د امیر المؤمنین خاص خادم یې.
مهدي:
نه، زه د امیر المؤمنین یو قوماندان یم.
اعرابي:
هیواد دې پراخه شه، او هدف ته ورسېږې، درېیم ځل یې بیا پرې څنباک وکړ.
مهدي:
ما پېژنې، څوک یم؟
تا وویل چې ته د امیر المؤمنین قومندان یې.
مهدي:
نه زه خپله امیر المؤمنین یم.
اعرابي ترې مشک واخیست، خوله یې ورته وتړله او ورته یې وویل: لرې کېږه رانه، لرې کېږه، که څلورم ځل مې درباندې وڅنبل؛ نو دعوه به وکړې چې ته رسول الله یې.
مهدي دومره وخندل چې بې هوښه راپرېوت.
بیا اسونه راوسېدل له هغه تاو شول، مشران او قوماندان ترې چاپېره شول، د اعرابي رنګ والوت، مهدي ورته وویل:
مه وېرېږه، بیا یې هغه ته د مال او لباس ورکولو امر وکړ، او ترې رخصت شو.

## الله دې په تا پرده واچوي چې زه دې پټه کړم

احمد بن المهدي[۴۴] وایي:
په بغداد کې وم، نیمه شپه راته یوه ښځه راغله، ځان یې راوپېژندو او ویې ویل چې د ستونزې سره مخ ده، هغې وویل: د خدای روی دی چې ما پټه کړه.
ما ورته وویل ستونزه څه ده.
هغې وویل:
د ځان سره مې زیاتی کړی، زه حامله یم، خلکو ته مې ته ښودلی یې چې دا زما خاوند دی، او دا حمل له ده څخه دی، نو ما رسوا نه کړې، ما باندې پرده راوله، الله به پر تا پرده راولي.
زه غلی شوم، هغه لاړه، بیا ترې خبر نه وم، تر دې چې اولاد یې هم وشو، د محلې امام او زمونږ ګاونډیان راغلل، ماته به یې مبارکي راکوله، ما هم د هغوی مبارکی اخیسته، دویمه ورځ مې ماشوم ته د نفقې په توګه د میاشتې دوه دیناره وټاکل، د محلې امام ته مې ورکړل، او ورته مې وویل:

۴۴ - احمد بن مهدي ابن رستم، یو عالم، عابد او د حدیثو راوي و، په عبادت دومره مشهور و چې ویل کیږي، څلویښت کاله یې د خوب او ارام ځای نه درلود، په عبادت به مشغول و، په ۲۷۲هجري کال کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغې ښځې ته ورکړه چې په ماشوم يې مصرفوي، زه او هغه اوس سره جلا شوي يو، هره مياشت به مې دوه ديناره ور استول، دوه کاله وروسته ماشوم مړ شو، بيا خلک د تعزيت لپاره ماته راتلل، او ما هم د هغوی تعزيت مانه.

د ماشوم له مرګ يوه مياشت وروسته يوه شپه ښځه راغله، او ټول هغه دينارونه يې راوړل چې ما وراستولي وو، ويې ويل الله دې پرتا پرده واچوي، چې پر ما دې پرده واچوله.

ما ورته وويل:

دا د هاغه ماشوم برخه ده، دا دينارونه واخله او په خپل ضرورت کې يې مصرف کړه.

## په مصيبت څلور ځلې د الله ثنا ويل

قاضي شريح[۴۵] وايي:

کله چې راته مصيبت ورسيږي، څلور ځلې د الله ثنا وايم، اول په دې د الله ثنا وايم چې دا مصيبت له دې هم ستر نه دی، دويم په دې چې په مصيبت يې صبر راکړی، دريم په دې چې زه انا لله و انا اليه راجعون وايم او د ثواب تمه لرم، او څلورم په دې چې دا مصيبت الله تعالی زما په دين کې نه دی پيدا کړی.

## بچيه! همدومره بس دی

ابو عبد الله بن ورام الکوفي وايي:

په کوفه کې يو سړی اوسېده، نافرمانه زوی يې درلود، يوه ورځ ورسره په کومه خبره کې غوسه شو او کنځلې يې وکړې، زوی د پلار ږېره ونيوه، او له کوره يې راکش کړ، د لارې تر يوې برخې يې کشاوه، چې يو ځای ته ورسېد، پلار زوی ته وويل:

بچيه همدومره بس دی، ما هم پلار له کوره تر همدې ځايه راکش کړی و.

## زموږ منځ کې يې نيم کړه

عبد الله د مسلم بن سعد خوريی وايي:

حج ته تلم، ماما مې مسلم لس زره درهمه راکړل او راته يې وويل:

چې مدينې منورې ته ولاړې هلته تر ټولو بې وزله کور وګوره او دا درهم وکړه.

زه چې هلته ورسېدم د بې وزله کور پوښتنه مې وکړه، خلکو راته يو کور وښود، دروازه مې وډبوله، يوه مېرمن دروازې ته راغله، څوک يې؟

[۴۵] - قاضي شريح بن الحارث بن قيس د يمن اوسيدونکی و، د رسول الله په ژوند کې يې اسلام قبول کړی و، هغه يې ليدلی نه و، بلکې د يمن په حضرموت ښار کې اوسېدو، د ابو بکر الصديق په زمانه کې له حضرموت راووت، او د سترو صحابه وو سره يې وکتل، د شپېتو کلونو لپاره د کوفې قاضي وو، د قضا پر مهال يې ګڼې کيسې مشهورې دي، په **۷۸** هجري کال کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له بغداده راغلی یم، ما ته چا لس زره درهمه راکړي او امر یې کړی چې په مدینه کې یې تر ټولو بې وزله کور ته ورکړم، خلکو ما ته تاسې ښودلي یاست، دا واخلئ.

ښځې وویل:

د الله بنده، ملګري دې شرط دا ایښی چې بې وزله کور ته یې وسپاره؛ خو زموږ په نسبت زموږ ګاونډیان ډېر بې وزله دي.

دوی مې پرېښودل، د ګاونډي دروازه مې ووډبوله، هلته هم ښځه وه هغې ته مې عین خبره وکړې، هغې وویل:

د خدای بنده! موږ او ګاونډیان مو په فقر کې برابر یو مال زموږ په منځ نیم او تقسیم کړه.

## څنګه یې؟

المروذي[۴۲] وایي: احمد[۴۷] ته مې وویل څنګه یې؟

هغه به ځواب کې وویل هغه څوک به څنګه وي چې رب یې ترې د فرایضو د اداء غوښتنه کوي، نبي یې ترې د سنتو د اداء، دوه ملایکې ورځه د کارونو د سمولو غوښتنه کوي، نفس یې ترې خواهشات لري، ابلیس ترې د فحشاء تر سره کول، د مرګ ملایکه یې د روح اخیستلو ته په څو کې وي، او کورنۍ یې ترې د نفقې غوښتونکې وي؟

## له امام شافعي د امام مالک پوښتنه

امام مالک رحمه الله[۴۸] امام شافعي رحمه الله[۴۹] ته په لاندې مضمون لیک واستاو:

---

۴۲ - ابو بکر المروذي د فقهې د یو امام احمد بن حنبل ملګری و، پلار یې د خوارزم د سیمې اوسیدونکی، چې اوس په جغرافیایي وېش کې په منځنۍ اسیا کې ده، او مور یې د مرو د ښار اوسېدونکې وه، المروذي یو مشهور فقیه، محدث او امام و، په **۲۷۵** هجري کال کې وفات شوی، د امام احمد بن حنبل سره په څنګ کې په بغداد کې خښ کړای شوی دی.

۴۷ - ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل الشیباني د اهل السنة و الجماعة د فقهې د څلورو امامانو له جملې یو امام، محدث او عالم دی، په **۱۶۴** هجري کال کې په بغداد کې زېږېدلی، د وخت د مشهورو علماوو څخه یې شرعي علوم زده کړي، او خپله د فتوی په منصب ناست دی، مشهور علماء یې په شاګردانو کې دي، هغه د خلق القرأن په موضوع کې د عباسي خلفاوو هر یو مامون، معتصم بالله او واثق بالله د واکمنۍ پر مهال د سختو ازمیښتونو سره مخ شوی، او اته ویشت میاشتې زندان یې تېر کړی، په **۲۴۱** هجري کال کې په اوه اویا کلنۍ کې په بغداد کې وفات شوی دی.

۴۸ - ابو عبدالله مالک بن انس بن مالک بن عامر د اهل اسنة و الجماعة له څلورو امامانو یو دی، د هغه مذهب په اسلامي فقه کې په مالکي مذهب یادېږي، نوموړی په **۹۳** هجري کال کې په مدینه منوره کې زېږېدلی، لوی فقیه، عالم، محدث او امام و، قرأن کریم یې په ماشومتوب کې حفظ کړی، د دویم عباسي خلیفه ابو جعفر المنصور د خلافت پر مهال د یو لړ ستونزو سره مخ، او د وخت د حاکم له خوا په درو ووهل شو، د یو شمېر کتابونو لیکوال دی، چې په حدیثو کې د مؤطأ کتاب زیات مشهور دی، په **۱۷۹** هجري کال کې په مدینه کې وفات شوی، او په بقیع هدېره کې خاورو ته سپارل شوی دی.

۴۹ - ابو عبد الله محمد بن ادریس الشافعي چې په امام الشافعي پېژندل کیږي، د اهل اسنة و الجماعة د څلورو مذهبونو څخه د یو مذهب څښتن او امام دی، مذهب یې په شافعي یادېږي، امام شافعي، د تفسیر او حدیثو ستر عالم و، او د اصولو الفقه د علم مؤسس بلل کیږي، هغه په **۱۵۰** هجري کال کې د فلسطین د غزې په ښار کې زېږېدلی او له هغه ځایه یې مور مکې ته په دوه کلنۍ کې له ځانه سره بیولی دی، امام شافعي په اوه کلنۍ کې قرأن کریم حفظ کړی، په لس کلنۍ کې یې د امام مالک د حدیثو کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای امامه!
فرض څه دي؟ فرض الفرض، چې فرض پرې پوره کيږي، لمونځ چې فرض نه دی، هغه لمونځ چې پرېښول يې فرض دي، او د اسمان او ځمکې ترمنځ لمونځ دا ټول څه دي؟
امام شافعي ورته په ځواب کې وليکل:
فرض پنځه وخته لمونځونه دي، د فرضو فرض اودس دی، چې فرض پرې پوره کيږي هغه پر رسول الله درود ويل دي، هغه لمونځ چې فرض نه دی هغه له بلوغ دمخه د ماشوم صغير لمونځ دی، هغه لمونځ چې پرېښودل يې فرض دي هغه د نشه سړي لمونځ دی، د اسمان او ځمکې ترمنځ لمونځ د سليمان عليه السلام دی، او په اسمان او ځمکه کې لمونځ د معراج په شپه د رسول الله صلی الله عليه وسلم لمونځ دی.

## ورته والی

يو سړي اياس بن معاويه[۵۰] ته وويل:
که ما خرما وخوړې په درو مې وهې؟ هغه وويل نه.
بيا سړي وپوښتل:
که يوه کټوی اوبه مې وڅښلې وهې مې؟ هغه وويل نه.
بيا سړي وپوښتل چې د خرما زوښه هم د دې دواړو شيانو ګډوله ده، نو بيا ولې حرام دي؟
اياس وويل:
که په خاوره دې وولم، درد پرې؟ هغه وويل نه.
که يوه کټوی اوبه مې په سر درواړولې سر دې ماتيږي؟ هغه وويل نه.
اياس وويل:
نو که له اوبو او خاورو مې غونډاری جوړ کړ او بيا په لمر وچ شو او ته مې په سر وويشتې بيا به څنګه وي؟
هغه وويل سر به مې مات شي.
اياس وويل دا د هغه پورته مثال په شان دی.

## وهه! دا د عزتمند زوی

انس وايي موږ د امير المؤمنين عمر بن الخطاب سره ناست و، چې د مصر نه يو سړی راغی او ويې ويل:
ای امير المؤمنينه! تاته يو پناه غوښتونکی راغلی.
عمر وويل: اوريدونکي ته رسېدلی يې، څه پېښه ده؟
هغه وويل:

---

الموطأ حفظ کړی، د امام ابو حنيفة فقه يې د هغه د شاګرد امام محمد بن حسن الشيباني څخه زده کړه، ګڼ کتابونه يې ليکلي، د اشعارو يو ديوان هم لري، په ۲۰۴ هجري کال کې په مصر کې وفات شوی دی.

۵۰ - اياس بن معاوية المزني د اوسني سعودي عربستان د يمامة په ښار کې په کال ۴۶ هجري کې زېږېدلی، او بيا يې کورنۍ له هغه ځايه د عراق د بصرې ښار ته کوچېدلې، د هغه زيرکتيا مشهوره وه، اياس په شپږ اويا کلنۍ کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مصر د امیر عمرو بن العاص[۵۱] له زوی نه په اس مخکې شوم، هغه زه په قمچینه ووهلم، او ویل به یې چې زه د عزتمندو زوی یم، له دې یې پلار عمرو خبر شو، هغه وېرېدو چې زه تاته رانه شم او عارض نه شم، نو زه یې په زندان کې واچولم، زه وتښتېدم او تاته راغلم.

عمر بن الخطاب عمرو بن العاص ته په دې مضمون یو لیک ولیږو: چې زما دا لیک در ورسېږ، سمدواره ته او فلانی زوی دې دلته راشئ، او مصري ته یې وویل چې همدلته پاتې شه تر څو هغه راشي.

عمرو د حج موسم ته راورسېدو، له حج وروسته عمر رضی الله عنه د خلکو سره ناست و، عمرو بن العاص او زوی یې هم ورسره وو، مصری پاڅېد او عمر رضی الله عنه دره ورکړه.

انس وايي:

د هغه په وهلو یې پیل وکړ، موږ هم همدا غوښتل چې ویې وهي، دومره یې ووهلو چې موږ غوښتل نور بس کړي.

عمر به ورته ویل: وهه دا د عزتمندو زوی.

بیا مصري وویل:

همدومره بس دی زما بدل واخستل شو.

عمر وویل:

د عمرو په سر یې اوس کېږده، (یعنی هغه هم ووهه).

هغه وویل امیر المؤمنینه، ما هغه څوک وواهه چې زه یې وهلی وم.

عمر ورته وویل، په خدای قسم که دا کار دی کړی وای؛ نو هیچا به دې مخه نه وای نیولې، تر څو خپله نه وی غلی شوی.

بیا حضرت عمر عمرو ته وویل:

ای عمرو! هغه خلک چې له مېندو ازاد زېږېدلي تاسې له کله مریان کړي دي.

## الله به یې له ما پوښتنه کوي

عطاء[۵۲] وايي د عمر بن عبد العزیز له وفات وروسته د هغه مېرمنې فاطمة بنت عبد الملک[۵۳] ته ورغلم، ورته مې وویل:

---

۵۱ - عمرو بن العاص مشهور صحابي دی، نوموړی هغه څوک دی چې کله مسلمانانو له مکې حبشې ته هجرت وکړ، قریشو عمرو بن العاص حبشې ته واستاوه، تر څو د هغه هیواد له پاچا نجاشي څخه غوښتنه وکړي، چې مسلمانان دوی ته وسپاري، او بېرته یې مکې ته راولي، هغه له نجاشي سره له پخوا پېژندل، د هجرت په اتم کال عمرو بن العاص مسلمان شوی، له اسلام وروسته هم رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې دندې ورسپارلي دي، او هم له هغه وروسته حضرت ابو بکر او حضرت عمر، نوموړي د شام او فلسطین په فتوحاتو کې د یو قوماندان او سرلښکر په توګه برخه اخستې، د حضرت عمر د خلافت پر مهال د مصر والي و، او حضرت عثمان بیا معزول کړ، په مصر کې وفات شوی.

۵۲ - ابو محمد عطاء بن ابي رباح د لومړۍ او دویمې هجري پېړۍ فقیه او محدث تابعي عالم و، له ګڼو صحابه کرامو یې احادیث اوریدلي دي، په **۲۷** هجري کال کې د یمن د تعز ښار د الجند په کلي کې زېږېدلی دی، په **۱۱۴** هجري کال کې په مکة مکرمة کې وفات شوی دی.

۵۳ - فاطمة بنت عبد الملک د اموي خلافت د اتم خلیفه عمر بن عبد العزیز مېرمن وه، د پنځم خلیفه عبد الملک بن مروان لور او د څلورم خلیفه مروان بن الحکم لمسۍ وه، د څلورو خلیفه ګانو هر یو ولید، سلیمان، یزید او هشام خور وه، نېکه ښځه وه، چې له یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امیر المؤمنین څه حالات راته بیان کړه.
هغې وویل:
اوس یې وایم، خو که ژوندی وای نه مې ویل، عمر رحمه الله خپل نفس او بدن خلکو ته وزګار کړی و، د ورځې به د هغوی خدمت ته کېناست، که شپه به شوه او د خلکو ضرورتونه به نه و پوره شوي، بیا به یې په شپه کې د هغوی اړتیاوې پوره کولې چې شپه به ښه پخه شوه.
یوه ورځ چې د ورځې له کارونو وزګار شو، څراغ یې راوغوښت، تیل یې هم پکې د خپل جیب له خرڅه واچول، پاڅېد، دوه رکعة لمونځ یې وکړ، کېناست او سر یې په څنګل کېښود، اوښکې یې په اننګیو روانې وې، او له ژړا یې سلګۍ وهلې.
ما فکر کاوه چې سا یې ووته، او زړه یې بهر راووت، شپه یې تر سبا همداسې تېره کړه، بیا یې ورځ روژه ونیوه.
هغه زیاتوي ما ترې وپوښتل:
ای امیر المؤمنینه! له تېرې شپې مخکې څه درپېښ شوي وو؟ هغه وویل، هو! ما په خپل حال پرېږده او خپل کار سره کار لره.
ما ورته وویل:
غواړم زه هم پند واخلم، هغه راته وویل، نو بیا درته وایم:
ما په ځان کې فکر وکړ، چې د دې امت لویه او وړه مسئله، او هره موضوع راسپارل شوې ده، بیا مې یو مسافر او ورک شوی، بې وزله او محتاج، بندي، او داسې نور رایاد کړل، چې د دې هیواد په څنډو کې شته، پوه شوم چې الله تعالی له ما د دوی پوښتنه کوي، او دا چې محمد صلی الله علیه وسلم دلیل دی، نو په ځان باندې داسې ووېرېدم چې له سترګو مې اوښکې روانې شوې، زړه مې وېرې واخیست، او چې څومره مې یادول هومره مې وېره زیاتېده، درته مې وویل نو عبرت واخله او ما پرېږده.

## سفر دې ورسره کړی؟

یو سړي عمر بن الخطاب ته وویل: فلانی ډېر رښتینی دی.
عمر رضی الله عنه ورته وفرمایل: د هغه سره دې سفر کړی؟
ځواب یې ورکړ: نه
لانجه دې ورسره راغلې ؟ نه
کوم امانت دې ورسره ایښی؟ نه
عمر وویل:
نو ته یې په اړه بیا هیڅ نه پوهېږې، فکر کوم په مسجد کې دې لیدلی چې سر ښکته پورته کوي.

---

ارام او سوکاله ژوند وروسته یې چې کله مېره عمر بن عبد العزیز خلیفه شو، او هغه سخت او ستونزمن ژوند غوره کړ، دې مېرمنې هم ورسره هماغه لاره غوره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د غدر نتیجه

پر یو سړي چې کافي اندازه پیسې ورسره وې د بغداد په لوېديځه څنډه کې شپه راغله، په ځان وېرېدو، په پیسو هم وېرېدو، د سیمې یو اوسیدونکي ته ورغلو چې شپه ورکړي، هغه هم کور ته ننویست.
د کور ښځې د مسافر سره له شته ماله خبر شو، د هغه د وژلو او مال د اخستلو نیت یې وکړ، یو ځوان زوی یې هم درلود، هغه یې د سړي سره په یوه خونه کې ویده کړ، زوی یې نه و خبر چې پلار یې څه پلان لري، پلار یې د میلمه ځای معلوم کړ، څراغ یې مړ او له خونې ووت.
تصادفاً د شپې د میلمه ځای ته د کور د ښځې زوی او د هغه ځای ته میلمه راغلی، په نیمه شپه کې د کور ښځې د میلمه په ځای کې د ویده خپل زوی مری خفه کړه او ویې واژه، خو په شور یې میلمه راویښ شو، له کوره ووت، چغې یې کړې، مرسته یې غوښته اوګاونډیا یې هم راټول شول.
هغوی سړی ونیو، هغه د خپل زوی په وژلو اقرار وکړ، او بندي شو، او د میلمه پیسې یې له کوره واخستل شوې، اوهغه ته ورکول شوې.

## یو کال د ورکې ساتل

هشام بن خالد الربعي وايي:
یو مسجد ته ولاړم، د زر درهمو کڅوړه راسره وه، نور راسره هیڅ نه و، هغه مې د یوې ستنې په اړخ کې کېښوده، لمونځ مې وکړ؛ خو د کڅوړې اخیستل مې هېر شول، وروسته رایاد شول او سخت یې خفه کړم، په ورکېدو یې زما حالت سخت خرابه شو، او یو کال مې د هغې په اړه چاته ونه ویل.
یو کال وروسته مې بیا هماغه مسجد کې او هماغې ستنې څنګ ته لمونځ وکړ، دعا مې کړه چې ماته الله زما کڅوړه بېرته راواپس کړي، په څنګ کې مې بوډۍ ښځه ناسته وه، هغې راته وویل:
څه مې واورېدل چې تا یادول؟
ما ورته وویل چې یوه کڅوړه وه، تېر کال مې دلته هېره شوې وه.
ښځې وویل:
دا خو زما سره ده، له یو کال راهیسې تا پسې ګرځم، کڅوړه یې راوړه هماغه مهر پرې لګیدلی و. (یعنی پرانیستل شوې هم نه وه).

## د دوستانو لیدنه

عبد الله بن مسعود [۵۴] به ویل:

---

[۵۴] - ابو عبد الرحمن عبد الله بن مسعود الهذلي مشهور جلیل القدر صحابي دی، هغه فقیه، قاري او محدث و، ګڼ احادیث ترې روایت شوی، په لومړیو مسلمانانو کې دی، په روایاتو کې راغلي چې یا اوم مسلمان و، یا درویشتم هغه څوک و چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم یې ایمان راووړ، په مکه مکرمه کې د مشرکانو له خوا وځورول شو، او یې زغمل، حبشې او مدینې دواړو ته یې هجرت کړی، په مدینه منوره کې هم د نبي الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کې و، د رسول الله له وفات وروسته یې په غزواتو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ به د خپلو ورونو (نورو مسلمانانو) پوښتنه کوله، که هغه به ناروغ و؛ نو د ناروغ پوښتنه به وشوه، که مصروف به و، مرسته به مو ورسره وکړه، او که بل څه به و نو محض زيارت او ليدنه خو به وشوه.

# څوک چې پښه غزوي لاس نه غزوي

سلطان عبد العزيز[۵۵] مصر ته ولاړ او هلته يې د الازهر له پوهنتون ليدنه وکړه، خديوي اسماعيل[۵۶] هم ورسره و، خديوي وليدل چې د جامعې يو شيخ دوی ته هيڅ اهتمام او پاملرنه نه کوي، تکيه يې وهلې او پښه يې غزولې، سلطان يې ورڅخه ژر تېر کړ، او بيا يې يو چاته وويل، چې شيخ ته دا کڅوړه يوسي، چې پيسې پکې دي، نيت يې و چې هغه ځان ته رامايل کړي، او راشي د دوی پوښتنه وکړي.
کله چې شيخ ته د کڅوړې سره سړی ورغی، هغه ترې لاس ونيو، او ورته يې وويل:
هر چا چې را استولی يې، ورته ووايه: څوک چې پښه غزوي لاس نه غزوي.

# جنت ته ولاړ، خو يو رکعت لمونځ يې هم نه و کړی

رسول الله صلی الله عليه وسلم د خيبر يوه کلا محاصره کړې وه، يو تک تور شپون يې په حضور کې حاضر شو، مېږې هم ورسره وې، دې شپون د يو يهودي سره په مزدورۍ کار کاوه، رسول الله ته يې وويل:
ای د خدای پيغمبره! اسلام راته وښيه، هغه ورته وښود، مسلمان شو او ويې ويل:
ای د خدای رسوله! زه د دې مېږو د څښتن مزدور يم، او دا زما سره امانت دی، څه پرې وکړم.
رسول الله ورته وفرمايل:
په مخونو يې ورووهه، خپل څښتن ته به ورسيږي.
تور شپون په موټي کې شګې راپورته کړې، او د مېږو په مخ يې ورووېشتې، او ورته يې وويل:
ورځئ خپل څښتن ته، والله که نور درسره ملګری شم.

---

ګډون کړی، د عمر بن الخطاب په خلافت کې د بصرې قاضي او د بيت المال مسئول و، د عثمان رضی الله د خلافت په لومړيو کې هم په دې دنده پاتې شو، په ۳۲ هجري کې په مدينه منوره کې وفات شوی، او د بقيع په هديره کې خښ شوی دی.
[۵۵] - سلطان عبد العزيز الاول د عثماني دولت سلطان و، په ۱۸۳۰ ميلادي کال کې زېږېدلی، پلار يې سلطان محمود الثاني نومېدو، په ۱۸۶۱ ميلادي کال کې په تخت ناست دی، او په ۱۸۷۶ کال کې عزل کړای شو، هغه يوازينی سلطان و چې بهرنيو هيوادونو لکه مصر، المان، فرانس، او برتانيې ته يې سياسي سفرونه کړي، او د واکمنۍ پر مهال يې هيڅ جنګونه نه دي شوي، په ۱۸۶۳ ميلادي کال کې يې مصر ته سفر کړی و، له تخته تر کوزېدو څلور ورځې وروسته مړ شو، داسې هم ويل کيږي چې ځانوژنه يې کړې، له ده وروسته يې وراره سلطان مراد الخامس د عثماني دولت واکمن شو.
[۵۶] - الخديوي اسماعيل بن ابراهيم باشا په ۱۸۳۰ميلادي کال کې زېږېدلی، د عثماني دولت په چوکاټ کې او تر واکمنۍ لاندې د مصر حاکم مقرر شوی و، هغه د علوي کورنۍ څخه د مصر پنځم حاکم و، په اروپا کې يې زده کړې کړي، د عثماني حاکم سلطان عبد المجيد الاول د واکمنۍ پر مهال يې د عثماني دولت په پلازمېنه استانه کې لوړې دندې تر سره کړي، په ۱۸۶۳ ميلادي کال کې د خپل تره محمد سعيد باشا تر وفات وروسته د مصر حاکم شو، هغه د مصر د خپلواکۍ لپاره کار وکړ، د مصر په دولت کې يې ګڼ اصلاحات راوستل، خو په داخل او خارج کې د يو شمير ستونزو او فشارونو له کبله په کال ۱۸۷۹ ميلادي کې د سلطان عبد الحميد الثاني له خوا له دندې ګوښه او محمد توفيق باشا د مصر حاکم وټاکل شو، اسماعيل خديوي په ۱۸۹۵ ميلادي کال کې د ترکيې په استانبول ښار کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرېږي په ډله رواني شوې، داسې لکه يو څوک يې چې رهبري کوي، کلا ته داخلې شوې، او بيا شپون کلا ته ورمخکې شو، تر څو د مسلمانانو سره څنګ په څنګ وجنګيږي، په يوه ډېره ولګېد، او مړ شو، په داسې حال کې چې يو رکعة لمونځ يې هم نه و کړی، رسول الله ته راوړل شو، د هغه څنګ کې کېښودل شو، يوه ټوټه پرې هواره وه، رسول الله وروکتل، يو شمير اصحاب هم ورسره وو، او بيا يې ترې مخ واړاوه.
پوښتنه وشوه ولې دې ترې مخ وګرځولو؟
رسول الله وفرمايل (د هغه سره يې د حور العين څخه مېرمن ناسته ده، او له مخ يې خاورې لرې کوي).[57]

## زه شاعر نه يم

يو طفيلي سړي څو کسان وليدل او فکر يې وکړ چې د وليمې بلنې ته روان دي، د هغوی سره ملګری شو، خو هغوی شاعران و او د پاچا دربار ته تلل چې ستاينه يې په شعر کې وکړي، هلته هر يو شعر ووايه، او خپله جايزه يې واخيسته،او طفيلي پاتې شو، غلی ناست و.
چا ورته وويل: شعر دې وايه، طفيلي وويل:
زه شاعر نه يم.
ښه نو څوک يې؟
زه له هغه بې لارې خلکو نه يم چې الله يې په اړه ويلی (والشعراء يتبعهم الغاوون)
پاچا د دې ځواب نه په خندا شو او هغه ته يې هم جايزه ورکړه.

## ته د ولايت لپاره وړ نه يې

الاقرع بن حابس[58] امير المؤمنين عمر بن الخطاب ته په داسې حال کې ورننوت چې هغه د ماشومانو سره لوبې کولې، ماشومان يې د متو او ملا پورې ښتي وو، اقرع وويل:
دا څه دي امير المؤمنين؟ ايا تاسې د اولادونو سره داسې کوئ؟
عمر متوجه شو، ويې پوښت؟ او ته اقرعه! ته په کور کې څه کوې؟
اقرع:

---

[57] - يو مشهور صحابي چې عمرو بن ثابت بن وقيش رضی الله عنه نوميږي، چې په الأصيرم پېژندل کيږي، هم د احد د غزا پر مهال مسلمان شو، او په همدې غزا کې ټپي او مړ شو، هغه هم يو رکعت لمونځ نه و کړی، خو په پورتنۍ واقعه کې ذکر شوی تن بل څوک دی.

[58] - اقرع بن حابس بن عقال اصلي نوم يې فراس و، د بني تميم د قبيلې له مخورو شمېرل کېده، نوموړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د خپلو قوميانو په ډله کې راغلو، او رسول الله ته يې وويل چې موږ خپل غښتلی شاعر راوستی، ستا سره مشاعره اومفاخره کوو، رسول الله وويل چې زه د شعر او تفاخر لپاره نه يم استول شوی، خو بيا هم راولئ څوک دی، د رسول الله په مخ کې هغوی خطبه او شعر ووايه، او د رسول الله اصحابو يې ځواب ووايه، او بيا حابس خپلو قوميانو ته وويل چې د هغوی شاعر او خطيب دواړه له موږ غوره وو، رسول الله ته ورنږدې شو، او اسلام يې قبول کړ، په يو شمير غزواتو کې يې د خالد بن الوليد سره ګډون کړی، د حضرت عثمان بن عفان د خلافت پر مهال يې د يو لښکر مشري کوله او د افغانستان د جوزجان تر ولايت پورې رسېدلی دی، په ۳۱هجري کال کې په جوزجان کې په شهادت رسيدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې زه کور ته ننوځم، ناست خلک راپاځيږي، خبرې کوونکي غلي شي، حتی ويده هم ځان سم کړي، زما لس اولادونه دي، تر اوسه مې يو هم نه دی ښکل کړی، عمر ورته وويل:
په داسې حال کې ته د دې وړ نه يې چې د مسلمانانو والي شې، د هغه د منفک کولو امر يې وکړ.

## جنت ته مې زړه وشو

رجاء بن حيوة[۵۹] -د عمر بن عبد العزيز وزير- وايي هغه مهال چې عمر بن عبد العزيز د مدينې منورې والي و، زه ورسره وم، ويې ليږلم چې رخت ورته واخلم، په پنځه سوه درهمه مې ورته کالي واخيستل، کله يې چې وليدې ويې ويل:
دا ښې دي؛ خو چې قيمت يې کم نه وای.
کله چې د مسلمانانو خليفه شو، بيا يې د رخت اخيستلو پسې واستولم، ما ورته په پنځه درهمه جامې واخيستې، چې ويې ليدې ويې ويل:
دا ښې دي، خو چې قيمت يې زيات نه وای.
رجاء وايي چې د هغه خبره مې واورېده په ژړا شوم.
عمر وويل:
ولې ژاړې رجاء؟
ما وويل:
کلونه وړاندې دې د خپل لباس کيسه را ياده کړه، او چې تا څه ويلي و.
بيا عمر رجاء ته وويل چې زه تا ته د دې موقف راز ښکاره کوم او ويې ويل:
ای رجاء! زه شوقي نفس لرم، چې يوه غوښتنه يې پوره کړم، له هغې پورته بل شی غواړي، زړه مې وغوښتل چې د تره عبد الملک د لور فاطمې سره واده وکړم، واده مې ورسره وکړ، بيا مې زړه مشرۍ ته وشو، نو مشري راکړل شوه، بيا مې خلافت ته زړه وشو، تر لاسه مې کړه، اوس مې جنت ته زړه شوی دی، نو غواړم چې جنتي و اوسم.

## ساده او کوهي

يو ساده سړی په کوهي کې وکتل، هلته يې خپل ځان وليد، راغی مور ته يې وويل:
په کوهي کې غل دی.
مور يې راغله، ويې کتل د کوهي ابو کې يې خپله څېره وليده ويې ويل:
هو والله او يوه بدکاره ښځه هم ورسره ده.[۶۰]

---

۵۹ - رجاء بن حيوة الکندي فقيه عالم او تابعي دی، د فلسطين په بيسان سيمه کې په عيسايي کورنۍ کې زېږېدلی، پلار يې حيوة هغه مهال مسلمان شو، کله چې مسلمانانو فلسطين فتح او عمر بن الخطاب هلته سفر وکړ، هلته يې خطبه وويله، او ټوله کورنۍ يې مسلمانه شوه، رجاء د معاذ بن جبل شاګردي وکړه، د عمر بن عبد العزيز سره ملګری و، وزير يې و، په ۱۱۲ هجري کال کې وفات شوی دی.
۶۰ - پښتو کې هم دا کيسه په ډول ډول توپيرونو سره مشهوره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## داسې

مشهور عربي اديب او ليکوال جاحظ[۲۱] زيات بدرنګه خو ټوکي و، ځان پورې يې هم مسخرې کولې، خپله يې کيسه کوله چې د کور د دروازې مخې ته ولاړ وم، يوه ښځه راغله راته يې وويل:
تا ته څه اړتيا لرم، که راسره لاړ شې، چې اړتيا پوره شي.
جاحظ وايي ورسره روان شوم، د زرګر دوکان ته ورسېدو، نقاش ته يې وويل:
داسې، ماته يې اشاره وکړه، او لاړه.
ما له زرګر پوښتنه وکړه، د دې ښځې څه مطلب و؟ هغه راته وويل:
دې ښځې ماته د ګوتمې منځ کې اېښودل کېدونکې غمی راوړ، راته يې وويل، چې د شيطان شکل پرې رسم کړم، ما ورته وويل ما شيطان نه دی ليدلی، نو ته يې راوستې او نور خو تا واورېدل.

## دا په منبرونو بدعت دی

د جمعې په ورځ خطيب خطبه کوله او فرمايل يې:
ای خلکو! الله تعالی بدنونه پيدا کړي، روحونه يې پکې اچولي؛ نو خلک کله د دې مالکان شوی چې له بدنونو روحونه وباسي؟
دا مهال يې باد ووتل، لمانځه ته راغلی يو سړی پاڅېد او په لوړ اواز يې غږ کړ:
اما بعد:
په تشنابونو کې د روحونو وتل سنت؛ خو په منبرونو بدعت دی، و استغفرالله لي ولکم.

## د خپلې ناپوهۍ په اندازه پورته شوی يم

يو عالم په منبر ناست و، د يوې مسئلې پوښتنه ترې وشوه، هغه وويل نه پوهيږم، ورته وويل شول منبر د جهل ځای نه دی.
عالم وويل:
زه د علم په اندازه پورته شوی يم، که د جهل په اندازه پورته شوی وای نو اسمان ته به رسېدلی وای.

---

[۲۱] - ابو عثمان عمرو بن بحر بن محبوب الجاحظ الکناني مشهور عربي ليکوال، او اديب دی، په عربي ادب کې امام بلل کيږي، په کال **۱۵۹** کې د عراق په بصره ښار کې زيږېدلی، تک تور و، په ټوکو او مسخرو يې هم شهرت درلود، د ګڼو کتابونو ليکوال دی، په ادب او طنز کې يې کتاب البخلاء ډېر مشهور دی، په **۲۵۵** هجري کال کې وفات شوی، ويل کيږي د عمر په اخر کې کمزوری شوی و، يوه ورځ په خپل کتابتون کې ناست و، مطالعه يې کوله، له الماری پرې کتابونه راوغورځېدل او مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خلکو ته مه وایه چې ما ژغورلی یې

حجاج بن یوسف الثقفي[۲۲] په سیند کې لامبل، اوبو واخیست، او نږدې وه غرق شي، یو چا وژغورلو، کله یې چې وچې ته راکش کړو، حجاج وویل:
څه غواړې؟ غواړه دربه کړل شي.
سړي وویل:
ته څوک یې چې زما هره غوښتنه منلای شې؟
حجاج:
زه حجاج بن یوسف الثقفي یم.
زما یوه غوښتنه ده، هغه دا چې د خدای په روی درنه دا غوښتنه لرم، خلکو ته ونه وایې چې ما ژغورلی یې.

## کېدای شي هغه ښه او زه بده یم

اصمعي وایي بېدیا ته ووتم، هلته یوه ډېره ښایسته ښځه وه چې مېړه یې ډېر بدرنګه و، ما ښځې ته وویل د دې سړي سره ژوند ته څنګه راضي شوې یې؟
هغې وویل:
ګوره سړیه! کېدای شي زما خاوند په هغه څه کې چې د الله سره یې مخه ده ښه کړي وي، نو زه یې په ثواب کې ورکړې یم، او ما بد کړي وي؛ نو دا سړی یې ماته په جزا کې راکړی دی.

## پټ مې کئ

د یو سړي یو زوی د نحوې په علم کې ماهر و، په خبرو کې به یې زیات تعمق کاوه، پلار یې ناروغ او مرګ ته نږدې شو، اولادونه یې پرې راټول شول ورته یې وویل:

---

[۲۲] - ابو محمد الحجاب بن یوسف الثقفي په **۴۱** هجري کال کې په طائف ښار کې زېږېدلی، طائف اوس د سعودي عربستان برخه ده، فصیح خطیب، ښه ویناوال و، د قرأن کریم زده کړه یې له کوچنیوالي کړې، په ځوانۍ کې د ماشومانو استاد و، ځوانانو ته به یې قرأن کریم او حدیث ښودل، په فقهي مسائلو کې یې پوهه درلوده، د حجاج د ځوانۍ په وخت کې طائف د عبد الله بن الزبیر او د امویانو تر منځ پرته سیمه وه، ویل کیږي، چې د عبد الله بن الزبیر پلویانو د طائف پر خلکو سختي وکړه، ویل کیږي حجاج له دې چلند تنګ راغلو، عبدالله یې ښه نه ایسیدو د امویانو پلازمېنې ته په شام کې ولاړ، د عبد الملک بن مروان زړه یې وګټلو، هغه د امنیت مشر کړ، او په کرار کرار پوځ ته داخل شو، بیا یې د عبد الله بن الزبیر پر ضد جګړو مشري وکړه، په **۷۳** هجري کال کې یې عبدالله بن الزبیر په مکه مکرمه کې محاصره کړ، ویل کیږي پر کعبه یې د منجنیق ګوزارونه هم وکړ، هلته یې عبد الله ابن الزبیر وواژه، عبد الملک بن مروان لومړی هغه د مکې او مدینې یعنی حجاز والي کړ، د خلکو له شکایت وروسته د عراق والي شو، د خوارجو سره یې زیاتې جګړې کړي، د سند فاتح محمد بن قاسم د حجاج د تره زوی و، او هغه د سند د نیولو لپاره د پوځ مشرۍ ته غوره کړی و، همدا راز حجاج بن یوسف د عبد الملک بن مروان په امر د قرأن کریم په لیک د نقطو او زور زېر کېښولو اهتمام هم وکړ، حجاج بن یوسف په **۹۵** هجري کال کې وفات شوی دی. حجاج په ظلم شهرت درلود، نو ځکه په پورته کیسه کې ترې ژغورونکي غوښتنه کړې، چې خلکو ته و نه وایي چې دا ظالم یې ژغورلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ فلانی نحوي ورور به هم راوغواړو؟
خو پلار يې وويل:
نه! که راغلو وژني مې.
اولادونو يې وويل:
پوه به يې کړو، چې ډېرې خبرې ونه کړي.
کله چې نحوی زوی راغی، پلار ته يې وويل:
پلارجانه! والله چې راتلم؛ خو هغه فلاني مصروف کړم، هغه پرون وغوښتم فأهرس، و أعدس، استبزج، و سكبج، وطهبج، و أفرج، و دجج، و أبصل، و أمضر، ولوذج، و افلوزج.[٢٣]
پلار يې چغې کړې:
پټ مې کئ دا بدمرغه خو له ملک الموت څخه هم زما د روح په اخيستلو کې مخکې شو.

## د باغچې د څښتن کيسه

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي:
يو سړی په دښته کې روان و، چې له وريځو يې اواز واورید ويل يې:
د فلاني باغچه اوبه کړه، وريځ راتاو شوه، او اوبه يې ټولې د تورو ډبرو په ځمکه تويې کړې، او هلته د اوبو يوې وياله کې ټولې اوبه رايو ځای شوې، سړی د اوبو سره روان شو، ويې ليدل چې د باغچې څښتن په بېل اوبه اړوي.
ورته يې وويل:
نوم دې څه دی؟
هغه نوم يې واخيست چې له وريځو يې اوريدلی و.
هغه ورپوښتل چې د نوم پوښتنه مې ولې کوې؟
ده ورته کيسه وکړه، چې ستا نوم مې له وريځې اورېدلی، نو ته په دې باغ کې څه کوې؟
د باغچې څښتن وويل:
اوس چې تا دا وويل، زه به هم درته ووايم، زه د دې باغچې حاصلات درې برخې کوم، يوه برخه يې خيراتوم، دويمه يې خپله خورم او درېيمه يې بېرته کرم.[٢٤]

## ښکاري بايد ښښنه وکړي

يو ښکاري سهار وختي د حلال رزق په تکل ووت، جال يې سيند ته وغورځاوه؛ خو هيڅ په لاس ورنه غلل، الله ته يې زارۍ پيل کړې چې اولادونه يې په کور کې وږي دي، او له لوږې چغې وهي، لمر په پريوتو و چې يو غټ

---

[٢٣] -دا ټول د خوراکونو نومونه دي، چې نحوي زوی يې په سختو صيغو سره يادونه کړې ده، نه دا چې په اسانه ټکو د خوراکونو تشريح وکړي.

[٢٤] - دغه حديث ابو هريرة رضی الله روايت شوی، او صحيح مسلم کې ذکر شوی دی، مرفوع حديث دی، مرفوع حديث هغه وي، چې صحابي خپله له رسول الله د هغه قول يا فعل نقل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کب یې ونیو، د الله شکر یې اداء کړ، او په خوشحالۍ کور ته روان شو، خو تصادفاً دا مهال پاچا هم د چکر لپاره راوتلی و، ښکاري یې ولید، پاچا ته حاضر کړای شو، د پاچا کب خوښ شو، او په زور یې ترې واخیست.
پاچا خپلې ماڼۍ ته ولاړ، غوښتل یې مېرمنه په دې کب خوشحاله کړي،د هغې په مخ کې یې راوویست، خو کب تاو شو، او د پاچا په ګوته یې خوله ولګوله، پاچا له دې خولې د شپې ارام ونه کړ او نه ویده شو، طبیبان راغلل، هغوی ورته د ګوتې د پرې کولو مشوره ورکړه، اوګوته پرې شوه، خو پاچا ارام نه شو، بیا د لاس پرې کولو؛ خو بیا هم پاچا ارام نه شو، او چغې به یې وهلې.
بالاخره مټ یې پرې کړای شو، د پاچا د بدن درد ارام شو، خو نفس یې ارام نه و، مشوره ورکړل شوه چې یو غټ طبیب ته ولاړ شي، هلته ورغلو او ټوله کیسه یې ورته وکړه.
طبیب وویل:
تر څو چې ښکاري بښنه ونه کړي، ته نه ارامېږې، پاچا د ښکاري پسې وګرځېد، پیدا یې کړ، او له هغه یې بښنه وغوښته، هغه ورته بښنه وکړه، خو پاچا ترې وپوښتل چې زما په اړه دې څه ویلي:
ښکاري وویل:
هیڅ نه یوازې یوه جمله، هغه دا چې «ای خدایه دې سړي ماته خپل زور وښود، ته په دې کې ماته خپل قدرت څرګند کړه».

# الله د شاهد په توګه بس دی

ابو هریرة رضی الله عنه وایي، رسول الله وفرمایل:
په بني اسرائیلو کې یو سړی و، چې له یو چا یې د زر دیناره قرض غوښتنه وکړه، هغه ترې شاهدان وغوښتل سړي ورته وویل الله شاهد بس دی.
بیا یې ترې د کفیل پوښتنه وکړه یعنی ضامن، هغه وویل الله کفیل کافي دی.
قرض ورکوونکي راضي شو، او هغه ته یې تر یو ټاکلي وخت پور ورکړ.
قرضدار په یو بحري سفر ووت، خپله اړتیا یې پوره کړه، بیا د یوې کښتۍ په لټه کې شو، چې ټاکلي مودې ته ورسیږي، خو کښتۍ نه وه، یو لرګی یې واخیست، منځ یې خالي کړ، او زر دیناره یې پکې کېښودل، یو لیک یې هم ورسره د پیسو مالک ته ولیکه، او د لرګي خوله یې بنده کړه، لرګی یې بحر ته راوړ او ویې ویل:
ای خدایه! ته پوهېږې چې ما له فلاني زر دیناره اخستي، ما ته د کفیل او شاهد په توګه ورکړی یې، او هغه پرې راضي شوی دی، اوس مې کوښښ وکړ چې کښتۍ ومومم خو بریالی نه شوم، زه دا پیسې ستا په امانت کې ږدم او هغه لرګی یې په بحر کې وویشت ،او ډوب شو.
سړی ستون شو؛ خو بیا هم د کښتۍ په لټه کې و، څو خپل ښار ته ولاړ شي.
بل پلو قرض ورکوونکي هم انتظار کاوه، چې کېدای شي کومه کښتۍ راشي، او پوروړی یې پکې وي، څه ګوري چې یو لرګی یې ولید، دینار پکې دي، راوایې اخیست، د دینارو سره یو لیک هم دی.
موده وروسته پوروړی راغلی او زر دیناره یې راوړل، ورته یې وویل: والله ما د کښتۍ لټه کوله چې تاته قرض راورسوم، خو بریالی نه شوم.
هغه ورته وویل:
ایا ماته دې څه شی استولی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرضدار:
ما خو درته وویل، چې ما کومه کښتۍ پیدا نه کړه چې تاته راشم.
د پور مالک وویل:
الله تعالی له تا څخه هغه قرض اداء کړ، چې په لرګي دې استولی و، خپل زر دیناره دې وړه.[۲۵]

## زه اول پښ وم اوس ترکاڼ یم

امام شافعي او محمد بن حسن[۲۶] روان وو، یو سړی یې ولید امام شافعي وویل دا ترکاڼ دی، محمد بن الحسن وویل دا پښ دی.
له هغه یې پوښتنه وکړه، سړي وویل اول پښ وم اوس ترکاڼ یم.[۲۷]

## خپل باغ ته ستون شه

کیسه کا چې یو پاچا د خپلې ماڼۍ پر بام ولاړ و، یوه ښځه یې ولیده چې د خپل کور په بام ختلې او ډېره ښایسته ده، له خپلې یوې وینځې یې وپوښتل چې دا د چا ښځه ده؟ ورته یې وویل دا ستا د نوکر فیروز مېرمن ده.
ښځې له پاچا زړه وړی و، خپل نوکر یې راوغوښت او ورته یې وویل: فیروزه، دا لیک واخله، فلاني ښار ته یې یوسه او بېرته یې د ځواب سره راشه.
نوکر لیک واخیست، کور ته ولاړ، د شپې یې لیک د بالښت لاندې کېښود، ځان یې سفر ته چمتو کړ، سهار یې د کورنۍ سره مخه ښه وکړه، د پاچا په امر روان شو، خو نه پوهېدو چې پاچا ورته دسیسه جوړه کړې.
په همدې ورځ پاچا د نوکر کور ته ورغی، دروازه یې وټکوله د فیروز مېرمن حیرانه شوه، چې پاچا یې په خپله دروازه کې ولېدو، پاچا وویل:
یوازې لیدلو ته راغلی یم.
خو ښځې وویل دا څنګه ملاقات دی، ماته پکې خېر نه ښکاري.
پاچا:

---

[۲۵] - دا حدیث شریف له ابو هریرة رضی الله عنه روایت شوی، او مرفوع حدیث دی، د حدیثو په کتاب صحیح البخاري کې هم ذکر شوی دی.

[۲۶] - محمد بن حسن الشیباني لوي فقیه او محدث عالم دی، د امام ابو حنفیة شاګرد و، د عراق د واسط په ښار کې په کال **۱۳۱** هجري قمري کې زېږېدلی، له امام ابو حنیفة، امام مالک بن انس، سفیان ثوري، اوزاعي، او ګڼو نورو مشهورو علماوو یې زده کړې کړې، هغه له ابو یوسف وروسته د امام ابو حنیفة په دویم ملګري پېژندل کیږي، د ابو حنفیة فقهي مذهب د همده له لارې زیات شهرت موندلی، د هارون الرشید په خلافت کې قاضي و، ګڼ شاګردان یې روزلي، امام الشافعي هم د هغه په شاګردانو کې شمېرل کیږي، د ګڼو کتابونو لیکوال دی، په **۱۸۹** هجري کال کې په واسط کې وفات شوی دی.

[۲۷] - دا څو کرښې د حقاني علماوو فراست او بصیرت څرګندوي، هغه علماء چې د انسان په لیدلو سره به د هغه په حالت پوهېدل، لکه چې د امام ابو حنیفة په اړه هم ویل کیږي، هغه به چې څوک په اوداسه ولید ، پوهېدو به چې دا بنده په کومو ګناهونو کې مبتلا دی او بیا به یې هغه ته نصیحت کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلاکه شې، زه پاچا یم، ستا د مېړه بادار یم، فکر نه کوم چې ته به ما نه پېژنې؟

مېرمن:

بلکې ومې پېژندې باداره، خو دا مې هم اورېدلي دي چې:

ښځې لاندې بیتونه وویل:

ستاسې اوبو ته به ورنه شم
دا ځکه چې هلته زیات خلک ورځي
کله چې په خوراک کې مچ پریوزي
که څه هم زړه مې ورته کیږي
لاس ترې نیسم
او زمري هغو اوبو ته نه ورځي
کومو کې چې سپي خوله وهلې وي

بیا یې زیاته کړه:

ای پاچا! ته داسې یو ځای ته راغې چې ستا سپي هم پکې شریک دی، پاچا خجل شو، ووت خو یوه پڼه یې هلته هېره شوه.

له بلې خوا نوکر د بادار د امر پر ځای کولو پسې روان و، خو کله یې چې لیک ولټولو پېدا نه شو، ورياده شوه، چې هغه یې د بالښت لاندې هېر شوی دی، بېرته کور ته راستون شو، په داسې حال کې راورسېد چې پاچا له کوره وتلی او پڼه یې پاتې وه، ماغزه یې ګډوډ شول، او پوه شو چې پاچا ورته کومه دسیسه جوړه کړې.

غلی شو، هیڅ یې ونه ویل، لیک یې واخیست، ولاړ بېرته راستون شو، پاچا سل دیناره انعام ورکړ، هغه لاړ و بازار کې یې پرې د ښځو توکي واخستل، خپلې مېرمنې ته یې ښایسته ډالۍ چمتو کړه، کور ته راغی، ښځې ته یې وویل:

پاڅه چې د پلار کور ته دې ځو.

هغې وپوښتل: ولې؟

فیروز وویل:

پاچا ماته انعام راکړی، او زه غواړم چې ته دې هغه د پلار کورنۍ ته ښکاره کړې، ښځه هم ورسره د پلار کره روانه شوه، ټول خوشحاله شول، په دې هم خوښ و چې لور یې څه راوړي و، هلته یې میاشت تېره کړه، په دې موده کې یې نه مېړه یاده کړه او نه یې پوښتنه وکړه.

اوښې یې راغی او ورته یې وویل، یا به د خپلې غوسې علت ښیې، او یا به پاچا ته خپله پرېکړه وړو، فیروز وویل:

که تاسې غواړئ پاچا باندې فیصله وکړئ، خوښه مو؛ خو نور د هغې ښځې کوم حق پر ما نه شته.

ټول قاضي ته په داسې حال کې ولاړل، چې پاچا یې هم په څنګ کې ناست و.

د مېرمنې ورور وویل:

ما دې هلک ته یو باغ په اجاره ورکړی و، چې دیوالونه یې جوړ و، او د اوبو کوهی پکې و، ودان و، ونو یې میوې ورکولې، دې هلک یې میوې وخوړې، دیوالونه یې ونړول او کوهي یې خرابه کړ.

قاضي هلک ته مخ کړ، او ویې ویل:

فیروزه ته څه وایې؟

هغه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاضي صيب! باغ مې اخستی و، خو په لا ښه حالت کې مې ببرته ورسپارلی دی.
قاضي پوښتنه وکړه همداسې ده؟
د فیروز اوښي وویل:
هو؛ خو زه یې د ببرته راواپس کولو په علت پوهېدل غواړم.
قاضي:
فیروزه څه وایې؟
فیروز:
قاضي صيب! له دې امله مې نه دی واپس کړی، چې باغ مې نه خوښېږي، بلکې یوه ورځ راغلم هلته مې د زمري نښې ولیدې، (یعنی د پاچا پښه) ووېرېدم چې زمری به مې ووژني، نو د زمري د عزت له کبله باغ ته له ننوتلو منع شوم.
دا مهال پاچا تکیه کړې وه، راکېناست، او ویې ویل:
ای هلکه! خپل باغ ته ستون شه، هېڅ خطر مه احساسوه، والله چې زمری باغ ته داخل شوی؛ خو کومه نښه یې پکې نه ده پرېښې، نه یې ترې پاڼه غوښتې، نه مېوه او نه بل څه، ډېر کم وخت یې هلته تېر کړی، او نور ببرته وتلی دی، او قسم په خدای چې دې زمري ستا د باغ په څېر بل نه دی لیدلی، او نه یې د دې باغ د دیوالونو په څېر ساتونکي نور لیدلي دي.
فیروز ببرته راغی، مېرمن یې هم راوسته، خو په دې ټوله کیسه نه قاضي او نه بل څوک پوه شول چې څه شوي دي.

## زړونه مړه شوي

کیسه کا چې ابراهیم بن ادهم رحمه الله تعالی په بصره کې له یوه بازاره تېرېدو، خلک ورته راټول شول او ورته یې وویل:
څه علت دی چې موږ دعا کوو او نه قبلیږي؟!
هغه ورته وویل ستاسې زړونه د لسو شیانو له کبله مړه شوي:
۱-الله مو وپېژندو؛ خو حق مو یې اداء نه کړ.
۲-ګومان کوئ چې د الله د رسول سره مینه لري؛ خو د هغه سنت پرېږدئ.
۳-قرآن لولئ؛ خو عمل مو پرې نه دی کړی.
۴-د الله نعمتونه خورئ؛ خو د الله شکر نه اداء کوئ.
۵-وایئ چې شیطان مو دوښمن دی؛ خو بیا هم ورسره موافقې کوئ.
۶-وایئ چې جنت حق دی؛ خو د حصول لپاره یې عمل نه کوئ.
۷-وایئ چې اور حق دی؛ خو نه ترې تښتئ.
۸-وایئ چې مرګ حق دی؛ خو تیاری ورته نه کوئ.
۹-د خلکو عیبونو ته ګورئ؛ خو خپل مو هېر دي.
۱۰-خپل مړي خښوئ؛ خو عبرت ترې نه اخلئ.
په همدې معنی چا دا شعرونه هم ویلي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ په هر غم کې الله ته دعا کوو
بیا له غمونو وروسته الله هېروو
څنګه د دعا د قبلیدو هیله لرو؟
چې موږ یې لاره په ګناهونو بنده کړې

## د اولاد په هکله

معاویه له احنف بن قیس[۲۸] نه وپوښتل چې ته په اولاد کې څه وایې؟
هغه وویل:
ای امیر المؤمنین! دوی زموږ د زړونو میوې دي، د ملاګانو ستنې مو دي، موږ د دوی لپاره لاندې ځمکه یو، او سیوری کوونکی اسمان یو، که څه وغواړي ورکوو یې، او که غوسه شي رضا کوو یې، دوی به تاته مینه درکړي، د دوی خواري به درته ګرانه شي، پر دوی درند مه ږه، چې ستا له ژونده به ستړي شي، او ستا مرګ به دوست ګڼي.
معاویه وویل:
خدای دې درسره ښه شي احنفه! ته داسې وخت کې راغلې چې یزید[۲۹] ته سخت غوسه وم، دا غوسه یې زما له زړه و ایسته.
کله چې احنف ووت، معاویه یزید ته دوه سوه زره درهمه او دوه سوه جوړه لباس واستاوه، یزید احنف ته سل زره درهمه او سل جوړه جامې واستولې، یعنی هر څه یې ورسره نیمایي کړل.

## د ښځې زیرکتیا

کیسه کا یوې ښځې خپل مېړه، زوی او ورور تورن کړل چې د المستنصر بالله[۷۰] د وژلو پلان یې جوړ کړی، دریواړه ونیول شول او د اعدام حکم یې وشو.

---

[۲۸] - احنف بن قیس ابن معاویة چې ویل کیږي خپل نوم یې ضحاک او یا صخر و، خو په احنف مشهور شوی و، حنف د پښو کوږوالي ته وایې، د احنف پښې کږې وې، نوموړی تابعي عالم، حلیم او صابر انسان و، په زهد یې شهرت درلود، د معاویه او علي رضی الله عنهما د اختلافاتو پر مهال د علي رضی الله عنه په صف کې ولاړ و، په ۶۷ هجري کې د عراق په کوفه ښار کې وفات شوی، هغه مهال چې د عبدالله بن الزبیر ورور مصعب د کوفې واکمن و.

[۲۹] - یزید د مشهور صحابي او د اموي خلافت بنسټ ایښودونکي معاویه بن ابي سفیان زوی و، یزید د هجرت په ۲۶ کال د شام اوسنۍ سوریې په دمشق ښار کې زېږېدلی، هغه په اسلامي فتوحاتو کې د مسلمانانو د لښکرو مشري کړې، چې مشهوره لښکرکشی یې په کال ۴۹ هجري کې پر قسطنطنیة وه کله چې معاویه پر هغه ښار د برید نیت وکړ، لښکر یې چمتو کړ، مشري یې خپل زوی یزید ته وسپارله په دې لښکر کې د ابو ایوب الانصاري، عبد الله بن عباس، عبد الله ابن الزبیر حسین بن علي او نورو په شان مشهور صحابه هم شامل وو، پلار یې خپل خلیفه وټاکه، او د پلار تر وفات وروسته په ۶۰ هجري کې خلیفه شو، په کال ۶۴ هجري کې وفات شو، په کال ۶۱ هجري کې، د یزید په خلافت کې د کربلاء مشهوره واقعه پېښه شوه، چې پکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمسی حسین بن علي او د هغه د کورنۍ ګڼ غړي په شهادت ورسېدل، یزید له دې پېښې بې زاري وښوده، کله چې د هغه مخ ته د حسین بن علي سر، او د هغه د کورنۍ ځینې مېرمنې او ماشومان راوستل شول، نو ویې ژړل، او ویې ویل چې زه له دې واقعې نه وم خبر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه چې خبره شوه، ولاړه د المستنصر بالله په دروازه کې ودرېده کله چې هغه راغی، ښځو ته یې ځان ور وغورځاوه، او سخته ترخه ژړا یې پیل کړه، او د هغوی د ښځینې زارۍ یې کولې، ویل یې چې یا ما هم ورسره ووژنه، ځکه له هغوی وروسته د دې ژوند کې څه مقصد نه شته.

د مستنصر زړه نرم شو، په فکر کې شو، له لږې چوپتیا وورسته یې وویل:

د یو په هکله دې شفاعت منم، هر یو چې غوره کوې.

ښځه حیرانه شوه، خو ویې ویل چې مېړه کېدای شي، زوی بل هم زېږېدای شي، خو ورور چې ورک شي بیا نه پیدا کیږي، او ورور یې غوره کړ، مستنصر یې اختیار ته حیران شو، او دریواړه یې وبښل.

## له یهودي ګاونډي یې پیل کړه

مجاهد[71] وایي، د عبدالله بن عمرو[72] سره ناست وم، یو هلک ورته له پسه پوستکی ایست، عبد الله بن عمرو ورته وویل چې له پوستکي ایستلو وزګار شوې، نو پیل زموږ له یهودي ګاونډي وکړه، دا خبره یې څو ځله تکرار کړه، چا ورته وویل دا خبره به څو ځله کوې؟

هغه وویل:

رسول الله موږ ته بیا بیا د ګاونډي د حقوقو سپارښتنه کوله چې موږ ووېرېدو هسې نه ګاونډي د بل ګاونډي سره میراث کې شریک نه وي.

## ستا دین زموږ له دین غوره دی

له ابن عباس روایت دی وایي:

د ام شریک[73] زړه ته اسلام لاره وموندله، او مسلمانه شوه، په مکه کې اوسېده، د ابو العسکر الدوسي مېرمن وه، بیا به د قریشو ښځو ته تلله او پټ به یې هغوی هم اسلام ته رابللې او هڅولې، تر دې چې رسوا شوه، د مکې خلکو ونیوله، او ورته یې وویل:

که قوم دی نه وای، داسې او داسې به مو درسره کړې وای؛ خو نه یې کوو، او خپل قوم ته دې سپارو.

---

[70] - المستنصر بالله چې اصلي نوم یې معد و، د پلار نوم یې الظاهر لاعزاز دین الله و، مستنصر په ۴۲۰ هجري کې د مصر په قاهره ښار کې زېږېدلی، د فاطمي دولت اتم واکمن و، په ۴۲۷هجري کال کې د پلار له وفات وروسته خلیفه شو، له شپېته کاله واکمنۍ وروسته په ۴۸۷ هجري کې وفات شو. فاطمي دولت د درېیمې هجري پېړۍ په اخر کې تاسیس شوی، رسمي مذهب یې شیعي و، د عباسي دولت ستر سیال بلل کېده.

[71] - مجاهد بن جبر فقیه امام او محدث و، د قرأن کریم په تفسیر او احادیثو کې عالم و، تابعي و، له صحابه کرامو یې علم حاصل کړی، په تفسیر کې یې شهرت درلود، د وخت علماوو لکه سفیان ثوري، قتادة،عطاء او نورو یې ستاینه کړې.

[72] - عبدالله بن عمرو بن العاص صحابي دی، هغه له خپل پلار دولس کاله کشر و، له اسلام وروسته یې د رسول الله سره په ځینو غزواتو کې شرکت کړی، د یرموک په غزا کې هم شریک و، د معاویه او علي د اختلاف پر مهال د معاویه په پلوۍ ولاړ و، د اسلام له پیغمبر یې یو شمیر احادیث روایت کړی، د ۵۷ او ۶۹ هجري کلونو تر منځ وفات شوی.

[73] - ام شریک چې اصلي نوم یې غزیة بنت جابر و، له لومړیو مسلمانانو څخه ده، د اسلام له کبله یې د مشرکانو عذابونه وګالل، ویل کیږي دا ایت شریف چې ﴿وَامْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِن وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ﴾ د همدې مېرمنې په اړه نازل شوی دی، مېړه یې ابو العسکر الدوسي نومېدو، چې هغه هم صحابي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه زياتوي:
په شاتوري اوبښ يې سپره کړم، دري ورځې يې اوبه او خوراک رانه کړل، کله به چې زما لېږدوونکو يو ځای کې واړول، زه به يې لمر ته وتړلم او خپله به سيوري ته کېناستل، خوراک څښاک به يې نه راکاوه، يو ځل يې چې لمر ته تړلی وم، په سينه مې يو يخ څه احساس کړل، راوامې اخيست، که ګورم چې له اوبو ډکه سلواغه ده، لږ مې ترې وڅښلې بيا کش کړای شوه او پورته شوه، بيا همداسې راغله او دريم ځلې هم راغله، او اخري ځل پرې ښه مړه شوم، کومې اوبه چې پاتې شوې هغه مې په بدن او جامو واړولې، کله چې زما لېږدوونکي راويښ شول، او د اوبو نښې يې وليدې، راته يې وويل چې ته خوشې شوی يې، او زموږ اوبه دې اخيستي او څښلې دي؟
ما ورته وويل نه داسې نه دی شوي، او کيسه مې ورته وکړه.
هغوی وويل که ته رښتينی يې؛ نو ستا دين له موږ غوره دی، بيا يې خپل بارونه وکتل، چې اوبه پکې پوره وې؛ نو ټول مسلمانان شول.

## طالب د علم پسې ځي

هارون الرشيد[۷۴] حج وکړ، او بيا مدينې منورې ته ولاړ، هلته يې د امام مالک بن انس ليدل غوښتل، چې د هغه د علم او نبوغ اوازې ورته رسېدلې وې، پيغام يې ورواستاوه چې ورشي، خو مالک پيغام وړونکي ته وويل:
امير المؤمنين ته ووايه، چې د علم طالب د علم پسې ځي، علم د هيچا پسې د تګ کوښښ نه کوي.
خليفه خفه شو، او د مالک ليدلو ته د هغه کور ته ورغی، خو دا امر يې وکړ چې ليدل بايد په يوازې ځای کې وي، نور خلک ورنه شي، خو مالک له دې هم انکار وکړ، ويې ويل چې خلک بايد د پخوا په څېر ورځي، زياته يې کړه: چې علم له عوامو منع شو، نو خواصو ته هم پکې خېر نه رسيږي.

## سلمان الفارسي د مرګ په بستر

کله چې د سلمان فارسي[۷۵] د مرګ وخت شو، مشک او د اوبو يو لوښې يې وغوښتل، مشک يې په اوبو کې ګډ کړل، او بيا يې مېرمنې ته وويل:

---

۷۴ - هارون الرشيد د عباسي خلافت مشهور واکمن دی، پوره نوم يې ابو جعفر هارون بن محمد المهدي بن ابي جعفر المنصور دی، د اوسني ايران د تهرات ښار ته نژدې د (ری) په سيمه کې په **۱۴۹** هجري کې زېږېدلی،کوچنيتوب يې په همدې ښار کې تېر شوی، پلار يې د وخت علماوو سره د زده کړې لپاره کېناوه، د پلار د خلافت پر مهال په لښکر کې قوماندان و، د روميانو پر ضد يو شمير بريدونو کې يې د اسلامي لښکر مشري هم کړې، په **۱۷۰** هجري کې د خپل ورور موسی الهادي له وفات وروسته د خلافت په مسند کېناست، د هارون الرشيد د واکمنۍ دوره د اسلامي امت زرين باب ګڼل کيږي، نوموړی په **۱۹۳** هجري قمري کال کې د اوسني ايران د مشهد په ښار کې چې هغه مهال طوس بلل کېده وفات شو.
۷۵ - سلمان الفارسي مشهور صحابي، د اوسني ايران د اصفهان د سيمې و، د هغه اصلي نوم يا روزبه و او يا هم مابه و، د هغه د مسلمانېدو کېسه خورا عجيبه ده، په پلرني وطن کې يې مجوسيت (اور پرستي) دين خپور و، نو دی هم لومړی په دې دين و، خو پرې قانع نه و، چې اور په خدايي ونيسي، او د حقيقت په لټه کې و، پلار سره به يې هم بحثونه کول، هغه بندي کړ، خو وتښتېد، او شام ته ولاړ، تر مجوسيت ورته مسيحيت غوره ښکاره شو، هغه دين يې غوره کړ، په لټون کې د خلکو تر غلامۍ ورسېد، او مدينې منورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما شا او خوا وشینده، ځکه چې ما ته د الله تعالی داسې مخلوق راځي، چې بوی احساس کولای شي؛ خو خوراک نه کوي.
هغې همداسې وکړل، او بیا یې ورته وویل دروازه راپسې بنده کړه.
هغې دروازه بنده کړه او ووته، شیبه وروسته چې کوټې ته ورننوته، که ګوري چې هغه وفات شوی دی.

## د علي بن ابو طالب وصیت

کله چې علي رضی الله تعالی عنه په مسجد کې په خنجر ووهل شو، هغه پوښتنه وکړه:
د برید کوونکي سره مو څه وکړل؟
ورته وویل شول:
نیولی مو دی.
علي وفرمایل:
زما له شخصي طعامه پرې خوراک وکړئ، او زما له څښاکه پرې وڅکئ، که زه ژوندی پاتې شوم، نو د هغه په اړه به پریکړه وکړم، او که مړ شوم، نو یوازې یو وار به یې وهئ، او له یو زیات نه کړئ.
بیا یې حسن رضی الله عنه[72] ته وصیت وکړ، چې هغه دې غسل ورکړي، او قیمتي کفن دې نه ورته برابروي، او ویې فرمایل:
ما له رسول الله اوریدلي چې فرمایل یې «لا تغالوا في الکفن فإنه یسلب سلباً سریعا- په کفن کې زیات لګښت مه کوئ، ځکه چې دا ژر ایستل کیږي».
ما په دوه طرفونو کې یوسئ، په وړلو کې مې تېزي مه کوئ، او مه سستي کوئ، که خېر وي نو ورتېز کړی به مو یم، او که شر وای نو له اوږو به مو غورزولی وای.

## سعد بن ابي وقاص د مرګ په بستر

کله چې د سعد[77] د مرګ راتژدې شو، یوه زړه چپنه یې وغوښته، چې له وړیو جوړه وه، ویې ویل:

---

ته ورسېد، په داسې حال کې چې د یو چا مریي و، مسلمان شو، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره په ازادېدو کې مرسته وکړه، او بیا د رسول الله سره په ټولو غزواتو کې شریک و، د هجرت په پنځم کال د خندق په غزا کې همدا سلمان الفارسي رضی الله عنه و، چې د خندق کیندلو مشوره یې ورکړه، د عثمان رضی الله عنه له خوا د مدائن والي ټاکل شوی و، ویل کیږي چې په **۳۶** هجري کې په مداین کې وفات شوی.

[72] - حضرت حسن رضی الله عنه د علی بن ابي طالب زوی دی، مور یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نازولې لور بي بي فاطمة الزهراء ده، حسن د هجرت په دریېم کال زېږېدلی دی، په رسول الله زیات ګران و، د عثمان بن عفان په خلافت کې یې، د افریقا او طبرستان په فتوحاتو کې شرکت کړی، د خوارجو پر ضد یې جنګونه کړي، کله یې چې پلار په **۴۰** هجري کې په شهادت ورسول شو؛ نو په کوفه کې خلکو د ده سره د خلافت بیعت وکړ، په داسې وخت کې چې په شام او ځینو نورو سیمو کې د معاویه رضی الله تعالی عنه سره بیعت شوی و، حسن رضی الله په شپږو میاشتو کې د معاویه سره سوله وکړه، حسن په **۴۱** هجري کال کې له خلافت لاس په سر شو، دې کال ته عام الجماعة هم وایي، ځکه د هغه په هڅو د مسلمانانو تر منځ د جنګونو رامنځته کېدلو مخه ونیول شوه، او مسلمانانو یو موټی شول، د **۴۹** هجري په پای یا **۵۰**هجري کال په پیل کې وفات شوی دی.

زما کفن به همدا چپنه وي، زه د بدر په وررځ د مشرکانو سره په همدې کې مخ شوی وم، دا مې همدې وررځې ته ساتلې وه.

## د امانت بدله

په مکه مکرمه کې یو بې وزله سړی و، چې نېکه مېرمن یې دررلوده، مېرمنې یې یوه وررځ ورته وویل:
د خوراک هیڅ نه لرو.
سړی ووت، حرم ته ولاړ، هلته یې یوه کڅوړه پیدا کړه، یو څه دینار پکې و، خوشحاله شو، کور ته یې راوړه، مېرمنې ته یې وویل چې دا مې په حرم کې پیدا کړه، مېرمنې یې وویل:
په حرم کې دې پیدا کړې، باید خلکو ته یې اعلان کړې چې څښتن یې پیدا شي.
سړی ووت، ګوري چې یو سړي اعلان وکړ:
که چا کڅوړه پیدا کړې وي، چې دینار پکې دي دا یې ننبه ده.
بې وزله هغه ته وویل چې پیسې یې د ده سره دي؛ خو د پیسو څښتن ورته وویل چې دا هم ستا شوه او نهه سوه نور دینار هم ستا شول، بې وزله سړي ورته وویل، چې ته په ما ملنډې وهې.
نه، ماته په عراق کې یو سړي زر د یناره راکړل، او راته یې وویل چې یوه اندازه یې په حرم کې وغورځوه، چې هر چا واخیستل او بېرته یې درکړل؛ نو ټولې پیسې به ورکړې، ځکه دا امانتکار دی، چې خپله هم خوري، او صدقه هم کوي، نو زموږ صدقه به هم د هغه د امانت له کبله قبوله شي.

## بې وزله والي

عمر بن الخطاب سعید بن عامر[۷۸] د حمص د والي په توګه ټاکلی و، هغه اوږده موده انکار هم کاوه، خو بالاخره وټاکل شو، عمر ترې پوښتنه وکړه چې ایا ځانګړې وظیفه (معاش) درته نه ټاکو، هغه وویل:
ای امیر المؤمنینه! څه به پرې وکړم، بیت المال چې څه راکوي، دا هم زما له اړتیاوو زیات دي.

---

۷۷ - سعد بن ابي وقاص مالک القرشي له لومړیو مسلمانانو او یو له عشرة مبشرة څخه دی، هغه څوک چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په ژوند د جنت زیری ورکړی و، ویل کیږي چې درېیم هغه څوک دی چې مسلمان شوی، یا اوم تن و چې د رسول الله پېغمبري یې ومنله، له رسول الله سره یې په ګڼو غزواتو کې شرکت کړی، سعد هغه څوک و چې د احد د غزا په وررځ یې له رسول الله دفاع کوله، او غشي به یې ویشتل، یو روایت کې راځي چې د احد په وررځ یې زر غشي د کفارو په لور ویشتي، رسول الله به ورته فرمایل (ارم فداک أبي و أمي-یعنی وله پلار او مور مې درنه ځار شه)، د حضرت عمر بن الخطاب په خلافت کې پر عراق د هغه والي او د اسلامي لښکرو قوماندان و، د قادسیه په جګړه کې یې د مسلمانانو د لښکر مشري کوله، کومه کې چې د رستم فرخزاد په مشرۍ د فارسیانو لښکرې ماتې کړای شوې، سعد بن ابي وقاص یو له هغو شپږو کسانو و، چې عمر بن الخطاب د خپل وفات پر مهال د مسلمانانو د مشر د ټاکلو لپاره په شوری کې ټاکلي وو، په ۵۵ هجري کال کې وفات شوی.
۷۸ - سعید بن عامر الجمحي یو له سترو صحابه کرامو څخه دی، یو له هغو کسانو و چې د هجرت په څلورم کال یې د مکې د مشرکانو له خوا په بې رحمانه ډول د خبیب بن عدي د شهادت منظر ولید او د اسلام حقانیت یې زړه ته ښکته شو، سعید بن عامر مسلمان شو، مدینې منورې ته یې هجرت وکړ، د خیبر او ځینو نورو غزواتو ته حاضر شو، د حضرت عمر د خلافت پر مهال د حمص والي و، ویل کیږي چې هغه به بازار ته ووت، چې څه پیسې به ورسره وې په هغې به یې خپلې کورنۍ ته دومره څه واخیستل چې د هغوی بس شي، او نور به یې خیرات کړ، د نبوي هجرت په ۲۰ کال وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه موده وروسته له حمص څخه عمر ته يو شمير خلک راغلل، عمر ورته وويل:
ستاسې د ښار د بې وزلو نومونه راته وليکئ، چې اړتياوې يې پوره کړم، عجيبه دا وه کله چې عمر لست ته وکتل؛ نو په سر کې يې د سعيد بن عامر نوم ليکل شوی و، ويې پوښتل: سعيد بن عامر څوک دی؟
هغوی ورته وويل:
دا زموږ امير دی.
عمر:
ستاسې امير بې وزله دی؟ نو څه چې ورکول کيږي، په هغې څه کوي؟
هغوی وويل، چې له ځانه سره هيڅ نه ساتي.
عمر سعيد ته زر ديناره واستول، سعيد د پيسو په کتلو سره انا لله و انا اليه راجعون ويل پيل کړل، چا وپوښت چې څه وشول، ايا امير المؤمنين باندې څه شوي؟
له دې هم ستر کار دی.
د قيامت کومه علامه ښکاره شوه.
له دې هم ستر.
سعيد زياته کړه:
ماته دنيا راغله، فتنه راته راغله.
ورته وويل شول، هيڅ پروا نه کوي، په بې وزلو يې وويشه، هغه دغه زر ديناره د مسلمانانو په لښکر کې تقسيم کړل.

## رښتيا ژغورونکي دي

روايت دی، کله چې بايزيد بسطامي[79] بغداد ته د علم په طلب روان و، مور يې څلويښت ديناره ورکړل، چې د پلار ميراث يې و، او ورته يې ويل:
لاس دې زما په لاس کې کېږده، او ژمنه وکړه، چې ته به رښتيا وايې، کله به هم درواغ نه وايې.
هغه ورسره ژمنه وکړه، په يوه قافله کې بغداد ته روان شو، د لارې په اوږدو کې غلو قافله لوټ کړه، بسطامي يې وليد، جامې يې خېرنې وې، ورته يې وويل ستا سره څه شته؟
څلويښت ديناره راسره شته.
هغوی ورپسې ملنډې ووهلې، او فرض يې کړه چې کوم کم عقل دی، بېرته خپل غار ته ستانه شول، هلته د غلو مشر ناست و، کله يې چې وليدل ورته يې وويل:
له قافلې مو ټول هر څه واخستل؟

---

[79] - ابو يزيد طيفور بن عيسی بن سرشان البسطامي، چې په بايزيد بسطامي شهرت لري، په دريمه هجري پېړۍ کې يو صوفي او زاهد انسان تېر شوی دی، هغه د (سلطان العارفين) په لقب پېژندل کېدو، د بايزيد نيکونه اور پرستان وو، نوموړی د خراسان د بسطام په سيمه کې په ۱۸۸ هجري کې زېږېدلی، (بسطام د اوسني ايران د سمنان ولايت يو ښار دی) ويل کيږي چې په ۲۶۱ هجري کې وفات شوی دی، په تصوف کې د نوموړي ډېرې کيسې مشهورې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو تن وويل:
هو، خو له يو سړي مو پوښتنه وکړه، چې څه لري، هغه وويل څلويښت دېناره دي، موږ ته هسې ښكاره شو، پرې موښود، او فكر مو وكړ، چې دماغ يې ګډوډ دي.
د غلو مشر د بايزيد بسطامي پسې سړى واستاوه، او ورته راوستل شو، مشر هم پوښتنه وكړه، او بايزيد هماغه پخوانى ځواب وركړ.
چرته دي دا څلويښت ديناره؟
هغه څلويښت ديناره را وايستل او ورېې كړل، د غلو مشر ورته وويل، ليونى يې؟ څنګه خپلې پيسې ښيې، او په خپله خوښه يې سپارې؟
بايزيد:
چې له كوره راوتلم، مور سره مې ژمنه كړې چې رښتيا به وايم، زه دا ژمنه نه ماتوم.
د غلو مشر وويل:
لا حول و لا قوة إلا بالله، ته وېرېږې چې د مور د ژمنې سره خيانت ونه كړې، او موږ د الله د ژمنې سره خيانت كوو؟
بيا يې قافلې ته د ټول مال د واپس كولو امر وكړ، او ويې ويل چې زه ستا په لاس توبه كوم، د هغه ملګرو هم وويل چې په لارې شكولو كې مو ته مشر يې، نن مو په توبه كې هم مشر يې، او ټول په ډله له غلا لاس په سر شول.

## پلار قاضي زوى مدعي

ويل كيږي چې د شريح قاضي زوى هغه ته وويل، چې زما د فلاني خلكو سره لانجه ده، ته دا لانجه وګوره، كه زما حق وي؛ نو پر مخ به لاړ شم، او كه نه وي نو لانجه به نه كوم.
زوى پلار ته كيسه وكړه، او قاضي شريح ورته وويل، چې ورځه لانجه ورسره كړه.
هغه لانجه پيل كړه، خو شريح چې قاضي و، د خپل زوى پر ضد فيصله وكړه، زوى يې چې كور ته راغلو، پلار ته يې وويل:
كه تاته مې له وړاندې كيسه نه وه كړې؛ نو ته به اوس ملامته نه وې، تا خو زه وشرمولم.
قاضي شريح زوى ته وويل:
بچيه! ته ماته له ټولې دنيا ګران يې؛ خو الله راته بيا له تا هم ګران دى، زه وېرېدم، كه تاته له وړاندې خبره وكړم؛ نو ته به د هغوى سره سوله وكړې، او د هغوى ځينې حق به د سولې له لارې ځان ته واخلې.

## تاته خير نه لري

شعبي[٨٠] وايي له مغيره بن شعبة[٨١] مې اوريدلي چې:

---

[٨٠] - عامر بن شراحيل چې په امام الشعبي شهرت لري، فقيه، محدث او تابعي دى، په ٢١ هجري كال كې د حضرت عمر بن الخطاب د خلافت پر مهال زېږېدلى، په كوفه كې يې ژوند كړى، په اموي دور حكومت كې يې دولتي دندې هم تر سره كړي دي، د عبد الملك

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ما د بني الحارث بن کعب د قبيلې له يو ځوان پرته کله هم بل ځوک لاس برى شوى نه دى، او هغه داسې چې ما د دې قبيلې پر يوې ښځې مرکه وکړه، او د همدې قبيلې يو ځوان هم راسره و، دې ځوان ماته وکتل او راته يې وويل:

ښاغليه دې ښځه کې خېر نه شته

ما وويل وراره ولې؟

هغه وويل چې ما يو سړى ليدلى چې دا ښځه يې مچوله.

زه له ښځې تېر شوم؛ خو وروسته خبر شوم چې هغه زلمي ورسره خپله واده کړى.

ما ورته وويل ايا تا نه ويل چې يو سړى مچوله او اخلاق يې ښه نه دي.

هغه وويل هو کنه ما يې پلار ليدلى و.

## تلپاتې دريځ

کيسه کا چې د رى د ښار قاضي ته يوه ښځه عارضه شوه او دعوا يې کوله چې پر مېړه يې د مهر پنځه سوه ديناره پاتې دي؛ خو مېړه يې منکر دى، شاهدان راغلل، د ښځې په حق کې يې شاهدي ورکړه؛ خو شاهدانو وويل، چې موږ به يو ځل دا ښځه ګورو، چې د هغه مېرمن ده که نه؛ نو بايد مخ لوڅ کړي.

د هغوى د پرېکړې وروسته يې مېړه وويل چې دا کار مه کوئ، هغه رښتيا وايي، پر ما يې د مهر پنځه سوه ديناره دي، اقرار کوم، او اداء کوم يې.

سړي دا کار د دې لپاره وکړ چې د ښځې مخ يې ځوک ونه ويني، دا پر ښځه د مېړه غيرت و.

خو کله چې ښځه له دې خبره شوه، هغې مېړه ته په دنيا او اخرت خپل حق وبانښه.

څومره ښکلى دريځ دى، دا د غيرت، وفا او نارينتوب يوه تلپاتې نمونه ده، چې مېړه پر مېرمن غيرت کوي، او مېرمن يې بېرته همداسې بدله ورکوي.

ايا زموږ په زمانه کې به هم داسې ځوک وي؟!

## د امام احمد لور

امام احمد به خپلې لور ته د امام شافعي رحمه الله د علم او تقوا زياته يادونه کوله، امام احمد يوه ورځ هغه ته ميلمستيا وکړه، د ماسختن له ډوډۍ وروسته امام شافعي خپلې بسترې ته ولاړ، پريوت او اوده شو.

د امام احمد لور پلار ته وويل:

پلار جانه! دا هغه شافعي دى، چې تا به يې هر وخت ماته کيسې کولې؟

---

ابن مروان له خوا بيزانس ته د ځانګړي سفير په توګه هم ټاکل شوى و، عمر بن عبد العزيز قاضي ټاکلى و، په ۱۰۲ هجري کې په کوفه کې وفات شوى. بيزانس د ختيځې رومانيې د امپراتورۍ پلازمېنه وه، په قسطنطينيه هم پېژندل کيږي، عثماني واکمن محمد الفاتح دا ښار ونيو، په اسلام بول يې ونوماوه، اوس دا ښار په استانبول ياديږي.

[81] - ابو عبدالله المغيرة بن شعبة د رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابي دى، د طائف د ثقيف په سيمه کې زېږېدلى، د هجرت په ۵ کال يې اسلام قبول کړى، د ډېرې مودې لپاره د کوفې والي و، د علي او معاويه رضى الله تعالى عنهما د اختلافاتو پر مهال بې طرفه پاتې شو، په ۵۰ هجري کې د اويا کلنې په عمر کې کوفه کې وفات شوى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام وویل هو.
لور یې زیاته کړه:
په ده کې ما درې کارونه ولیدل، چې نیوکه پرې لرم: اول دا چې کله دلته راغی؛ نو زیات خوراک یې وکړ، دویم دا چې خونې ته ننوت؛ نو د قیام اللیل او تهجدو لپاره بیا راپورته نه شو، او دریم دا چې د سهار لمونځ یې موږ ته بې اودسه راکړ.
امام احمد د خپلې لور پوښتنې واخستې او له شافعي څخه یې توضیح وغوښته.
هغه وویل:
ای احمده! ما ځکه زیات خوراک وکړ، چې زه پوهېږم ستاسې طعام حلال دی، او ته سخي بنده یې، د سخاوتمندو طعام دواء وي، او د بخیلانو مرض وي، د دې لپاره مې نه دی خوړلی، چې ښه موړ شم، بلکې د دې لپاره چې ستا په طعام مې د ځان دواء کوله.
دا چې د شپې تهجد ته نه یم پاڅېدلی؛ ځکه چې کله مې د خوب لپاره سر کېښود ،او په فکر کې شوم، داسې راته ښکاره شوه، لکه د الله تعالی کتاب او د نبي سنت زما د سترګو مخ ته پراته دي، نو دوه اویا مسائل مې استنباط کړل، چې مسلمانانو ته به زیاته ګټه ورسوي؛ نو د تهجد لپاره مې د شپې وخت پیدا نه کړ.
او د سهار لمونځ مې ځکه بې اوداسه ورکړ، چې په خدای قسم ټوله شپه مې سترګو د خوب خوند نه دی لیدلی؛ نو اړتیا نه وه چې اودس هم تازه کړم، ټوله شپه ویښ وم، سهار مې د ماسختن په اوداسه لمونځ وکړ.

## د رسول الله پنه

خلیفه مهدي د عامو خلکو په منځ کې ناست و، یو تن راننوت او په لاس کې یې پنه وه، په دستمال کې یې پېچلې وه، ویې ویل:
ای امیر المؤمنینه! دا د رسول الله پنه ده، تاته یې ډالۍ کوم.
هغه وویل راوړه، پنه یې واخسته، مهدي پنه ښکل کړه، په سترګو یې پورې کړه، او امر یې وکړ، چې دې سړي ته لس زره درهمه ورکړل شي.
کله چې هغه ووت مهدي ناستو خلکو ته وویل:
تاسې به فکر کوئ، زه نه پوهېږم، چې دا پنه رسول الله لیدلې هم نه ده، دا خو پرېږده چې په پښو کړې یې وي؟
خو خبره دا ده که چېرې ما ورته ویلي و، چې درواغ وایې؛ نو خلکو ته به یې ویل چې ما امیر المؤمنین ته د رسول الله پنه راوړه؛ خو هغه رد کړه؛ نو ډېرو خلکو به هغه رښتیا ګڼله او پلټنه به یې نه کوله، ځکه عام خلک دغه ډول چارو ته میلان لري، او د ځواکمن پر ضد د کمزوري مرستې ته راوړاندې کېږي، اګر که کمزوری ظالم هم وي، نو ما د هغه ژبه واخیستله، د هغه ډالۍ مو قبوله کړه، هغه مو رښتیا وګڼه، او فکر کوم چې څه مې کړي، دا مې ښه کړي بریا په همدې کې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# والله زموږ کور ته روان دي

ابن دراج الطفيلي[۸۲] وايي، د لارې پر سر ولاړ وم، زوی مې هم راسره و، جنازه تېره شوه، يوه ښځه ورسره روانه وه، ژړل يې، او په ساندو کې يې ويل:
داسې کور ته دې وړي، چې هلته نه فرش شته، او نه داسې څه چې ته يې اوار کړې، نه ميلمستيا شته، او نه د اغوستلو څه، نه پکې ډوډۍ شته او نه اوبه.
زوی مې ماته وويل:
پلار جانه! والله دا جنازه زموږ کور ته وړي.

# د ازاد زوی زېرى

د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره مهاجر او انصار صحابه ناست وو، چې ابو بکر الصديق وويل:
ستا په ژوند مې دې قسم وي ای د الله رسوله! چې ما کله هم بوت ته سجده نه ده کړې، عمر بن الخطاب غوصه شو او ويې ويل:
ته دا خبرې کوې، او ته په جاهليت کې داسې او داسې نه وې؟
ابو بکر وويل :
هغه نو کله چې زه بلوغ ته ورسېدم؛ نو ابو قحافة له لاسه ونيولم او د بوتانو ځای ته يې بوتلم، راته يې وويل:
دا ستا لوی لوی خدايان دي سجده ورته وکړه، ولاړ او زه يې پرېښودم.
زه يو بوت ته ورنږدې شوم، ورته مې وويل:
زه وږی يم خوراک راکړه، ځواب يې رانه کړ، بيا مې وويل: زه تږی يم څښاک راباندې وکړه، ځواب يې رانه کړ:
بيا مې وويل زه بربنډ يم ما پټ کړه، ځواب يې رانه کړ، بيا مې يوه ډبره راواخسته، او ومې ويل، په دې ډبره دې ولم، که خدای يې نو له ځانه دفاع وکړه؛ خو ځواب يې رانه کړ، په ډبره مې وويشت، او پړ مخ راوغورځېد، پلار مې راغلو، وايي دا څه دي زويه؟ ما ورته وويل هغه څه چې ته يې وينې.
زه يې مور ته بوتلم هغې ته يې کيسه وکړه، هغې وويل:
دا پرېږده، دا هماغه دی چې الله پرې ما سره مناجات کړی و، ما ورته وويل مورې! الله تاسره په څه مناجات کړی و؟
هغې راته وويل:
ستا د زېږېدو په شپه زما سره هيڅوک نه و، ما يو اواز واورېد چې اواز و؛ خو بنده مې نه ليده، داسې يې ويل:
ای د الله بنده ګۍ، د ازاد (عتيق) زوی زيری واخله چې نوم يې په اسمان کې صديق دی.

---

[۸۲] - عثمان بن دراج الطفيلي د عباسي خليفه مأمون په زمانه کې ژوند کړی، (مامون له **۱۹۸** هجري څخه تر **۲۱۸** هجري پورې واکمن و)، عثمان بن دراج اديب و، شعرونه يې ويل، د هغه ډېرې ظريفانه او طريفانه کيسې مشهورې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چغلي

يو سړي له بل څخه غلام واخست، خرڅوونکی ورته وويل، د چغلخورۍ ضمانت يې نه کوم؛ خو بيا هم هغه واخيست.
څه موده وروسته غلام د خپل بادار مېرمنې ته وويل، مېړه دې ستا سره مينه نه لري، له تا پټ بټ ګرځي او بله ښځه به کوي، ايا غواړې چې په تا مهربانه شي؟
هغې وويل: هو
غلام وويل، يوه چاړه واخله، د ږيرې له منځه يې څو ويښته پرې کړه، هغه په اوبو کې جوش کړه، او په دې توګه به وکولای شې چې په ځان يې مهربانه کړې.
له دې وروسته د ښځې خاوند ته ورغی، او ورته يې وويل:
ښځه دې باغي ده، د خلکو سره ياراني لري، وژني دي، ايا غواړې چې هر څه درته واضح شي؟
سړي وويل هو.
ښه نو ځان ورته په ويدو واچوه او بيا ګوره.
سړي همداسې وکړل، که ګوري چې ښځه راغله او لاس کې يې چاړه ده، چې ويښته يې پرې کړي؛ خو سړي پرې د وژلو د پلان ګومان وکړ، او ښځه يې ووژله، د ښځې خپلوانو سړی ونيو او ويې واژه.

# ښايسته قرباني

واقدي[۸۳] وايي زما دوه ملګري وو، يو يکې هاشمي و، موږ د يو تن او بدن په څېر وو، يو وخت مې لاس تنګ شو، او د اقتصادي مشکل سره مخ شوم، د اختر ورځې هم وې، مېرمنې مې راته وويل:
موږ خو به په سختيو او تنګسيو صبر وکړو؛ خو دې ماشومانو مې زړه راوڅېرلو، دوی د ګاونډيو ماشومان ويني، چې د اختر لپاره يې ځانونه ښايسته کړي، او نوې جامې يې هم اغوستي؛ خو دوی په هماغه زړو او څېرنو جامو کې دي، که څه دی کړې وای، تر څو مو دوی ته جامې رانيولې وای.
واقدي وايي ما هاشمي ملګري ته ليک واستاوه، مرسته مې ترې وغوښته، هغه ماته يوه کڅوړه راوليږله چې مهر پرې لګيدلی و، او پرې ليکلي و «زر درهمه» زه لا په کار نه وم اخته، چې ماته مې هغه دويم ملګري ليک واستاوه، او هماغه غوښتنه يې کړې وه، چې ما له هاشمي ملګري کړې وه، ما هم هغه کڅوړه په هماغه حال ورواستاوله، او مسجد ته ووتلم، ټوله شپه له مېرمنې شرم راتلو او کور ته نه تلم؛ خو کله چې هغې وليدم؛ نو زما د کار ستاينه يې وکړه او هيڅ سختي يې راسره ونه کړه.
په همدې حال کې د خپل هاشمي ملګري سره مخ شوم، او هغه کڅوړه ورسره په هماغه شکل وه، ما ته يې وويل:
رښتيا ووايه ما چې څه در استولي وو، په هغې دې څه وکړل؟

---

[۸۳] - ابو عبد الله محمد بن عمر بن واقد چې په الواقدي مشهور دی، مشهور اسلامي مؤرخ دی، د حديثو په علم کې هم شهرت لري، د عراق د بغداد په ښار کې يې ژوند کړی، په ۱۳۰ هجري کال کې په مدينه منوره کې زېږېدلی، هلته يې تجارت کاوه، خو شتمني يې له لاسه ووته، بغداد ته ولاړ، هلته خليفه ته نږدې شو، او هارون الرشيد د قاضي په توګه وټاکلو، په ۲۱۱ هجري کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته رښتيا وويل هغه راته وويل:
تا چې کله له ما مرسته وغوښته ما تاته خپل ټول شته در واستول چې دا زر درهمه وو، بيا مې له بل ملګري مرسته وغوښته، هغه راته دا کڅوړه راواستوله چې له تا يې غوښتې وه، ګويا موږ دريواړو دغه زر درهمه سره تقسيم کړل.
د وخت خليفه مامون[۸۴] له دې کيسې خبر شو، هغه زه وغوښتم ما ورته ټوله کيسه وکړه، هغه موږ هر يو ته دوه دووه زره درېناره او زما مېرمنې ته زر ديناره راکړل.

## اسماء د انصارو خطيبه

يوه ورځ رسول الله د اصحابو سره ناست و، چې يوه ښځه ورته راغله، اسماء بنت يزيد الانصاريه[۸۵] نومېده، رسول الله ته يې وويل:
د الله رسوله! مور او پلار مې دې له تا قربان شي، زه ښځو تاته را استولې يم، بې شکه چې الله تعالى تاسې ټولو نارينه او ښځينه و ته استولى ياست، موږ پر تا او ستا پر الله ايمان راوړ، او موږ ښځې خو را ايسارې او محدودې يو، ستاسې (يعنى د نارينه وو) په کورونو کې ناستې، يو ستاسې اړتياوې پوره کوو، او ستاسې اولادونه په نسونو کې ساتو؛ خو تاسې د نارينه وو ډله پر موږ برترى لرئ، راټولېږئ او لمونځونه په جمع کوئ، د ناروغانو پوښتنه کوئ، جنازو ته حاضرېږئ، پرله پسې حجونه کوئ، او تر ټولو غوره دا، چې د الله په لار کې جهاد کوئ.
او کله چې سړى د حج يا عمرې لپاره ووځي، يا د الله په لار کې جهاد ته ووځي؛ نو موږ ستاسې مالونه ساتو، ټوکر درته اوبدو، تاسې ته اولادونه روزو، ايا موږ ستاسې سره په دې نورو اجرونو کې نه شريکېږو؟
رسول الله مخ اصحابو ته واړولو او بيا يې وفرمايل:
ايا تاسې کله هم د دين په چارو کې د دې ښځې له وينا کومه ښه اورېدلې ده؟ او کما قال عليه السلام
هغوى وويل:
اى د الله رسوله! موږ فکر نه کاوه چې يوه ښځه دې تر دې بريده پوهه ولري.
بيا رسول الله هغې ته متوجه شو، او ورته يې وفرمايل:
پوهه شه اى ښځې! او نورې ښځې هم پوهې کړه، چې د خپل مېړه لپاره يوه ښه ښځه اوسېدل، د هغه خوښې لټول، د خپل مېړه سره په هر څه کې موافقه کول، د دې ټولو اجرونو سره برابر اجر لري. او کما قال عليه السلام

---

۸۴ - عبدالله بن هارون الرشيد المامون، عباسي خليفه دى، چې په ۱۷۰ هجري کال کې زېږېدلى، د پلار هارون الرشيد له وفات وروسته يې د ورور امين سره په مشرى مخالفت پيدا شو، خو وتوانيد چې امين له مخې لرې او بالاخره ووژني، او د خلافت په ګدۍ کېني، شل کاله يې واکمني کړې، د هغه عهد سلطنت د مسلمانانو د ارتقاء زمانه بلل کيږي، په ۲۱۸ هجري کال کې وفات شوى، او د اوسني ايران د طرسوس په ښار کې دفن شوى دى.

۸۵ - أسماء بنت يزيد بن السکن صحابية ده، د حضرت معاذ بن جبل رضى الله عنه د عمه لور کيږي، د هجرت په لومړي کال مسلمانه شوې، او په دې شهرت لري، چې په دين د پوهې پسې نښتې وه، هر وخت به يې له رسول الله د ديني احکامو پوښتنه کوله، کله به چې د نورو ښځو سره سوال پيدا شو، هم دا به يې رسول الله ته استوله، په خطيبة النساء يا خطيبة الانصار ځکه شهرت لري چې هر وخت به يې له مېرمنو دفاع کوله، او د هغوى د حقوقو غوښتنه به يې کوله،د رسول الله سره يې په خيبر غزا کې ګډون کړى، او د يرموک په غزا کې يې د ښځينه جنګياليو قوماندانې په غاړه وه، په دمشق کې اوسېدلې، د هجرت په ۷۰ کال وفات شوى، او په دمشق کې يې قبر دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې له ځانه سره لااله الاالله زمزمه کول او ستنه شوه.

## ځکه چې موږ د ماسختن لمونځ په جماعت کړی

دامام بخاري او مسلم[۸۶] استاد عبید الله القواریري[۸۷] وایي، له ما هیڅکله د ماسختن لمونځ په جمع نه دی قضاء شوی؛ خو یوه شپه مې مېلمانه راغلي وو، د هغوی سره مصروف شوم، او لمونځ رانه قضاء شو، ووتم د بصرې په مسجدونو کې وګرځېدم؛ خو ټولو خلکو جمعې کړې وې، او مسجدونه بند و، کور ته راغلم، او ومې ویل:

په حدیث کې راغلي چې د جمعې لمونځ له یوازې اوه ویشت ځله لمونځ سره برابر دی؛ نو د ماسختن لمونځ مې اوه ویشت ځله وکړ، او اوده شوم.

په خوب کې ګورم چې د خلکو سره یم، په اسونو سپاره یو، او یو له بله مخکې کیږو، زه اس په منډه کوم؛ خو د هغوی سره نه شم یو ځای کېدی، یو تن راته مخ کړ او راته یې وویل:

ځان مه ستړې کوه! ته موږ پسې نه شې رسېدي.

ما وویل ولې؟

هغه وویل:

ځکه چې موږ د ماسختن لمونځ په جمع، او تا یوازې کړی؛ له خوبه په خفګان سره راوېښ شوم.

## قبوله شوې صدقه

رسول الله فرمایلي:

یو سړي وویل: زه به خامخا صدقه کوم، راووت صدقه یې وکړه؛ خو د غل لاس کې یې کېښوده؛ نو خبرې پسې پېل شوې، چې هله غل ته یې خیرات ورکړ.

هغه د الله جل جلاله ثناء وکړه او ویې ویل، چې زه به بیا هم صدقه کوم، خیرات یې وکړ؛ خو دا ځل په یوې زناکارې ښځې، بیا پسې خلکو وویل چې په زناکارې خیرات شوی.

---

[۸۶] - ابو الحسن مسلم بن الحجاج بن مسلم النیسابوري، د حدیثو مشهور عالم، د صحیح مسلم ترتیبوونکی، کوم کې یې چې احادیث راټول کړي، او له صحیح البخاري څخه وروسته د حدیثو معتبر کتاب دی، مسلم د امام بخاري او احمد بن حنبل شاګرد و، نوموړی په **۲۶۰** هجري کال کې په نیسابور کې زېږېدلی، نیسابور د اوسني ایران د مشهد د ښار سره نږدې موقعیت لري، د زده کړې لپاره له هیواده مسافر شو، خو د زده کړې پر مهال یې هم تجارت او مزدوري کوله او د خپل لاس ګټه یې خوړه، هغه پر صحیح مسلم سربېره نور ګڼ کتابونه هم لیکلي چې شمېر یې لسګونو ته رسیږي، د صحیح مسلم جمع او تصنیف یې په پنځلسو کلونو کې تکمیل کړی، په **۲۶۱** هجري کې په خپل پلرني هیواد کې وفات شوی دی، مزار یې د نیسابور د نصر اباد په کلي کې دی.

[۸۷] - عبید الله بن عمر بن میسرة الجشمي القواریري، د حدیثو مشهور عالم دی، لوموړی په بصره کې اوسېدلی، او بیا بغداد ته کوچېدلی، په حدیثو کې د حافظ تر درجې رسیدلی، ابو العباس احمد بن یحی الشیباني وایي له القواریري مې سل زره احادیث اوریدلي، په **۱۵۲** هجري کال کې زېږېدلی، لکه څرنګه یې چې له مشهورو او سترو علماوو زده کړې کړې، همدا شان د امام بخاري او امام مسلم په څېر د لویو علماوو استاد هم تېر شوی دی، په **۲۵۳** هجري کال کې په بغداد کې وفات شوی. هېره دې نه وي چې د القواریري د زېږېدو او وفات په نېټو کې د روایتونو اختلاف شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړي بيا هم د الله حمد او ثناء ويله او ويل يې چې بيا به هم زه خيرات کوم، بيا يې خيرات وويست، او د يو غني په لاس کې يې کېښود، خبرې پسې کېدې، چې په شتمن باندې خېرات شوی.
هغه سړي وويل:
الله په غل، زناکار، او غني باندې تاته شکر کوم.
د شپې خوب ويني چې ورته وويل شول:
غل ته دې چې خېرات ورکړ، نو کېدای شي هغه له غلا راوګرځوي، زناکارې ته دې چې ورکړ؛ نو کېدای شي، چې له زنا پاکي غوره کړي، او غني ته دې چې ورکړ؛ نو کېدای شي عبرت واخلي، او له خپله ماله هم خيرات او صدقه ورکړي.
دا حديث بخاري او مسلم روايت کړی.

# د خپلو ګناهونو حساب وکړه

د ابن الصمة په اړه کيسه کيږي، چې د خپل ځان سره يې محاسبه کوله، يوه ورځ يې وکتل په داسې حال کې چې شپېته کلن و، خپلې ورځې يې د ژوند وشمارلې يو ويشت زره او پنځه سوه وې، چغه يې کړه:
ای! هلاک شوم، د الله سره به يو ويشت زره ګناهونو سره مخ کيږم؟ او دا به لا څنګه وي، ما خو هره ورځ لس زره ګناوې کړي دي؟
بيا بې هوښه راپرېوت مړ شو، خلکو يو اواز واورېد چې ويل يې:
دا د لوړ فردوس په لور څومره ښه منډه وه؟

# د مرسته کوونکي بدل

عبد الله بن مبارک به يو کال حج، او يو کال جهاد کاوه، د خپل ځان په هکله وايي:
يو کال چې بايد حج مې کړی وای، د کوفې بازار ته ووتم، تر څو يو اوښ واخلم، پنځه سوه ديناره هم راسره وو، ګورم يوه ښځه د لارې څنډې ته ناسته ده، او له يوې مرغابۍ نه بڼکې باسي، فکر کوم چې هغه مرغابۍ هم مړه وه (حلاله کړای شوې نه وه) ورنږدې شوم ورته مې وويل:
ولې داسې کوې؟
هغې وويل:
ای عبد الله! هغه څه کې کار مه لره چې چاره دې ورپورې نه وي.
د هغې د خبرې په اړه مې سودا شوه، او د ځواب ټينګار مې وکړ.
هغې وويل:
اوس چې ته زما د راز د ښکاره کولو پسې ښتنې يې؛ نو واوره، زما څلور لور ګانې دي، څو ورځې مخکې يې پلارر مړ شوی دی، دا څلورمه ورځ ده چې څه يې نه دي خوړلي؛ نو اوس موږ ته مرداره هم حلاله ده، دا مرغابۍ مې واخيسته، څو يې خوراک ته جوړه، او لورګانو ته يوسم.
ما په زړه کې وويل چې هلاک شې ابن المبارکه! ته دې ته ګوره څه دې ورسره کړي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې ته مې وویل چې جولۍ ونیسه، او ټول پنځه سوه دیناره مې ورکړل، هغې سر ټیټ نیولی و، ما ورته وویل کور ته ځه او په دې پیسو ژوند روان کړه، دا کال مې له زړه د حج مینه ووته، بیا خپل ښار ته لاړم، خلکو حج وکړ، راستانه شول.
د خپلو ملګرو او ګاونډیانو لیدلو ته ورغلم؛ نو هر چاته به مې چې وویل الله دې ستا حج او زحمت قبول کړي، هر یو به ماته ویل چې الله دې ستا حج او زحمت هم قبول کړي، موږ او تاسې خو په فلاني فلاني ځای کې سره یو ځای وو، د خلکو دا خبرې ماته زیاتې شوې، زه هم حیران وم، په فکر کې وم، رسول الله مې په خوب کې ولید، چې راته یې وویل:
ای عبدالله! مه حیرانیږه، تا زما د امت د مجبور سره مرسته کړې ده؛ نو ما له الله څخه سوال وکړ، چې ستا په شکل یوه ملایکه پیدا کړي، چې ستا پر ځای حج وکړي.

## ملګري ته پر ځان برتري ورکړه

حذیفة العدوی[88] د یرموک په میدان کې په داسې حال کې چې د جګړې اور بل، او د مسلمانانو او مشرکانو تر منځ جنګ په شدت سره روان و، د خپل تره زوی خواته په داسې حال کې ورسید، چې هغه غوښتی و، او هغه د جګړې په ډګر کې ټپي شوی و، جذیفه له ځانه سره اوبه هم یوړې؛ ځکه چې ټپي تر ټولو زیات اوبو ته اړتیا لري.
د حذیفه د اکا زوی زیاته وینه ضایع کړې وه، حالت یې بد و؛ خو چې د تره زوی یې ولید د ټپي جنګیالي پر شونډو خندا پورته شوه، له هغه یې د خپلو ملګرو او د جګړې د نتیجې پوښتنې کولې، د مسلمانانو د بریا او د روان جنګ سوالونه یې کول.
د ټپي حالت بد و، حذیفه اوبو ته لاس کړ، چې د تره زوی شونډې پرې لمدې کړي، او ورویې ښبي، هغه هم اوبو ته خوشحاله و؛ خو مخکې تر دې چې اوبه وروړسیږي، لرې یې کړې؛ ځکه ښنګ ته یې زویرګی واورید، او حذیفه ته یې وویل:
اوبه هلته یوسه، اول یې هغه وښبي، زه له هغه چا غوره نه یم، چې د الله په لار کې جنګیږي.
حذیفه هغې خوا ته ولاړ هلته ټپي هشام بن العاص[89] د زنکدن په حال کې پروت و، حذیفه ورته د ابو وړاندیز وکړ، هشام اوبو ته خوشحاله شو، لوښی یې خولې ته نژدې کړی و، چې نژدې یې د یو بل ټپي آه او فریاد واورید، او هغه ته یې وویل:
هلته اوبه ورسوه، هغه له ما زیات اړ دی.
حذیفه هلته ورغلو، که ګوري چې ټپي وروستۍ ساګانې ایستلې، او په شهادت رسیدلی، بېرته هشام ته راستون شو، ویې لیدل چې د هغه د زړه درزا هم دریدلې ده، په ژړا شو؛ خو چې د تره زوی ته راستون شو هغه هم له نړۍ کوچیدلی و.

---

[88] - ابو جهم بن حذیفة القرشي العدوي، خپل نوم یې عبید دی، صحابی دی، د جاهلیت په زمانه کې یې د بیت الله شریف ودانۍ جوړه کړې وه، بیا یې د عبد الله ابن الزبیر سره هم د کعبې په ودانۍ کې مرسته وکړه، دا هماغه صحابي دي چې رسول الله ته یې یوه چپن یا لباس هدیه کړی و، خو ښبې او نقوش پکې و، بیا بېرته رسول الله هغه ته ورواستولو، او له هغه یې بل لباس وغوښت.
[89] - هشام بن العاص بن وائل، مشهور صحابي دی، په مکه مکرمه کې یې اسلام ومانه، بیا یې حبشې ته هجرت وکړ، له هغه ځایه بېرته مکې ته راغی، دلته یې پلار بندي کړ، خو بیا مدینې ته د احزاب له غزا وروسته ولاړ، ویل کیږي چې د هجرت په **۱۳** کال د اجاندین په معرکه کې او یاهم د هجرت په **۱۵** کال د یرموک په غزا کې وژل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر يو پر ځان خپل ملګري ته برتري ورکړه.

## د دې لپاره نه يې پيدا شوی

ابراهيم بن بشار[۹۰]، د ابراهيم بن ادهم خادم وايي، ما يوه ورځ له هغه وپوښتل:
ابو اسحاقه! ستا لومړۍ ورځې څنګه تېرې شوې؟ هغه راته وويل:
زما پلار د بلخ و، د خراسان له باچاهانو يو و، د هغه او زموږ ټولو ښکار خوښېدو، يوه ورځ په اس سپور ووتم، ښکاري سپی مې هم راسره و، يوه سويکه، يا ګيدړ، مې وليد، ما هم پسې اس وزغلولو، له شا مې يو اواز واورېد:
ته د دې لپاره نه يې پيدا شوی، او نه درته د دې امر شوی دی.
ودريدم، ښي او چپ لور ته مې وکتل، څوک مې هم ونه ليدل، ومې ويل، په ابليس دې لعنت وي، بيا مې اس په منډه کړ، بيا مې يو بل لوړ اواز واورېد:
ای ابراهيمه! د دې لپاره نه يې پيدا شوی، او نه درته د دې امر شوی دی.
بيا ودرېدم، يو خوا بل خوا مې و کتل؛ خو څوک مې ونه ليدل، او بيا مې په ابليس لعنت ووايه، بيا مې اس وزغلولو، بيا مې اواز د خپل اس د زين لاندې واورېد چې وايي:
ای ابراهيمه! نه د دې لپاره زېږېدلی، او نه درته په دې امر شوی.
ودريدم ومې ويل:
ايا متوجه شوې، متوجه شوې، زه رب العالمين وېرولی وم، په خدای قسم، له دې ورځې وروسته به د الله تعالی نا فرماني ونه کړم، تر څو چې الله ساتلی او ژوندی يم.

## ولې له دنيا ځان ساتنه؟

يو سړي له حسن بصري رحمه الله پوښتنه وکړه:
د دنيا په وړاندې ستا د بې پروايۍ راز څه دی؟
هغه وويل:
څلور شيان:
اول دا چې پوهيږم، زما رزق له ما بل څوک نه شي اخستلی؛ نو زړه مې ډاډه دی.
دويم دا چې پوهېږم، زما کار له ما پرته بل څوک نه شي کولای؛ نو يوازې په خپل کار اخته يم.
درېيم دا چې پوهېږم، چې الله له ما خبر دی؛ نو شرم راځي چې ګناه کوم او هغه راته ګوري.
څلورم دا چې پوهيږم، مرګ مې منتظر دی؛ نو د خپل رب ملاقات ته مې توبه چمتو کوم.

---

۹۰ - ابراهيم بن بشار بن محمد الخراساني د مشهور صوفي ابراهيم بن ادهم خادم و، خپله هم يو صوفي صفته انسان و، يو شمير احاديث يې له علماوو روايت کړي، د ابراهيم بن ادهم سره ملګری و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه سړی چې ملایکې ترې حیاء کوي

مسلم په یو روایت کې وایي:
عایشې رضی الله عنها فرمایلي: یوه ورځ رسول الله په کور کې تکیه وهلې وه، او پونډۍ یې لوڅه وه، ابو بکر رضی الله عنه د راتګ اجازه وغوښته هغه راغلو، خبرې یې کولې، چې عمر د راتګ اجازه وغوښته، هغه هم راغلو رسول الله په خپل حال و، او خبرې روانې وې، بیا عثمان اجازه وغوښته، رسول الله کېناست، جامې یې سمې کړې، عایشې وویل:
د الله رسوله! ابو بکر راغلو د ملاقات لپاره دې ځان سم نه کړ، بیا عمر راغلو پروا دې ونه کړه، بیا عثمان راغلو، او ته کېناستې، ځان او جامې دې سمې کړې ولې؟
هغه وفرمایل: ایا زه له هغه چا حیاء ونه کړم، چې ملایکې ترې حیاء کوي.

# لقمان او د ملګرتیا تله

محمد بن اسحاق[۹۱] وایي لقمان[۹۲] خپل زوی ته وویل:
بچیه چې د چا سره دې ورورلي کوله؛ نو اول یې غوصه کړه، که په غوصه او غضب کې یې درسره انصاف و کړ؛ نو ښه، کنه ځان ترې ساته.

# دوی الله لري

مسلمة بن عبد الملک[۹۳]، عمر بن عبد العزیز ته په هغه مرض کې چې پکې وفات شو، ورغی، او ورته یې وویل:

---

۹۱ - ابو بکر محمد بن اسحاق بن سیار په ۸۵ هجري کال کې په مدینه منوره کې زېږېدلی، هغه لومړنی هغه څوک بلل کیږي، چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سیرت یې لیکلی، او خپل کتاب یې په (سیرة رسول الله) نومولی و، د مصر په اسکندریه، د عراق په کوفه او حیرة ښارونو کې تر ګرځېدو وروسته په بغداد کې میشت شو، هلته یې د عباسي خلیفة ابو جعفر المنصور په رعایت کې ژوند کاوه، او په ۱۵۱ هجري کال کې په بغداد کې وفات شو.

۹۲ - لقمان الحکیم په پخوانیو زمانو کې یو حکیم انسان تیر شوی، په قرآنکریم کې یې یادونه شوې ده، ویل کیږي چې د داود علیه السلام همعصره و، د معلوماتو تر مخې د اوسني سوډان او مصر په کومه برخه کې یې د نیل د سیند پر غاړه ژوند کاوه، په ځینو روایتونو کې د ایوب علیه السلام خوریي یا د ترور زوی بلل شوی دی، له رسول الله په یو روایت کې راغلي چې هغه د لقمان الحکیم ځینو اوصاف بیان کړي، د حکمت نصیحتونه یې مشهور دی، په قرآن کریم کې یو سورت په لقمان یادیږي، الله تعالی د همدې سورت په دولسم او دیارلسم ایت کې فرمایي (وَلَقَدْ آتَيْنَا لُقْمَانَ الْحِكْمَةَ أَنِ اشْكُرْ لِلَّهِ وَمَن يَشْكُرْ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ حَمِيدٌ+وَإِذْ قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ وَهُوَ يَعِظُهُ يَا بُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ).

۹۳ - ابو سعید مسلمة بن عبد الملک بن مروان د اموي دور یو مشهور عسکري قوماندان تېر شوی، پلار یې خلیفة عبد الملک بن مروان و، مسلة په ۶۶ هجري کال کې زېږېدلېد دمشق په ښار کې لوی او زده کړه یې کړې، هغه د خپل پلار، کاکا محمد بن مروان، او ورونو هر یو ولید بن عبد الملک، سلیمان بن عبد الملک، هشام بن عبد الملک، او یزید بن عبد الملک، کاکا د زوی عمر بن عبد العزیز بن مروان په لښکرونو کې د یو عسکر او قوماندان په توګه دنده تر سره کړې، او په لومړي ځل یې د قفقاز په شمال کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیر المؤمنینه! ته خپل اولاد پر خلکو بار پرېږدې، ماته یې وصیت وکړه، زه یې پالللو ته کافي یم؛ ځکه تا ورته څه نه دي پرېښي، او نه دې څه ورکړي دي.
هغه وویل:
ای ابو سعیده! زما د اولاد لپاره هغه الله کافي دی، چې کتاب یې رانازل کړی، او د نیکانو ساتنه خپله کوي.
بیا عمر خپل اولاد راوغوښت، چې ځوارلس هلکان وو، هغوی مبنلې جامې غوستې وې، سترګې یې له اوښکو ډکې شوې، او اولادونو ته یې وویل:
زه تاسې ته له الله د وېرې وصیت کوم، کشر دې د مشر احترام کوي، مشر دې په کشر رحم کوي.
بیا یې مسلمه ته وویل:
ای ابو سعیده! زما اولاد به یو کار خامخا کوي، یا به د الله طاعت او خپل کار کوي؛ نو الله به یې ضایع نه کړي، او یا به په ګناه عمل کوي؛ نو زه نه غواړم چې ته یې په مال مرسته وکړې، پاڅیږئ! نور.
بیا یې رجاء بن حیوة راوغوښت، ورسره یوازې شو، او ورته یې وویل:
ای رجاء! مرګ رانازل شو، زه تا نه یوه غوښتنه کوم، چې له بل چا مې نه ده کړې، که زه مړ شوم؛ نو قبر ته مې ته ښکته کړه، کله دې چې خښتې کېښودې؛ نو یوه خښته پورته کړه، او زما مخ ته وګوره، ما درې سرې په خپل لاس خښ کړي، او د هغوی مخونو ته مې کتلي دي؛ نو چې کتل مې، مخونه یې تور شوي وو، او سترګې یې په مخونو بوتې راوتې وې، زما مخ هم لوڅ کړه، او راته وګوره که همداسې څه دې ولیدل؛ نو په ما پرده واچوه، او چاته مه وایه، او که بل څه وو؛ نو د الله حمد او ثنا ووایه.
رجاء وایي:
ما همداسې وکړل، کله مې چې خښتې برابرې کړې، یوه مې اخر کې راپورته کړه؛ نو مخ یې د څوارلسمې سپوږمۍ په شان ځلېدو.

## الله دې د خپل ځان پر ارزښت پېژندونکي رحم وکړي

عمر بن عبد العزیز ته خبر ورسید، چې یو زوی یې یوه ګوتمه اخستې، غمی یې د زر درهمو قیمت لري، هغه زوی ته ولیکل:
قسم درکوم چې دا ګوتمه خرڅه کړه، په پیسو یې زر غریبانو ته خوراک ورکړه، او ځان ته په یو درهم بله ګوتمه واخله، او په هغې نقش وباسه، الله دې په هغه چا رحم وکړي، چې د ځان ارزښت پېژني.

## درهم

عون بن المعمر وایي، عمر بن عبدالعزیز خپلې مېرمنې ته وویل:

---

خزري قومونو پر ضد د یو لښکر مشري وکړه، دغه راز د رومي او خزري امپراتورۍ، خوارجو او نورو باغیانو پر ضد یې ګڼې جګړې کړې، د مسلمة د ژوند تاریخ له جګړو او فتوحاتو ډک دی، هغه ډېرې سیمې فتح کړې، زیاتې جګړې یې ګټلې، او له اموي خلافت څخه یې دفاع کړې، سربېره پر دې مسلمة یو سیاسي بصیرت څښتن قوماندان و، عسکري پوهه یې زیاته وه، د علماوو سره یې مینه وه، شعر یې خوښېدو، عمراني کارونه یې پر مخ وړي، او د ځینو سیمو مشر او والي هم پاتې شوی دی.په ۱۲۹ هجري کال کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاطمې! يو درهم درسره شته چې انګور پرې واخلم؟
هغې ورته وويل: نه
عمر بيا وپوښتله:
د درهم په اندازه نور څه لرې چې انګور روانيسو؟
هغې وويل:
ته امير المؤمنين يې، نه درهم لرې او نه يې ارزښت، چې انګور پرې واخلې؟
ده وويل: دا ماته د جهنم له ځنځيرونو ډېر اسانه دی.

## دا د اميرالمؤمنين خوراک هم دی

د عمر بن عبدالعزيز غلام ابو امية وايي، يوه ورځ خپلې باداري (د عمر بن عبد العزيز مېرمن) ته ورغلم، هغې راته په غرمه ناري کې دال راکړل، ما ورته وويل:
هره ورځ دال؟
هغې وويل:
بچيه! دا د امير المؤمنين خوراک هم دی.

## بل قميص نه لري

مسلمة بن عبد الملک وايي کله چې عمر بن عبدالعزيز ناروغ شو، چې بيا پکې وفات هم شو، زه يې پوښتنې ته ورغلم، يو خيرن قميص يې اغوستی و، ما فاطمې (يعنی خپلې خور) ته وويل:
ای فاطمې! د امير المؤمنين قميص ومينځه.
هغې وويل ان شاء الله وبه کړم.
بيا سبا ورغلم، قميص په خپل حال و، بيا مې وويل:
ماتاسې ته نه و ويلي، چې د اميرالمؤمنين قميص ومينځئ، چې خلک يې پوښتنې ته راځي؟
هغې وويل:
والله له دې پرته بل قميص لري نه، چې دا ترې وباسو او بل ورواغوندو او دا ومينځو.

## وينه يې باطله کړه

يونس بن ابی اسحاق[۹۴] له خپل پلار او هغه له عبدالله بن معقل[۹۵] نه روايت کوي وايي:

---

۹۴ - يونس بن ابي اسحاق د حديثو عالم، پلار يې ابو اسحق السبيعي هم د حديثو د علماوو په پنځمه طبقه کې حسابيږي او تابعي و، ورور يې او تره يې هم ستر عالمان تير شوي، او زوی يې هم د حديثو عالم و، د عراق د کوفې د ښار دی، په ۱۰۰ هجري کې زېږېدلی، ګڼو علماوو ترې د حديثو روايت کړی، ۱۵۹ هجري کې وفات شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابن ام مکتوم[۹۶] په مدینه منوره کې یوې یهودۍ ته ورغی، چې ملګرتیا یې هم ورسره وه، خو د نبی علیه السلام باره کې به یې ورته زیان رسولو؛ نو هغه یې ونیوله، ویې وهله، او ویې وژله، او موضوع رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسېده، هلته ابن ام مکتوم وویل:

والله، که څه هم زما سره یې ملګرتیا وه؛ خو هغې ماته د الله او رسول په اړه زیان ورسولو.

رسول الله وفرمایل:

هغې خپله وینه باطله کړه. او کما قال علیه السلام

## بې ګټې پوښتنې مه کوئ

مزني[۹۷] وایي له ځانه سره مې وویل:

یوازینی هغه څوک امام شافعي دی، چې د توحید په اړه زما په زړه او دماغ کې شته پټې خبرې چې ذهن مې پرې مشغول دی، زما له ذهنه ویستلی شي، هغه ته ورغلم، هغه دا مهال د مصر په یو مسجد کې و، کله چې د هغه مخې ته ولاړم، ورته مې وویل:

زړه کې مې د توحید په اړه پټې خبرې دي، پوهېږم چې بل څوک ستا په شان علم نه لري؛ نو ته پکې څه وایې؟

هغه غوسه شو او بیا یې وویل:

ته پوهېږې ته چرته یې ؟

ما وویل هو

هغه وویل:

دا هغه ځای دی چې الله پکې فرعون غرق کړی دی، ایا ته له داسې څه خبر شوی یې چې رسول الله د دې موضوع په اړه د سوال کولو امر کړی؟

ما وویل: نه

بیا یې وویل: صحابه و پکې خبرې کړي؟

ما وویل: نه

---

[۹۵] - عبد الله بن معقل بن مقرن المزني، د کوفې او یا هم د بصرې د ښار اوسیدونکی او د حدیثو راوي دی، تابعي و، او ثقه بلل کیږي، له علي او ابن مسعود رضی الله عنهما او نورو صحابه کرامو یې د حدیثو روایت کړی، ورور یې عبد الرحمن بن معقل بن مقرن هم د حدیثو راوي و، په ۸۸ هجري کې وفات شوی.

[۹۶] - عبد الله ابن ام مکتوم صحابي دي، د رسول الله د مېرمنې خدیجة الکبری د ماما زوی و، عبد الله ابن ام مکتوم په سترګو ړوند و، مدینې ته هغه دویم مهاجر دی، نوموړی د رسول الله مؤذن هم و، هغه سره له دې چې په سترګو ړوند و، رسول الله په په خپل ځای په مدینه منوره کې د نایب په توګه هم ټاکلو او ویل کیږي، دیارلس ځله یې خپل نایب ټاکلی، چې رسول الله به په غزواتو کې وتلی و، د قرأن کریم سورت عبس د نزول یو سبب هم همدا ړوند صحابي دی، عبد الله ابن ام مکتوم د جهاد زیات شوقي و، چې د قادسیه په معرکه کې یې دا شوق پوره شو (دغه غزا د مسلمانانو او فارسیانو ترمنځ په ۱۵ هجري کې شوې وه) ابن ام مکتوم په دې غزا کې د مسلمانانو بیرغ په لاس کې نیولی و، او د جګړې په ډګر کې په شهادت ورسېد.

[۹۷] - اسماعیل بن یحی المزني زاهد او مجتهد عالم و، د مصر اوسیدونکی و، شافعي مذهبی و، د هغه په هکله د امام شافعي زیات اقوال منقول دی، په یو قول کې راځي امام شافعي ویلي چې که شیطان هم د مزني سره مناظره وکړه نو شیطان به ملامته کړي، په ۱۷۵ هجري کې زېږېدلی، او په ۲۶۴ هجري کې په مصر کې وفات شوی دی، هغه د یو شمیر کتابونو مصنف هم دی، چې مشهور یې شرح السنة للمزني دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيا يې وويل: ته پوهېږې اسمان کې څو ستوري دي؟
ما وويل: نه
بيا يې وويل: د يو ستوري جنس، راختل، پرېوتل، او دا چې له څه شي جوړ شوی، دا معلومات لرې؟
ما وويل: نه
بيا يې وويل نو دا خو مخلوق دی، او ته يې وينې هم؛ خو پېژنې يې نه، او بيا د دې ټولو د خالق په اړه خبرې کوې؟
بيا يې له ما په اوداسه کې يوه پوښتنه وکړه، زه په ځواب کې تېروتم، نو دا موضوع يې په څلور ډوله تشريح کړه، زه يې په يو ډول هم پوه نه شوم، بيا شافعي وويل:
داسې څه چې ته ورته په ورځ کې پنځه ځلې محتاج يې، د دې علم پرېږدې، او د خالق په علم کې خبرې کوې؟
چې په زړه او دماغ کې دې د اسې څه راغلل؛ نو الله ته رجوع وکړه، او د الله دې قول ته پام وکړه چې فرمايي:
﴿وَإِلَـهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لاَّ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَاخْتِلاَفِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِي تَجْرِي فِي الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَا أَنزَلَ اللّهُ مِنَ السَّمَاءِ مِن مَّاءٍ فَأَحْيَا بِهِ الأرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيَاحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخِّرِ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ لآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾
نو خالق ته د مخلوق له لارې ځان ورسوه، او د هغه علم پسې مه ګرځه چې عقل دې پرې نه رسيږي.
دا يې راته وويل او ما توبه وکړه.

## پر پوښتنه پوهېدل

نافع[٩٨] وايي، يو سړي له ابن عمر[٩٩] نه د يوې مسئلې پوښتنه وکړه، هغه سر ښکته کړ، ځواب يې ونه وايه، تر دې چې خلکو فکر وکړ، چې هغه پوښتنه نه ده اورېدلې.
پوښتونکي وويل:
الله دې درباندې رحم وکړي، زما پوښتنه دې وانه اورېده؟
ابن عمر ځواب ورکړ:

٩٨ - ابو عبدالله نافع مولی عبدالله بن عمر، د مدينې منورې اوسيدونکی تابعي دی، نوموړی په يوه غزا کې بندي، او د ابن عمر په حصه ورسېد، له همدې کبله د مولی عبدالله بن عمر په نوم پېژندل کيږي، د ابن عمر سره کوچنی رالوی شوی دی، د فقهې لوی عالم و، احاديث ترې روايت شوي، امام مالک بن انس له هغه بيا روايت کړی دی، د حديثو په اسنادو کې امام بخاري مالک عن نافع عن ابن عمر تر ټولو صحيح سندونه بولي، د عمر بن عبد العزيز د خلافت پر مهال نوموړی د يمن د صدقاتو مسئول ټاکلی و، او بيا يې مصر ته استولی و چې خلکو ته زده کړه ورکړي، په ١١٧هجري کې وفات شوی دی.
٩٩ - عبد الله بن عمر بن الخطاب صحابي دی، له ماشومانو صحابه و شمېرل کيږي، پلار يې عمر بن الخطاب دوهم راشد خليفه و، له رسول الله صلی الله عليه وسلم يې زيات احاديث روايت کړي، له هجرت څخه ١٠ کاله دمخه په مکه مکرمه کې زېږېدلی، په کوچنی والي کې د پلار سره يو ځای مسلمان شوی، او د پلار سره يې يو ځای مدينې منورې ته هجرت هم کړی، د کوچنيوالي له کبله رسول الله د بدر او احد په غزواتو کې د شرکت اجازه ورنه کړه، او د خندق په غزا کې شريک و، د رسول الله په ژوند او د هغه له وفات وروسته بيا په ډېرو غزواتو کې لکه د شام، عراق، فارس، مصر، افريقا، نهاوند او اذربايجان د فتحې په جنګونو کې هم شريک شوی دی، د علي او معاويه رضی الله عنهما د اختلاف پر مهال بې طرفه پاتې شو، په ٧٤ هجري کال کې په مکه مکرمه کې وفات شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې نه؛ خو تاسې فکر کوئ، لکه چې الله له موږ د هغه څه پوښتنه نه کوي، چې تاسې يې پوښتئ، موږ پرېږدئ، چې ستا په پوښتنه ځان پوه کړو، بيا که ځواب مو درلود ؛ نو ښه کنه؛ نو درته به ووايو چې نه پوهېږو.

## حاضر ځوابي

جاحظ وايي په خرې سپور په لاره روان وم، دوه ښځې هم روانې وې، د هغوی سره په څنګ کې د تېرېدو پر مهال خرې باد خوشې کړل.

يوې بلې ته وويل:

وی، د شيخ خرې خو باد وويستل.

دې خبرې زور راکړ، او غصه شوم، لږ کرار شوم، او ورته مې وويل:

زه چې کله هم په ښځينه ذات بار شوی يم؛ نو خامخا يې تيزونه اچولي.

جاحظ وايي زما له خبرې سره سم، هغې ښځې د دې بلې له اوږې ټپ پورته کړ او ويې ويل:

ملګرې د ده مور خو به هم له ده نهه مياشتې سخته په تکليف وه.

## د مېرمنو طواف

امام بيهقي[۱۰۰] له منبوذ بن ابو سليمان څخه او هغه له خپلې مور روايت کوي، چې د حضرت عايشې رضی الله عنها سره يوه ورځ ناسته وه، د هغې يوه وينځه راغله او ورته يې وويل:

ای ام المؤمنين! له بيت الله مې اوه طوافه وکړل، حجرت اسود مې دوه يا درې ځلې لمس کړ.

هغې ورته وفرمايل:

الله دې اجر نه درکوي، الله دې اجر نه درکوي، نارينه تيله راتيله کوې، ولې دې تکبير نه وايه او تېرېدې نه؟

## قبوله شوې توبه

ابو نُجيد عمران بن الحصين الخزاعي رضی الله عنه وايي، د جهينة د قبيلې يوه ښځه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغله، له زنا حامله شوې وه، ويې ويل:

ای د الله رسوله! پر ما حد لازم شوی، پر ما يې جاري کړه.

رسول الله د هغې ولي (سرپرست او مشر) را وغوښت، او ورته يې ويل:

---

۱۰۰ - احمد بن الحسين بن علي بن موسی الخراساني چې په امام البيهقي مشهور دی، د حديثو لوی عالم دی، په **۳۸۴** هجري کې په بيهق کې زېږېدلی، (د بيهق اوسنی نوم سبزوار دی، دا د اوسني ايران د خراسان ولايت اړوند ښار دی) د امام شافعي له فقهي متأثر و، د ګڼو کتابونو ليکوال دی، مشهور يې سنن البيهقي دی، چې احاديث پکې راټول شوي دي، دا دوه کتابونو مجموعه ده چې په سنن الصغری او سنن الکبری نومول شوي، په الکبری کې له شل زرو زيات احاديث دي، خو صغری يې بيا د کبری لنډيز ګڼل کيږي، چې نږدې څلور نيم زره احاديث پکې راټول شوي، امام البيهقي په **۴۵۸** هجري کال کې وفات شوی، په نيسابور کې وفات شوی و، خو جسد يې د بيهق خسروجرد سيمې ته يوړل شو، خسروجرد د امام بيهقي د پلرني وطن بيهق (سبزوار) اړوند سيمه ده، او هلته دفن کړای شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې ښه پالنه او پاملرنه وکړه، او چې اولاد یې وزیږېد، ماته یې راوله.
هغه همداسې وکړل، او بیا چې راوستل شوه، رسول الله د ستر لپاره د هغې د بدن پورې د هغې د جامو د تړلو امر وکړ، او بیا یې د سنگسار امر وکړ، وورسته یې په هغې د جنازې لمونځ هم اداء کړ.
عمر ورته وویل:
ای د الله رسوله! ته پر دې هم لمونځ کوې، او هغې زنا کړې؟
رسول الله وفرمایل:
هغې داسې توبه وکړه، که د مدینې په اویا تنو ووېشل شي؛ نو هم به ورته ورسیږي، ایا تا له دې غوره لیدلې چې خپله یې ځان الله ته وسپاره.
دا حدیث مسلم روایت کړی.[۱۰۱]

## الله وژلی بدله نه لري

امام عبد الرزاق[۱۰۲] له عبید بن عمیر[۱۰۳] څخه روایت کوي وایي:
د هذیل قبیلې سره یو سړی میلمه شو، میلمه د دې قبیلې یوه نجلۍ ولیده چې لرگي یې ټولول، خوښه یې شوه او ورپسې شو، له هغې یې د بدکارۍ غوښتنه وکړه؛ خو نجلۍ انکار وکړ، سړي ورسره لاس واچاوه او سره ونښتل، له شیبه پهلوانۍ وروسته ښځه ترې خوشې شوه او سړی یې په ډبره وویشت، او مړ شو.
نجلۍ خپلې کورنۍ ته خبر ورکړ، هغوی عمر رضی الله عنه ته ورغلل او په موضوع یې خبر کړ، عمر د پېښې ځای ته پلټونکي واستول او د خلکو خبره رښتیا ثابته شوه، عمر وویل:
دا الله وژلی، او هیڅ بدله یې نه شته.
او په دې توگه نجلۍ د خپل ناموس ساتنې په خاطر د قتل له کبله قصاص نه شوه.

پای

---

[۱۰۱] - له دې حدیثه پند اخستلای شو، چې باید یو توبه کوونکي ته بد ونه ویل شي، شرعي حدود بنده پاکوي، علماوو د دې حدیث د روایت پر مهال د سنگسار شوې ښځې سره د (رضی الله عنها) الفاظ هم لیکي، او ورته په صحابیت قایل دي.
[۱۰۲] - امام عبد الرزاق بن همام الصنعاني د یمن د صنعاء په ښار کې په کال ۱۲۶ هجري کې زیږېدلی، د قرأن مفسر و، کتاب یې په تفسیر القرأن للصنعاني مشهور دی، او په احادیثو کې یې کتاب په الجامع الکبیر پېژندل کیږي، د الأمالي نوم یو بل کتاب هم د نوموړي تصنیف دی، ویل کیږي اولس زره احادیث یې یاد و، د یمن په محدث یې شهرت موندلی و، د اهل سنت و الجماعت امام احمد بن حنبل ترې زده کړه کړې وه، په ۲۱۱ هجري کې وفات شوی، او د صنعاء ښار د دار الحدید په سیمه کې دفن دی.
[۱۰۳] - ابو عاصم عبید ابن عمیر اللیثي د رسول الله په ژوند کې زیږېدلی، پلار یې عمیر بن قتادة صحابی و، او عبید تابعي دی، د حضرت عمر بن الخطاب د خلافت پر مهال به یې په مکه مکرمه کې خلکو ته وعظ کاوه، د هغه درس ته به عبد الله بن عمر هم کیناستو، حدیث یې له خپل پلار، عمر بن الخطاب، علی بن ابی طالب، ابو ذر الغفاري، حضرت عایشة او نورو صحابه کرامو څخه روایت کړي، او له ده بیا د وخت سترو علماوو د احادیثو روایت کړی، نوموړی، په ۷۳ هجري کې وفات شوی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**